Made with Xodo PDF Reader and Editor

# ټولنيزي رسنۍ

# او

# داسلامي أمت ځوانان





مؤلف: مولوي مجيب الرحمن ابن تراب ترابي

١٤٤٧

آنلاین خپرندویه : ټولنه رحماني کتابتون

Made with Xodo PDF Reader and Editor

پیسي خو هسې یو رواج دی د ثواب پکې څه نشته
زما په جنازه کې دې تقسیم شي کتابونه

بسم الله الرحمن الرحیم


# رحماني کتابتون

د ځوانانو د ذهنونو روزنتون .!

📌 یادونه : په ټلیګرام کې رحماني کتابتون په سرچ
سره هم پیدا کولای شئ که ئې په انګلسي سرچ
کړئ یا هم پښتو ملګرو .!

Rahmani library
رحماني کتابتون

Made with Xodo PDF Reader and Editor

# ټولنیزې رسنۍ او د اسلامي امت ځوانان

مؤلف مولوي مجیب الرحمن ابن تراب الترابي

Made with Xodo PDF Reader and Editor

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# کتاب پېژندنه


**نوم:** ټولنيزې رسنۍ او د اسلامي امت ځوانان

**مـؤلـف :** مولوي مجيب الرحمن ابن تراب الترابي

**نظر ثاني:** شيخ القرآن والحديث عبدالمعيد ابوالجراد

**اړیکه :** ۰۷۹۲۴۹۶۰۶۵ـ ۰۷۰۸۵۱۴۴۰۱

**چاپ کال:** ۱۴۴۷ هـ ق/ ۱۴۰۴ هـ ش/ ۲۰۲۶ ميلادي

**چاپ شمېر:** (۱۰۰۰) زر ټوکه

**چاپ وار:** لومړی

**کمپوزاو ډیزاین:** مـؤلـف

**د ترلاسه کولو پتې:**


**د کتاب د چاپ حقوق له مؤلف سره خوندي دي.**

Made with Xodo PDF Reader and Editor

## ډالۍ...

لومړی : خپل ګران پلار جان، ګرانې مورجانې او مشر ورور ته!

چې زما په روزنه او پالنه کې یې ډېر کوښښونه کړي او تل یې زما د

کامیابۍ لپاره نه ستړي کېدونکي هلې ځلې کړي دي.

دوهم : هغوځوانانو ته چې،تراوسه له غرب سره په نظامي او فکري

جګړه اخته اودهغوی پلانونه یې له ماتې سره مخ کړي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor

## اعتذار د محترمو لوستونکو څخه

محترمو مسلمانانو ورونو! ما چې دا کتاب تاسو ته وړاندې کړ، دا عذر درته بیانوم چې کوم ځای زه غلط شوی وم، یا په کتاب کې کومه املایي غلطي راغلې وي او یا بله سهوه راغلې وي، نو تاسو انتقاد او رد مه کوئ، بلکې ددې په نظر ورته وګورئ چې د انسان څخه خامخا غلطي کېدای شي، انسان عاجز دی او دنه خطایي اوسهوي اعجاز خو یو تر قرآنکریم پورې خاص دی چې په هغه کې نه غلطي شته او نه خطاء. که کوم ځای کې زه غلط شوی وم، د هغه معافي راته وکړئ.

وهذا ما فی فکري السقیم
وفوق کل ذي علم علیم

ابن تراب ترابي

Made with Xodo PDF Reader and Editor

# فهرست


سریزه............................................................... 1

ولې مې ددې کتاب د لیکلو ضرورت احساس کړ؟................................ 3

د موضوع اهمیت....................................................... 4

موخه................................................................. 5

د لیکوال پیغام ........................................................ 6

## لومړی فصل

د اسلامي أمت مخکیني ځوانان  او د اسلامي أمت د ځوانانو اوسنی حال...... 8

ګرانه ځوانه...........................................................11

## دوهم فصل

اسلامي أمت دغسي ځوانانو ته اړتیا لري..........................................20

لومړی: د اسلام د دوستانو او دښمنانو پېژندنه..................................20

دوهم: د دښمنانو د ستراتیژیو او اهدافو درک کول.............................21

دریيم: د ځان ساتنه او د دښمن د کړنلارې افشا کول ..........................22

څلورم: نه مایوسي او نه غرور ................................................23

د شیخ القران والحدیث مفکر العصر العلامه عبدالحمید (حماسي) لیکنه.......24

Made with Xodo PDF Reader and Editor

# دریم فصل

سوشل میډیا څه ده؟ تاریخ، انواع اوکاروني............ 26
تاریخ............ 27
انواع (ډولونه)............ 27
سوشل میډیا څنګه کار کوي؟ ............ 28
د انسان ژوند ته يې لاسرسی............ 28
اسلامي ليد لوري............ 28
د سوشل میډیا کاروني اجمالاً ............ 29
د سوشل میډیا اثرات............ 30
عصري تحليل ............ 38

# څلورم فصل

د اسلام په خپراوي کې د رسنیو ونډه ............ 39
د رسنیو اهمیت په نن عصر کې............ 39
حاصل دا شو: ............ 41
قرآن کریم د رسنیو یوه لویه قاعده ذکر کوي ............ 42
د اسلام رسول انسانانو ته فرض دي ............ 43
د افغانستان په تاریخ کې د رسنیو لومړی مؤسس سید جمال الدین افغان رحمه الله ده: ............ 43
د شمس النهار په یوه ګڼه کې............ 44
د اسلامي امت له مشرانو، او د جهادي غورځنګونو مخکښانو څخه غوښتنه: 45

# پنځم فصل

د سوشل میډیا مثبتې اغېزې او ګټې **Error! Bookmark not defined.**

Made with Xodo PDF Reader and Editor

۱- د معلوماتو چټک لاسرسی ........................................................47
۲- د اړیکو او نښلونې وسایل........................................................47
۳- د ښوونيز او تبليغاتي فعاليتونو پراختيا ........................................48
۴- د بې وزلو مظلومو خلکو سره مرسته!..........................................51
۵- د مسائلو پر وخت خبرتيا او پوهاوی ...........................................53
۶- دعوت او اصلاح...................................................................55
۷- اقتصادي ګټه او حلال تجارت...................................................57
۹- د اسلامي امت د غږ پورته کول..................................................59
۹- ځوانانو ته تشويق...................................................................61
۱۰- د کفر، الحاد مقابله او د ځوانانو فکري ساتنه ..............................63

# شپږم فصل

د سوشل میډیا منفي اغیزې، فکري، اخلاقي او ټولنیزې ستـونزې........66
۱- د سوشل میډیا منفي اغېزې پر فکر او ذهني سکون.........................66
۲- د سوشل میډیا له لارې د ځوانانو پر اخلاقي فساد ..........................69
اغېزې ....................................................................................69
۳- د وخت ضايع کول..................................................................71
۴- د سوشل میډیا له لارې عقیدوي کمزوري او د ديني بې‌خبرې ............71
۵- د سوشل میډیا له امله د عباداتو نه پاتې کېدل.................................73
۶- د سوشل میډیا له لارې د حيا له منځه تلل.......................................76

# اووم فصل

د اسلامي أمت اوسنی حالت او د شاته پاتې کېدو عوامل........................81
موږ مسلمانان ولې شاته پاتې یو!؟..................................................82

Made with Xodo PDF Reader and Editor

## اتم فصل

ولې اسلامي امت په سوشل میډیا کې شاته پاتې دی؟ ........................91
لومړی- د فکري لید کمزوري ..................................................91
دوهم- د علمي او مسلکي مهارت نشتوالی.......................................92
درېیم- د اختلافاتو زیاتوالی.....................................................92
څلورم- د پلان د جوړولو نشتوالی..............................................94
پنځم- د ژبې او نړیوال مخاطب نه پېژندنه.....................................95
شپږم- د منفي تصویر خپرېدل ..................................................95
اووم- د ځانکم ګڼنې رواني ناروغي.............................................95
ګرانو ځوانانو:......................................................................96
ځوانانو:..............................................................................97

## نهم فصل

اسلامي امت څنګه په سوشل میډیا کې پرمختګ کولی شي؟...............98
شپږم- داسلامي رسنیو ملاتړ وکړئ..........................................100
اووم- دمنفي تبلیغاتو په وړاندې مقاومت ...................................100
اتم- قرآن او سنتو ته رجوع وکړئ...........................................101
ای د مسلمه امت ځوانه!........................................................101
خو افسوس د نن زمانې په ځوانانو ..........................................103

## لسم فصل

په سوشل میډیا کې د پرمختګ لارې چارې په شرعي چوکات کې......105
د اسلام اصولو ته ژمنتیا.........................................................105
د صداقت او رښتینولۍ مراعت .................................................106

Made with Xodo PDF Reader and Editor

داخلاقي حدودو مراعت او نامناسب محتوا نه خپرول....................107
مثبتې او ګټورې خبرې خپرول...........................................107
د وخت او انرژۍ ښه مدیرت...............................................108
د حریم رعایت او د شخصي معلوماتو خوندي ساتل......................108
د تعصب او کرکې مخنیوی..................................................109
د علم او مهارت زده کړه...................................................109
د توازن او اعتدال رامنځته کېدل.........................................110

## یوولسم فصل

د اسلامی امت ستونزي او د ځوانانو مسؤولیت ...............................111
د رهبریت ذهنیت په هر اړخیزه توګه له منځه تللی:.........................112
مسلمانان د خپل دین نه نا خبره دي:.........................................112
د دې امت مسؤولیت: .............................................................113
دا امت اوس مهال سخت رنځور دی: .........................................113
د یووالي نشتوالی:...............................................................114
له پیغمبر څخه یې باید زده کړو: .............................................115
له صحابه کرامو یې باید زده کړو:.............................................115
لااله الاالله ملتونو ته د تغیر پیغام راوړی: ....................................116
ځوانان دي چې امتونه له ډوبیدو ژغوري:.......................................116
تغیر ځوان احساس ته اړتیا لري:...............................................117
د تغیر تمه له متحرکو ځوانانو څخه کیږي:.....................................118
اوس نو له کومه ځایه پیل وکړو: ..............................................118

Made with Xodo PDF Reader and Editor

## دوولسم فصل

اسلامي بدیلونه او پرمختګ ته د أمت د رسېدو لارې چارې................121
اسلامي رسنۍ د افکارو بدیل...........................................121
اسلامي اقتصاد؛ د ربا، قمار او استثمار بدیل............................122
اسلامي تعلیمي نصاب؛ فکري استعمار ته ځواب..........................123

## دیارلسم فصل

ځوان، ټکنالوژي او د امت د دفاع مسؤلیت ..............................125
ټکنالوژي؛ د کفر وسله که د امت ډال؟ .....................................127

## څوارلسم فصل

سوشل میډیا اوفکري جګړه ...................................................131

## پنځه لسم فصل

ځوانانو ته (22) لاربښوونې....................................................138
۱- په ځان باور ولره..............................................................138
۲- مطالعه وکړه....................................................................140
۳- ځان بوخت کړه له وزګارتیا ډډه وکړه........................................141
۴- همېشه دپاره رښتیا وایه.......................................................142
۵- غصه مه کوه ...................................................................143
۶- خپل اصلیت مه بدلوه!..........................................................144
۷- له مشرانو سره خبرې وکړه.....................................................145
۸- قرآن زده کړه او عملي يې کړه.................................................145
۹- لمونځ د ژوند ستنه ده ..........................................................146

Made with Xodo PDF Reader and Editor


۱۰- علم لکه د اوبو څاڅکي جمع کړه........................................147
۱۱- د تاریخ مطالعه کړه........................................................149
۱۲- ژبه او قلم دې پاک ساته ..................................................150
۱۳- له ذهنه دې د منفي پالو نومونه وباسه ...................................151
۱۴- هغه څه ته مه ګوره چې نه یې لرې ........................................153
۱۵- ځان په خپله خوشحاله کړه (خوشحالي د ژوند ډیوه ده)................154
۱۶- په خلکو سلام واچوه .......................................................154
۱۷- په وړو وړو خبرو پسې مه ګرځه ...........................................155
۱۸- د خبرو هنر زده کړه.......................................................156
۱۹- له بدو خلکو ځان وساته ....................................................157
۲۰- نورو ته ارزښت ورکوه ......................................................157
۲۱- د اسلام او ټولنې خدمت وکړه.............................................159
۲۲- اخرت ته متوجه شه..........................................................160
مأخذونه ..........................................................................162

Made with Xodo PDF Reader and Editor

RAHMANI LIBRARY
رحمــــــاني کتابتون

زما ګرانه وروره او ګرانې خورې ! 💐

منم چې ته د کتاب مینوال / مینواله یې .!
ایا په خپل چاپیریال کې مو ملګري ، کورنۍ ، ګاونډیان هم مطالعه کوي ؟
که مو ځواب هو وې خو ډېر ښه خپل مسؤلیت مو په په سمه توګه ادا کړی
او سل ځله دې در باندې آفرین وي ، خو که دغه کیسه برعکس وي او ستا
ملګري ، کورنۍ ، ګاونډیان او داسې نور ، په مطالعه نوې روږدي نو زما په
نظر ته خود خوا او مجرم یې .!
ځکه چې تا د کتاب لوستلو خوند څکلی ، نو تا باید نور خلک هم د کتاب
له دې نا آشنا خوند سره بلد کړي وای ، نو راشه اوس هم نده نا وخته راشه
اوس یو ځای کتاب لوستلو ته خلک وهڅوو .!
تر څو آینده نسل مو تعلیم یافته او د نړۍ سیال وي .!

د سرلوړې اباد او سوکاله افغانستان په هیله .!

په درنښت | د رحماني کتابتون اداره 📚

د رحماني کتابتون سره د یو ځای کېدو لپاره له انټرنېټ سره وصل شئ ،
او تاسو باید د ټلیګرام اکونټ ولرئ بیا په دغه لاندې [ Join ] بټنه
باندې کلیک وکړئ ، تر څو زمونږ د کتابتون له کورنۍ سره یو ځای شئ .!

JOIN

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## سريزه

الحمدُ للهِ الذي أصلحَ بالهدايةِ القلوب، وربطَ بالإيمانِ بين الشعوب، وجعلَ صلاحَ الأمةِ في صدقِ العقولِ ونقاءِ الأسلوب، نحمده سبحانه حمدًا يليقُ بجلاله، ونستعينه استعانةً من عرفَ فضله وكماله،

**القائلُ في محكمِ تنزيله:**

﴿فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ وَخُذُوهُمْ وَاحْصُرُوهُمْ وَاقْعُدُوا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ﴾،

والصلاةُ والسلامُ على من قال قولًا جامعًا، وأرسى به أساسَ الإصلاحِ دائمًا: «وإنَّ في الجسدِ مضغةً إذا صلحت صلحَ الجسدُ كلُّه، وإذا فسدت فسدَ الجسدُ كلُّه، ألا وهي القلب، وعلى آله وصحبه ومن دعا بدعوته إلى يوم الدين، امابـعــد:

په دغه عصر کې چې ټکنالوژي په چټکۍ سره مخ په وړاندې روانه ده (سوشل میډیا) ټولنیزې اړیکې د نړۍ له پُولو واوښتې، ملتونه یې سره وتړل، خو زړونه یې سره جلا کړل، معلومات یې خپاره کړل، خو شعور یې کم کړ، لاسرسی یې اسان کړ، خو هدفونه یې ګډ وډ کړل، اسلامي أمت چې یو وخت د تمدن، علم، اخلاقو او عدالت مرکز و، نن د شاته پاتې کیدلو له ترخو حقیقتونو سره مخ دی، ځوانان یې د بې هدفو محتواوو ښکار ګرځیدلي دي، کورنۍ یې د فکري یرغل لاندې دي او ټولنه یې د مجازي ژوند تر سیوري لاندې خفه او وارخطاء ده

Made with Xodo PDF Reader and Editor



(سوشل ميډيا) كه سمه ونه كارول شي، نو دا آمت به نور هم وروسته كړي، خو كه دا نعمت د دعوت اصلاح، علم، عمل، پوهاوي او ارتباط لپاره وكارول شي، نو بيا همدا وسايل د بيدارۍ او پرمختګ وسيله ګرځي، همدغو اړتياوو ته په كتو دا كتاب ليكل كيږي چې د اسلامي أمت په دغه ميدان كې د شاته پاتې كيدو عوامل روښانه كړي. (د سوشل ميډيا) د اغيزو واقعي انځور وړاندې كړي او د علم عمل تقوا اصلاح او اسلامي بديل لوري ته يې رهنما شي، دا كتاب هڅه كوي چې اسلامي أمت ته دا پيغام وركړي چې؛

- ✓ له فكري غلامۍ
- ✓ له اخلاقي سقوط
- ✓ له كفري دسيسو

او د (سوشل ميډيا) له ذلت څخه يوازې د الله ﷻد دين شعور، علم، عمل، لارې ته خلاصون ممكن دی. په دې كتاب كې په لومړنيو دوو فصلونو كې څه تاريخي اثار او ځوانانو ته ځينې سپارښتنې هم راوړل شوي دي، ترڅو ځوانان له خپل اهميت او تاريخ نه هم خبر شي، نور له كفري دسيسو خلاص شي او د غفلت له خوبه راپورته شي. خپل دين، اسلام او ټولنې ته خدمت وكړي او اسلامي أمت ته حركت وركړي.

مولوي مجيب الرحمن تُرابي

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ولې مې ددې کتاب د ليکلو ضرورت احساس کړ؟

سوشل ميډيا د معاصرې نړۍ يو نه بيلدونکی حقيقت دی، چې د اړيکو، علمي پرمختګ، تجارت، تعليم او دعوت لپاره يوه پياوړې لاره ګڼل کيږي، خو له بده مرغه؛ د سم شعور نشتون، د وخت بې ځايه ضائع کول، د ځوانانو بې ځايه مشغولتيا، د ناسمو شيانو خپرول، بې حده استعمال او د اخلاقي ارزښتونو سقوط دا وسيله د خير په ځای د شر لوري ته بولي، د اصلاح په ځای يې د فساد لور ته بولي او د انسان اصلي هدف يې پرې هېر کړی.

زه د يو مسلمان ځوان په توګه دا احساس کوم، چې زمونږ زيات شمېر ورونه او خويندې په ځانګړې ډول ځوانان ددې وسلې له بدو اغېزو نه خبر نه دي او بې له کومې لارښوونې يې د ژوند ضياع، اخلاقي زوال او ذهني اضطراب لوري ته روان کړي، د همدې اړتياوو له مخې مې دا کتاب وليکه، ترڅو د سوشل ميډيا مثبت او منفي اړخونه روښانه کړم، د قران او حديثو له رڼا څخه پکې ګټه واخلم، د عُلماوو اقوال او معاصرې څېړنې بيان کړم، ځوان نسل ته يو فکري بصيرت او اخلاقي پوهه ورکړم، ځوانان ديته وهڅوم چې خپل اسلام او ټولنې ته خدمت وکړي او دسوشل ميډيا د سم معتدل او ګټو استعمال لارې چارې معرفي کړم. زه هيله لرم چې دا کتاب به يوې سالمې ټولنې ته فکري بيداري او د با اخلاقو کارونو په روزنه کې مثبت رول ولوبوي او أمت اسلامي ته به يو ارزښتناک فکري خدمت وي:

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## د موضوع اهمیت

په معاصر وخت کې چې ټکنالوژي او معلوماتو ته لاسرسی د انسان د ژوند اساسي برخه ګرځیدلې، سوشل میډیا، لکه فیسبوک، یوټیوپ، ټویټر، ټیک ټاک، انسټاګرام، ټیلګرام، واټساپ او نورو برنامو د خلکو فکري، اجتماعي اقتصادي او حتی دیني ژوند ژور اغیزمن کړی دی.

دا وسائل که له یوه لوري خلکو ته اسانتیاوې، فرصتونه او معلومات وړاندې کوي، له بله پلوه یې د اخلاقو انحطاط، وخت ضیاع، فکري زوال، د أمت تفرقه، د تقلید وبا او د دښمن د فرهنګي یرغل لپاره یې پراخه دروازه خلاصه کړې ده.

د اسلامي أمت شاته پاتې کېدو یوازې اقتصادي، یا تعلیمي ستونزه نه ده، بلکې فکري، عقیدوي او اخلاقي بیدارۍ ته اړتیا ده.

سوشل میډیا اوس د یوې وسلې حیثیت لري یا به پرې اصلاح کوي او یا به پرې فساد، نو د أمت بیدارول، خبرداري ورکول او د نجات لارې ښودل ډېر مهم دي:

Made with Xodo PDF Reader and Editor



# موخه

(1) د اسلامي أمت اوسنی حالت بيانول او د شاته پاتې کېدو عوامل تشريح کول چې يو وخت کې اسلامي أمت په نړۍ واکمني کوله، يو وخت د اسلامي أمت په ټوله دنيا عروج چليده او اوس ولې له مظلوميت او غلاميت سره مخ ده.

(2) ځوانان خپلو مسؤليتونو او مخکيني اسلامي تاريخ ته متوجه کول.

(3) د عُلماوو، والدينو، ښوونکو او د ټولنې د مشرانو مسؤليتونو بيانول.

(4) ځوان نسل ته د شعور، فکر او ديني بيدارۍ پيغام رسول.

(5) د سوشل ميډيا د شرعي او مثبت استعمال لارې ښودل.

(6) اسلامي ټولنې ته د بديل فکري او دعوتي مفکورې وړاندې کول.

بتوفيق الله تعالی

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## د لیکوال پیغام

**اې د اسلامي أمت ځوانه!** ته هغه څوک یې چې یا به دغه أمت له خوبه را ویښ کړې، یا به په خپله خوله په پردو د علم، دین، غیرت او وقار جنازې ته فاتحه وایې.

ته هغه څوک یې چې د اسلامي أمت د ملا تیر بلل کیږې، ته لکه په بدن کې چې زړه اهمیت لري، ته په ټولنه کې همداسې اهمیت لرې، یا به اسلامي أمت ته حرکت ورکوې، یا به نور هم د غفلت خوبونه کوې، ته باید په ځان باور ولرې، ته یو څوک یې، ته کولی شې هر څه وکړې، ته باید له خپل ځان نه نا امیده نه شې، ته له خپل مخکیني تاریخ نه ځان خبر کړه،

ته د مخکینیو اسلامي ځوانانو له حالاتو ځان خبر کړه، سترګې خلاصې کړه، د اسلام دښمن ته ځان په لاس مه ورکوه، خپل مسؤلیت ته دې متوجي شه، د خپلې ټولنې د اصلاح سبب وګرځه، د مظلومانو کومک وکړه، علم ته مخه کړه،

بې ځایه وخت مه ضائع کوه، خپل فکر دې د کفارو له دسیسوڅخه صفا کړه، پاڅه د اسلام دپاره هر رنګه مبارزه پیل کړه، د خپل اسلام دفاع کوونکی جوړ شه!

زه غواړم دا پیغام در ورسوم، چې (سوشل میډیا) دښمن نه دی او نه یې زما ردول مقصد دي، خو که ته دغه عقل، علم او قوت نه لرې چې دا وسیله پرې کنټرول کړې،

Made with Xodo PDF Reader and Editor



نو همدا وسيله به دې له عقيدې، غيرت، وخت، هدف او حتی اخيرت څخه بې برخې کړي، راځه! دا په ښه لاره استعمال کړو او بې ځايه وخت پرې ضائع نه کړو او په ښه طريقه يې وکاروو، ترڅو ګټه ترې واخلو او دين علم پرې نشر کړو.

**اې د اسلامي أمت ځوانه!** دا چې ته ټوله ورځ په موبايل کې فيلمونه، ګيمونه، سازونه، غږوي او نا محرمو شيانو ته پکې ګورې، لمونځ پرې قضاء کوې، عبث وخت پرې ضايع کوې، له ځان ځوانۍ سره ظلم کوې، نو د همدې په ځای ښايسته نشرات پرې وکړه، مطالعه پکې وکړه، خلک اسلام دين ته تشويق کړه، تل پکې د اسلام دفاع وکړه.

له ځان څخه يوداسې څوک جوړ کړه چې ستا په سبب خلک دخېر لورته ، تشويق شي نه د شر لورى ته.

الله عزوجل دې کامياب لره!

Made with Xodo PDF Reader and Editor



# لومړی فصل

## د اسلامي أمت مخکيني ځوانان او د اسلامي أمت د ځوانانو اوسنی حال

مخکې له دې چې (د سوشل ميډيا) په موضوع پيل وکړو، په دې فصل کې مونږ هڅه کړې چې د ځوانانو د ويښتيا دپاره پکې د مخکينيو ځوانانو په اړه ځينې يادونې وکړو، ترڅو ځوانان له هغوی څخه عبرت واخلي، د خپل ځان په اهميت او د خپل مسؤليت په اړه خبر شي، د مخکينيو ځوانانو له کړنو نه خبر شي او نور د غفلت له خوبه راويښ شي.

**ګرانه ځوانه!** نن له ما سره راځه، نن يو چکر ووهو، نن نه بازار ته، نه د کريکټ ميدان ته، نه د فوټبال ميدان ته، نه پارک ته، نه انټرنيټ ته، نه هم بلې لوبې ته؛

بلکې نن يو چکري کتاب لرو، يو تاريخي چکر چې پکې د اسلامي أمت شته او تېر ځوانان پرتله کړو، زه او ته به د تېر وخت له ارمانجنو، بيدارو، مؤمنو او تاريخ جوړوونکوځوانانو سره مخامخ شو.

بيا به خپل اوسنی حال ورسره پرتله کړو، ته به ووينې چې مونږ کله عروج ته رسيدلي وو، ولې مو بيا سقوط وکړ او اوس بياڅنګه راولاړيدای شوو؟

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ګرانــه ځـوانـه! لومړی به لاړشو (۱۴۰۰) مخکې د نبي کريم ﷺ له ملګرو سره ووينو چې هغه څنګه ځوانان ول، څنګه يې د اسلامي أمت خدمت وکړ؟

لومړی ځوان اسامه بن زيد ؓ چې اتلس (۱۸) کلن و، هغه د لويو صحابه وو لکه: ابوبکرصديق ؓ او عمر بن خطاب ؓ په شتون کې د مسلمانانو د لښکر مشري وکړه چې د هغه وخت د ځمکې له سترو لښکرو سره د مقابلې لپاره د اسلامي لښکر قوماندا د أمت روزونکي جناب محمدﷺ له خوا ورکړل شوه او د کفارو يې ښه په ميړانه مقابله وکړه. [1]

دوهم ځـوان سعد بن أبي وقاص ؓ چې اووه لس (۱۷) کلن ځوان و، هغه لومړی کس و چې د الله عزوجلّ د رضـاء دپاره يې غشی وويشت اوخپله تانده جذبه يې دايمي وساتله او د اسلام دپاره يې تر مرګه پورې مبارزه وکړه. [2]

دريــم کس آرقم بن آرقم ؓ  چې شپاړس (۱۶) کلن و، هغه خپل کور پرلپسې ديارلس (۱۳) کاله د رسول الله ﷺ لپاره مرکزي دفتر جوړ کړ.

څلورم کس طلحة بن عبيدالله ؓ  چې شپاړس (۱۶) کلن و، هغه په اسلام کې په عربو کې تر ټولو معزز و، د أحد په جګړه کې يې له رسول الله

---

۱ سيرالأعلام النبلاء ج ۱ ص ۴۹۷-۵۰۱

۲ سيرالأعلام النبلاء ج ۱ ص ۹۸-۱۰۰

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ﷺسره بيعت وکړو، د مرګ په حالت کې يې له کفارو څخه د هغه ساتنه وکړه. [1]

پنځم کس زبير بن عوام ؓ چې پنځلس (15)کلن وه هغه لومړی کس وه چې په اسلام کې يې دالله ﷻ دپاره خپله توره رابښکاره کړه او د رسول اللهﷺ صحابي و او ځوان و. [2]

شپږم کس عمرو بن کلثوم ؓ چې پنځلس (۱۵) کلن و، هغه د تغليب قبيلې سره تړاؤ درلود او په اړه يې ويل شوي، که د اسلام راتګ نه وای د تغليب قوم به يې خوړلی وای. [3]

اووم کس زيد بن ثابت ؓ چې ديارلس (۱۳) کلن و، دی د وحې ليکوال شو، په اووه لسو (۱۷) شپو کې يې سرياني او يهوديت دژبوزده کړه وکړه، د رسول الله ﷺ ترجمان شو، د الله عزوجل کتاب يې حفظ کړ او د قرانکريم په تاليف کې يې ونډه واخيسته. [4]

راځه ځوانه! لږ نور هم ګرځو چې نور څنګه ځوانان تېر شوي، د هغوئ له کارنامو څخه به هم ځان خبر کړو. نو راځه له يو تکړه ځوان نه به خبر شو، محمد بن قاسم (رح) چې اووه لس (۱۷) کلن و، هغه د سيند سيمه فتحه کړه او د خپل وخت له يو لوړ پوړو مشرانو څخه و. [5]

---

۱ سيرالأعلام النبلاء ج ۲ ص ۴۷۹-۴۸۱

۲ قصه های اسلامي وتکه هی اسلامي ج ۱ ص ۲

۳ نشوة الطرب في تاريخ جاهلية العرب ص ۶۴۶ : الأعلام ج ۵ ص ۸۴ وهکذا فی معجم الشعراء العرب ص ۱۸۲۱

۴ سيرالأعلام النبلاء ج ۲ ص ۴۲۶-۴۳۵

۵ فتوح البلدان ص ۴۱۶

Made with Xodo PDF Reader and Editor



له يو بل ځوان سره به هم وپېژنو، عبدالرحمن ناصر (رح) چې يو ويشت (۲۱) کلن و، د هغه دوره د اندلس د واکمنۍ طلائي دوره وه، چې په ترس کې يې ناورين له منځه يوړل شو او بې ساري ساينسي بيارغونه يې ترسره کړه. [۱]

**ګرانه ځوانه!** چکر ته به ادامه ورکوو، خو دلته به لږه دمه وکړو، چې چکر مو پرې را وواهه، له چا سره مو چې وپېژندل هغه هم ځوانان ول، زه او ته هم ځوانان يو، له هغوی سره به اوسني ځوانان پرتله کړو.

ګرانه ځوانه! دا هم هغه آتلان ول چې د اسلام دين ساتونکي ول، زما او ستا په شان ول، خو لکه زه او ته ويده نه ول،

د کفر غلامان نه ول، د کفر دسيسو ته يې ځان په لاس نه ورکاوه او نه يې ورکړی و.

هغه يو ځوان چې نوم يې زيد بن ثابت ؓ و او عمر يې ديارلس (۱۳) کاله و او د وحې ليکوال شو، هغه ويښ ځوان و، له هغه سره د اسلامي أمت غم و، راشه اوس زمونږ ځوان ته!

هغه د اسلام مخکيني ويښ ځوانان، چې هغوی به په ديارلس (۱۳) او څوارلس (۱۴) کلنيو کې په خپلو لاسونو او ګوتو د اسلام دين او د کفر مبارزې ته پرې قلم پورته کاوه.

۱ البدء والتاريخ للقدسي ج ۱ ص ۱۷۱

Made with Xodo PDF Reader and Editor



راشه نن زمونږ ځوانانو ته په ديارلس (۱۳) او څوارلس (۱۴) کلنيو کې هغه لاسونو او ګوتو چې په هغو به د اسلام خدمت او د کفر مبارزې ته قلم پورته کيده، نن د ديارلس (۱۳) کلن او څوارلس (۱۴) کلن ځوان په هغو لاسو په هغو ګوتو سګريټ پورته کيږي،

افسوس! په هغو لاسونو او ګوتو کې لږو او همداسې نور نا روا شيان مخې ته وړل کيږي. د کفر په دسيسو کې مبتلاء دي، فکر يې د کفر غلام ګرځيدلی دی، يو ړوند کفر غلام شخصيت ترېنه جوړ شوی دی او خپل مسؤليت د اسلام دين ترېنه هېر شوی دی، له يو بل ځوان سره مو هم وليدل، چې نـوم يــې سعد بن آبي وقاص ؓ و، هغه په اووه لس (۱۷) کلنۍ کې لومړی غشی د اسلام لپاره وويشت او اوس زمونږ اووه لس (۱۷) کلن ځوان ته راشه چې دی په اووه لس کلنۍ کې لومړی بال کوي،

په اووه لس (۱۷) کلنۍ کې لومړی ګول وهي او داسې نورې استعماري لوبې مخې ته وړي، چې د هغوی په نتيجه کې يې خپل فکر ګډوډ شي، فکر يې ټول لوبو ته شـــي د خپل اسلام دين مينه يې له زړه وتلې وي او ژوند يې د عبثياتو مرکز ګرځولی وي.

هغه ديارلس (۱۳) کلن، پنځلس (۱۵) کلن او شپاړس ( ۱۶) کلن ځوانان چې له هغوی سره به د اسلامي أمت د پرمختګ غم و، د اسلامي أمت مبارزې ته يې ټېر وهلئ و او اسلامي أمت يې عروج ته رسولی

Made with Xodo PDF Reader and Editor



و، د اسلام خدمت لپاره ويښ، ځيرک، بيداره او چالاکه ول. نن زما او ستا حال ته راشه!

ځوانه همدا اوس دا عزم وکړه، په ځای د دې چې زه په دې لاسونو او ګوتو سګريټ بال، بيټ او نور څه پورته کړم، په همدغو لاسونو او ګوتو باندې به د اسلامي أمت د مبارزې لپاره قلم پورته کوم.

د اسلامي أمت د مبارزې لپاره به له کفارو سره هر اړخيزه مقابله کوم د خپل اسلامي أمت د پرمختګ لپاره به نور ويښيږم، زه به نور عمر په عبثياتو نه تېروم نور به نشې نه کوم. نور به بې فايدو لوبو ته خپل قيمتي وخت نه ورکوم، نور به د غفلت خوبونه پرېږدم اسلامي أمت به له کمزورتيا او غلامۍ نه نور د عروج لور ته راولم او اسلامي أمت ته به حرکت ورکوم.

له يو بل ځوان سره مو هم وليدل، چې نوم يې اسامه بن زيد ؓ و، چې په اتلس (١٨) کلنۍ کې يې د مسلمانانو د لوی لښکر مشري وکړه، هغه هم زما او ستا په شان ځوان و، خو له هغه سره د اسلامي أمت د پرمختګ غم و، د اسلام د بري په فکر کې و، عزم يې قوي و، دين ته وفادار و، خو نن زما او ستا حال چې زه او ته د اسلامي أمت د ملا تير بلل کيږو، په ځای د دې چې د مسمانانو د لښکر مشري وکړو، زه او ته چې اتلس (١٨) کلنۍ ته رسيږو، نو هڅه کوو چې د کريکټ د ډلې مشري مخې ته يوسو، يا هم د فوټبال همداسې نورې.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



دا ټول د کفر فريبونه دي، د کفر فکري زندانونه دي چې زه او ته يې پکې بند کړي يو او خپل اصلي هدف د اسلام پرمختګ او عروج يې رانه هېر کړی، خپل تاريخ يې رانه هېر کړی، ولې ما او تا ځان د کفري استعمار ښکار ګرځولی؟ ولې داسې کوو؟

راځه ځوانه! هم دا اوس خپل فکر، د کفارو له فريبونو، دسيسو څخه صفا کړو، همدا نن دا عزم وکړو، چې له نن نه وروسته به زه خپله ځواني چې الله ﷻ پرې زه نازولي يم، بې ځايه نه ضايع کوم. زه يو ځوان يم، زه هر څه کولی شم، زما ځواني يو نعمت دی، دا نعمت له دغه ساعته وروسته ددې په ځای چې پرې عبث کارونه کوم، په دغو لاسونو چې سګريټ پرې راپورته کوم، له نن نه وروسته به په دغو لاسونو قلم را پورته کوم. اسلامي أمت ته به خدمت پرې کوم، اسلامي أمت به د حرکت په لور بيايم،

زما دغه عزم دی زه يو ځوک يم، اسلامي أمت زما انتظار کوي، زه د اسلامي أمت د ملا تير بلل کېږم، زه د ټولنې زړه بلل کيږم، زه هرڅه کولی شم، زه پخپل ځان باور لرم، زه به خپله ټولنه اصلاح کوم، په ځای د دې چې زه لډو يا نورې لوبې وکړم، په هغه وخت کې به زه مطالعه کوم، زه کولی شم چې د مسلمانانو سالار وګرځم، په ځای د دې چې زه دې کريکټ يا نورو لوبو مشري وکړم، زه به د مسمانانو د لښکرو مشري کوم، زه به د مظلومو مسلمانانو مرسته کوم، زه به خپله ټولنه د اصلاح په لوري راولم، زه به د راتلونکي نسل لپاره وياړ

Made with Xodo PDF Reader and Editor



جوړېږم. راځه ګرانه ځوانه! چکر ته ادامه ورکوو، نور هم ګرځو چې مخکې، نور څنګه ځوانان تېر شوي؟ لاړ به شو هغه چاته چې ځوانان ول، ستر فوجي مشران ول، د هغوی له جملې څخه لوی مشر، خالد بن وليد القُريشي العربي ؓ د فارس او روم فاتح و، دا هم ځوان و او د اسلامي أمت يو لوی منار بلل کېده. [1]

ورځو له بل کس نه ځان خبروو چې هغه طارق بن زياد البربري ؒ د اسلام په تاريخ کې تر ټولو مشهور شخص و، چې د اندلس فاتح و او په أمويانو کې ستر شخص بلل کېده. [2]

لړ به نور هم وګرځو! د اسلامي أمت له ځوانانو نه به ځان خبر کړو، چې څنګه ځوانان تېر شوي؟ د هغوی له جملې څخه سلطان صلاح الدين ايوبي (رح) و چې يو ستر آتل او د بيت المقدس فاتح و او د اسلامي نړۍ ازاد کوونکی شخص و. زيات شمېر صليبيان يې د دوزخ کندو ته واستول. [3] او بل ځوان سلطان محمد (رح) د قسطنطنيې، ترکيې او رومانيا فاتح و، د اسلام مبارزې ته لکه غر ولاړ و، آتل قهرمان له ميرانې ډک ځوان و. [4]

١ البداية والنهاية ج ٩ ص ٩٥-١٠٠وهكذا في مرأة الجنان وعبرة اليقظان في معرفة حوادث الزمان ج ٢ ص ٢١۴

٢ الوفيات والأحداث ص ۴٠ وهكذا في فتوح البلدان ص ٢٢٨

٣ صلاح الدين الأيوبي وجهودوه في القضاءعلى الدولة الفاطمية وتحريربيت المقدس

۴ سرزمين اسلام ج ٨ ص ١- ٩

Made with Xodo PDF Reader and Editor



له بل ځوان سره به هم وپيژنو، د مسلمانانو شهزاده يوسف بن تاشفين البربري (رح) ډېر زيات پرهيزګاره، عادل او شهزاده، شخص و. د ستر دولت بنسټ ايښودونکی او د اندلس ژوند يې له ځلورو پيړيو زيات کړ.١

او بل ځوان عقبة بن نافعؓ په شمالي افريقا کې د فتوحاتو اتل و. تر ټولو مشهور غازي و، هغه په ډېره ميړانه او زړورتيا سره مشهور و، د اسلام له ساتونکو څخه يو آتل و. ٢

همدارنګه سعد بن وقاص ؓ يو له هغه لسو(١٠) جنتي صحابهوو څخه و چې په ژوند کې د جنت زيری ورکړل شوی و،په اسلام کې اول غشي ويستونکی وه د قدسيې د سترې جګړې آتل و، چې د فارسيانو ملا يې ور ماته کړه او د لوی فارس امپراطوري يې سقوط کړه. ٣

يو بل تکړه ځوان به هم وپيژنو چې د خوارزم بخاري او سمرقند فاتح قطيبه بن مسلم البهلي العربي (رح) چې د چين تر سرحدونو يې اسلام ورساوه او دا هغه څه و چې د اسلام دين يې تر ټولو ليرې سرحدونو ته ورساوه، همداسې نور... ډېر اتلان تېر شوي.

١ تاريخ الإسلام ووفيات المشاهيروالأعلام ج ١٠ ص ٨٣٢

٢ أسدالغا بة في معرفة الصحابة ج ٣ ص ٥٥٥ وهكذا في الإصابة في تميز الصحابة ج ٥ ص ٥٠-٥٥

٣ معرفة الصحابة لأبي نعيم ج ١ ص ١٢٨ وهكذا في يواقيت العشرية من كلام الخيرالبرية ج ٩ ص ٨

Made with Xodo PDF Reader and Editor



نو ګرانه ځوانه! اې د اسلامي أمت ځوانه! ته د راتلونکي اسلامي أمت د ملا تير يې، فوځـي قوماندان د دين ساتونکی او د اسلامي خاورې له جغرافيه څخه دفاع کوونکی يې، تا خو د اسلامي أمت له ځو تاريخي اتلانو ځوانانو سره پيژندنه وشوه، هغه هم زما او ستا په شان ځوانان ول، هغوی ته له هرڅه مهمه له کفارو سره مقابله وه که هغه جنګي مقابله وه، که فکري مقابله وه، که ټکنالوژي مقابله وه او که هغه علمي مقابله وه. که هر رنګه مقابله وه هغوی اسلام ته عروج ور په برخه کړی و، خو زه او ته اسلام ته ورځ تر بلې د غلاميت جامې ور اغوندو، د کفر له استعمار لاندې راغلي يو، بايد زه او ته له کفر سره په هر څه کې مقابله وکړو، چې له هغو څخه يو(سوشل ميډيا) ده. بايد زه او ته په ميډيا کې د کفر مخه ونيسو، دعوت ته وده پکې ورکړو، لومړی خپل ځان پکې د اسلام مبارز کړو، بيا نور ځوانان دېته تشويق کړو چې د اسلام مبارزه پکې وکړي. د ملحدينو او فاسقانو خولې ور ګونګې کړو، د عُلمـاوو ملاتړ پکې وکړو، اسلامي علمي نشرات پکې زيات کړو او هڅه وکړو چې دا د نړۍ زړه چې ميډيا ده، لاسته راوړو. کفارو ملحدينو ته يې پرينږدو، زه او ته يې هم کولی شو، خلکو ته پکې د اسلام په لوري دعوت ورکړو، د دې نړۍ زړه چې سوشل ميډيا ده دا د فساد لوري ته پرې نږدو، بلکې د اصلاح لوري ته پکې قدم واخلو، ترڅو مسلمانان د فساد په ځای اصلاح شي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



**ګرانه د اسلامي أمت ځوانه!** کله چې د اسلامي أمت ځوانان متحد ول، په ديني او عصري علومو کې يې ځان رسولی و، په هغه وخت کې زمونږ اسلامي خلافت په نړۍ واکمنې کوله، اوس هم لېرې نه ده. نور د غفلت له خوبه را پورته شه، راځه چې بېرته د اسلامي أمت تېر تاريخ، عزت، علميت او عروج را ژوندی کړو. کله چې حضرت عمر فاروق ؓ په مدينه منوره کې خليفه و، په دوويشت (۲۲) هيوادونو يې حکومت وکړ، هيڅ کفري ځواک او طاقت ته يې سر ټيټ نه کړ، په نړۍ يې پاچاهې کوله، په فوج کې يې زيات زمونږ او ستاسې په شان ځوانان ول. هارون رشيد (رح) دآسيا په درېيمه او څلورمه برخه حکومت وکړ او سلطان صلاح الدين ايوبي (رح) صليبيانو ته داسې ماتي ورکړې، چې اسلامي أمت پرې وياړي، بيت المقدس يې آزاد کړ، همدا ستر آرمان يې له کوچنيوالي څخه په زړه کې و، ځوان و، عزم يې ټينګ و او اراده يې پخه وه چې په پايله کې يې (۱۲۷۰۰۰۰) دوولس لکه اويا زره صليبيان ووژل، خو نن بيت المقدس يو بل صلاح الدين ته ضرورت لري، نن بيت المقدس په چيغو سر دی، دومره څوک نشته چې غږ يې واوري. صلاح الدين هغه وخت زه او ته جوړېدای شو، چې اراده مو پخه وي د اسلامي أمت غم او درد را سره وي، له علم سره مو مينه وي، د اسلام برې مو هدف وي، کله به چې مسلمانان له قرطبي څخه بغداد او له هند څخه چين ته تلل، د پُولو سرحد مو نه درلود. راځئ ځوانانو خپل تاريخ بيا را ژوندی کړو، د مسلمانانو

Made with Xodo PDF Reader and Editor



کومک وکړو، هغه څه چې زمونږ د ژوند برخه ګرځېدلې، چې (میډیا) ده، په هغه کې داسې څه وکړو چې مسلمانان د فساد له تور تمونو څخه راوباسو، د اسلام دعوت د علماوو ملاتړ پکې وکړو، دیني او عصري علومو ته مخه کړو، هدف مو د اسلام برى او أمت اسلامي له غلامیت څخه ژغورل وټاکو، په هر علم کې مهارت حاصل کړو او له کفارو سره پرې مقابله وکړو، راځئ د ټولنې د اصلاح سبب وګرځو، د اسلامي أمت اتلان شو، اتحاد او یووالی وکړو، نور له اختلافاتو څخه ډده وکړو، د یو بل ملاتړ وکړو، تعصب له منځه وباسو، د یو جسد په شان زندهګي وکړو، د مظلومانوسره مرسته وکړو او مظلوم مسلمانان له مظلومیت څخه وژغورو.

1447/7/4

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## دوهم فصل

## اسلامي أمت دغسي ځوانانو ته اړتيا لري

په دې فصل کې مونږ هڅه کړې چې د (ځوانانو) اهميت او مسؤليتونه بيان کړو،ترڅو ځوانان له خپلومسؤليتونو څخه خبر شي او ځوانان اسلامي أمت ته بايد څه وکړي؟

د اسلامي امت د بقا، عزت او پرمختګ لپاره ځوانان تر ټولو مهمه طبقه ده. د هر ملت راتلونکی د هغو ځوانانو په لاس کې دی چې د ايمان، علم، اخلاقو او مسئوليت احساس ولري. اسلام هم د ځوانانو روزنې او اصلاح ته ځانګړې پاملرنه کړې ده، ځکه د همدې ځوان په ايماني بصيرت او اخلاص سره امت ژوندی پاتې کېدای شي. نن ورځ اسلامي نړۍ د فکري يرغل، فرهنګي تيت پرک والي او اخلاقي انحراف له خطرونو سره مخ ده، نو ځکه امت ته د داسې ځوانانو اړتيا ده چې هم دښمن وپېژني، هم خپل مسئوليت او هم د خپل دين او امت دفاع وکړي.

**لومړی: د اسلام د دوستانو او دښمنانو پېژندنه**

په اسلامي فکر کې د بصيرت مفهوم ډېر ارزښت لري. هغه ځوان چې غواړي د امت خدمت وکړي، بايد دا درک ولري چې څوک د اسلام رښتيني دوستان دي او څوک يې دښمنان. قرآن کريم مؤمنانو ته د احتياط او دښمن پېژندنې امر کړی دی، چنانچه فرمايي:

Made with Xodo PDF Reader and Editor



يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا خُذُوا حِذْرَكُمْ" (النساء: ٧١)

ژباړه: اې هغه کسانو چې تاسو ایمان لـرئ ونیسئ وسلې خپلې، یعنې اې د ایمان خاوندانو! (د کافرانوپه مقابله کې) پخپله خپل احتیاط لرئ، (یعنې د هغوی د چل دوکو ته هم هوښیار اوسیږئ) او ورسره د جنګ کولو په وخت کې په وسله ډال سره سمبال اوسئ! [١]

هوښیار ځوان د فکري جګړې، رسنیز تبلیغ او د کلتوري یرغل د وسیلو ماهیت پېژني. د اسلام دښمن تل هڅه کوي چې د امت ایماني بنسټونه کمزوري کړي او د مسلمانانو د یووالي روحیه له منځه یوسي، نو ریښتنی ایمان لرونکی ځوان باید دا قدرت ولري چې د حق او باطل ترمنځ توپیر وکړي او د اسلام د ارزښتونو دفاع وکړي.

**دوهم: د دښمنانو د ستراتیژیو او اهدافو درک کول**

دښمن پېژندل یوازې په نوم نه، بلکې په عمل او فهم سره کېږي. مؤمن ځوان باید د نړۍ د سیاسي، اقتصادي او فکري بهیرونو تحلیل وکړای شي. دښمن د امت پر ضد یوازې د جګړې له لارې نه، بلکې د فکري یرغل، اقتصادي استثمار او رسنیز تحریف له لارې هم کار کوي.

د امام ابن قیم رحمه الله خبره ده: [العاقل من عرف الشر لیحذره] هوښیار هغه دی چې شر وپېژني، ترڅو ترې ځان وساتي.

د اسلام مخلص ځوان د دښمن اهداف درک کوي، لکه: د اسلامي هویت له منځه وړل، د عقیدې کمزوري کول او د امت د یووالي ټوټه کول. دا

---

١ معارف القران ج ٣ ص ١٠٩

Made with Xodo PDF Reader and Editor



درک هغه ته دا توان ورکوي چې د دښمن د فريب له وسايلو ځان وساتي او د اسلامي ارزښتونو دفاع وکړي.

**درېيم: د ځان ساتنه او د دښمن د کړنلارې افشا کول**

مؤمن او مسلمان ځوان نه يوازې دا چې خپل ايمان او اخلاق له انحرافه ساتي، بلکې د نورو اصلاح ته هم کار کوي. دا د امر بالمعروف او نهي عن المنكر اصل دی. (الله تعالی فرمايي:)

[كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ، تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ] (آل عمران: ۱۱۰)

**ژباړه:** اې تاسو محمدي امته! تاسو هغه بهتر أمت ياست چې د خلکو د فايدې دپاره پيداشوي ياست، تاسو خلکو ته د نيکيو دعوت ورکوئ، يا هم تاسو امر کوئ په نيکو کارونو باندې او له بديو څخه منع کوئ، يعنې دا ستاسو مسؤليت دی چې خلکو ته په ښو کارونو امر وکړئ او له بدو کارونو څخه يې منع کړی، [1]

نو د اسلامي امت غوره ځوان هغه دی چې د فکري يرغل پر وړاندې چوپ نه وي، د رسنيو د فريب پر ضد د حق غږ پورته کوي او د نورو مسلمانانو ايمان او غيرت بيداروي. دا د دعوت او فکري جهاد يوه برخه ده چې په علم، منطق او حکمت سره د باطل پرده څيرې کوي.

---

۱ الأمربالمعروف والنهي عن المنكر

Made with Xodo PDF Reader and Editor



**ځلورم: نه مايوسي او نه غرور**

مسلمان ځوان د حالاتو له بدلون سره خپل ايمان له لاسه نه ورکوي. که فقر وي، صبر کوي او که قدرت وي، شکر کوي. د ايمان ځواک دا دی چې انسان ته ثبات او تواضع ور ببني. رسول الله ﷺ فرمايي:

[عَجَبًا لأَمْرِ المُؤْمِنِ، إِنَّ أَمْرَهُ كُلَّهُ خَيْرٌ] (رواه مسلم).

يعنې مؤمن په هر حالت کې ګټه کوي. دا صفت د هغه ځوان نښه ده چې بيوزلۍ يې نه مايوسوي او واکمني يې نه مغروروي. د امت د رهبرۍ او اصلاح لپاره همداسې متوازن، هوښيار او متواضع ځوانان ضروري دي. بلاخره: د اسلامي امت راتلونکی د هغو ځوانانو په لاس کې دی چې ايمان، علم، بصيرت او اخلاص ولري. دا ځوانان د امت د عزت او يووالي محور ګرځي. هغوی د دښمن د تبليغاتي او فکري يرغل پر وړاندې د دفاع کرښه جوړوي، د خپل دين د ارزښتونو محافظت کوي او د اسلامي تمدن د بيا را ژوندي کولو اساس ږدي، نو هر مسلمان ځوان بايد د علم، ايمان، اخلاقو او خدمت له لارې ځان د امت د رښتيني خدمت لپاره تيار کړي، ځکه چې اسلامي امت دغسې ځوانانو ته اړتيا لري.اوس هم د صلاح الدين ايوبي غوندې بچيان شته، اوس هم د نورالدين زنګي په پله تلونکي رجال شته، اوس هم د ابودجانه او ضرار غوندې استشهاديان شته او اوس هم د خالد او محمد ابن قاسم غوندې سالاران شته.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## د شيخ القران والحديث مفكر العصر العلامه عبدالحميد (حماسي) ليکنه

اې د اسلامي أمت علماؤو؛ زړه دښمن ته مه ورکوئ!

د رسول الله ﷺ حديث دی، [وإن في الجسد مضغة إذا صلحت صلح الجسد كله، وإذا فسدت فسد الجسد كله. ألا وهي القلب] [١]

چې الله عزوجل په انسان کې يوه ټوټه پيدا کړې، که دا ټوټه الله تعالی صالحه وګرځوله، نو ټول انسان به صالح شي او که دا ټوټه فاسده شي، نو ټول انسان به فاسد شي، دا ټوټه زړه دی، د انسان د بدن اصلاح له زړه سره تړلې ده، که زړه فاسد وي، بدن به هم فاسد وي او که زړه خراب وي، بدن به هم خراب وي.

علماؤو! د ټولنې زړه نن سبا ميډيا ده، ميډيا د ټولنې د زړه حيثيت خپل کړی دی، څکه چې څنګه بدن له زړه سره ژوندی وي، همداسې ټولنه له ميډيا سره ژوند لري، نن ورځ چې موږ ګورو، د انسانانو ژوند تر ډېره د ميډيا پورې تړلی دی، که ميډيا نه وي، په دې عصر کې ژوند نيمګړی ښکاري، نو که چيرې څوک فکر کوي چې دا زړه يعنې ميډيا دې له ټولنې وباسي، دا ناشونی کار دی.

هو! عاقل انسانان هغه دي چې د دې زړه اصلاح ته کار وکړي، د فساد پر ځای يې اصلاح راولي او د داسې فاسدې ميډيا مقابله وکړي، چې د دښمن له خوا پر ملت کار کوي او زړونه فاسدوي. کله چې ميډيا فاسده

---

١ رواه البخاري كتاب الإيمان باب فضل من استبرأ لدينه ج ١ ص ٢٣

Made with Xodo PDF Reader and Editor



شي، ټولنه فاسديږي، د نقصان طرف ته حرکت کوي او موږ دا ورځ تر بلې وينو

چې د فساد خواته روانه ده، خو کله چې موږ د دې ټولنې زړه يعنې ميډيا، بېرته را واخلو او د اصلاح لپاره پرې لږ وخت کار وکړو، نو ټولنه بېرته د اصلاح خواته را وګرځي او د اصلاح لپاره پرې لږ وخت کار وکړو، نو ټولنه بېرته د اصلاح خواته را وګرځي.

علماوو! د الله عزوجل لپاره د ټولنې د زړه يعنې ميډيا لپاره کار وکړئ، د اصلاح هڅه وکړئ، له دې ميډيا څخه ځان شاته کول يا پرېښودل، دښمن بريالی کوي او دا زړه دښمن ته پاتې کيږي. هغوی پر دې زړه کار کوي او دا زړه تر خپل واک لاندې راولي، کله چې ميډيا چې د ټولنې زړه دی، د دښمن تر واک لاندې راشي، هغوی يې فاسده کوي او چې ميډيا فاسده شي، نو ټولنه هم فاسده کيږي.

علماؤو! که بې غورۍ مو وکړه، ميډيا مو دښمن ته ور پريښوده، نو لرې نده چې راتلونکي نسلونه به مو د الحاد او دکفر ښکار شي، بايد هڅه وکړو چې راتلونکی نسل مو وژغورو.

الشيخ عبدالحميد حماسي حفظه الله

Made with Xodo PDF Reader and Editor



# دریم فصل

## سوشل میډیا څه ده؟ تاریخ، انواع اوکارونې

سوشل میډیا یا هم ټولنیزې رسنۍ یا په ساده الفاظو اړیکې یوه عصري بریښنایي وسیله ده، چې د انټرنیټ له لارې خلک له یو بل سره د معلوماتو، احساساتو، افکارو او تجربو له لارې سره شریک او نښلوي، خلک په ډېر سهولت سره یو د بل له حاله پرې خبرېږي. دا ټکنالوژي هغه حیرانوونکې لاسته راوړنه ده چې د نړۍ واټنونه یې را لنډ کړي، د اړیکو اسانتیاوې یې رامنځته کړي او د معلوماتو رسیدګي یې په بې سارې ډول اسانه کړې ده.

په (سوشل میډیا) کې چې شامل دي فیسبوک، ټویټر، ایکس، واټساپ، انسټاګرام، ټیلګرام، یوټیوب، ټېکټاک او نورې ګڼې شبکې. ددې وسایلو له لارې خلک کولی شي پیغامونه ولیږي، عکسونه او ویډیوګانې شریکې کړي، ژوندۍ خپرونې وکړي، علمي- سیاسي او ټولنیز بحثونه پکې وکړي او حتی تجارت دعوت او تعلیمات پکې ترسره کېږي، خو دا پېژندنه یې یوازې ظاهري بڼه ده.

(سوشل میډیا) د وخت یو ځواکمن ذهني او کلتوري میدان دی، دا د انسانانو فکرونه تغذیه کوي، نظریات بدلوي او شخصیتونه جوړوي یا رنګوي، که دا وسیله په درایت، حکمت او اعتدال وکارول شي، نو علم اصلاح او دعوت ته یوه غوره ذریعه ده، خو که دا له هدایت، نیت او حدودو پرته وکارول شي، نو د ګناه، ضیاع، فحشاء او فکري ګډوډۍ

Made with Xodo PDF Reader and Editor



سبب ګرځي، نو (سوشل ميډيا) يوازې يوه وسيله نه ده، بلکې يوه پياوړې مفکوره ده، چې زمونږ د ژوند ټول اړخونه تر اغېز لاندې راوستلی شي.

**تاريخ**

د سوشل ميډيا مفکوره له انټرنيټ د رامنځته کېدو وروسته پېل شوه، خو د ټولنيزې اړيکې او خبر خپرولو ضرورت لاپخوا هم وو. لومړنۍ ټولنيز سايټونه لکه ځينې برنامې يا پليټفارمونه (۲۰۰۰) کلونو په لومړيو کې جوړ شول، وروسته فيسبوک، ټويټر، انسټاګرام، ټيک ټاک او نورو پليټفارمونو د نړۍ وګړي سره يوځای کړل.

په اسلامي تاريخ کې که څه هم انټرنيټ نه و، خو د علم او هدايت د خپرولو وسيلې د ليکنو، خطبو او درسونو په بڼه شتون درلود. اوس سوشل ميډيا د دې لپاره د نوې وسيلې په توګه کارول کېږي.

**انواع (ډولونه)**

سوشل ميډيا څو ډولونه لري:

ټولنيزې شبکې، د خلکو ترمنځ اړيکې، اړيکه ساتل، ملګرتيا

مثال: فيسبوک، انسټاګرام

خبرې او نظر تبادله، خبرونه، نظريات، لنډ پوسټونه

مثال: ټويټر، ريډويټ

مېډيا شريکول، ويډيوګانې، انځورونه، موسيقي

مثال: يوتيوب، ټيک ټاک

Made with Xodo PDF Reader and Editor



خبري او تخصصي پلېټفارمونه:

مثال: واټساپ، ټيلګرام ايمو همداسې نور،.... مختلف ډولونه لري.

**سوشل ميډيا څنګه کار کوي؟**

دا وسايل داسې جوړ شوي چې انسان ته توجه، علاقه او عادت پيدا کړي، د لايک، کمېنټ، شير، کلتور، فالووز، سيالي، ويروسي ويډيوګاني او د شهرت طمع انسان ته ورکوي

**د انسان ژوند ته يې لاسرسی**

هر فرد موبايل لري له (۶) کلن ماشوم تر (۷۰) کلن سپين ږيري پورې يې کاروي. د درس، تجارت، تبليغ، لوبو، پيغام رسولو او شهرت لپاره کاريږي، خو ددغو ټولو تر شا يو مهم سوال دا دی، دا وسايل څنګه کاروو؟

د هدايت لپاره؟ که ده ذلالت لپاره؟

**اسلامي ليد لوري**

اسلام د وسايلو کارول نه منع کوي، بلکې هدف ته ګوري، که کارونه يې د خير وي، دا وسيله د ثواب سبب ده او که کارونه يې د شر وي نو د هلاکت سبب ګرځي. رسول الله ﷺ فرمائي:

[انما الأعمال بالنيات] [1]

ژباړه: عملونه د نيتو پر بنسټ دي، که دې د خير نيت وي الله ﷻ به اجر در کړي او که دې د شر نيت وي، الله ﷻ به دې هلاک کړي.

[1] رواه البخاري كتاب بدء الوحي ج ١ ص ١

Made with Xodo PDF Reader and Editor



خوږه لوستونکيه! سوشل ميډيا يو چاقو دی، که پرې مېوه پرې کړې په کارېږي، که انسان پرې ووهې وژل کېږي. همدا د سوشل ميډيا وسايل که د دين د خپراوي، د علم رسولو، اصلاح، دعوت، تبليغ او خبرتيا لپاره وکاروې نو أمت ته تر ټولو ستر نعمت دی، خو که د بې هدفي، فسق، فحشاء، غفلت، شهرت او شر لپاره يې وکاروې، نو دا وسايل همدا أمت تباه کوي.

نو اې لوستونکيه! ته يو مسلمان يې، هڅه وکړه دا وسايل په داسې طريقه استعمال کړه چې د دين خدمت پکې وکړل شي، ستا دپاره د ثواب ذريعه وګرځي او خلک ستا څخه پند واخلي، په داسې طريقه يې مه استعمالوه چې د اسلامي أمت د لا شاته کيدو او فساد ذريعه وګرځي، تل کوشش دا وکړه چې د خير په لاره يې وکاروې او خپل وخت پرې ضايع نه کړې او اسلام ته پرې خدمت وکړې.

**د سوشل ميډيا کاروني اجمالاً**

**مثبتې کاروني**

- د دين دعوت
- تعليمي محتويات
- کورسونه او ليکچرونه
- د اسلامي أمت دمسايلو خپرول
- د اسلامي أمت دفاع کول
- د کفر الحاد مقابله کول

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ـــ د اسلام د دفاع کوونکو ملاتړ کول

ـــ خلک اسلام ته دعوت کول

ـــ تجارتي او کاري فرصتونه همداسې نور...

**منفي کارونې**

ـــ غیبت، چغلي، فحشاء او دروغ

ـــ د خلکو دا رازونو افشاء

ـــ د وخت ضیاع کول

ـــ د ټوکیانو ملاتړ کول

ـــ ناوړه اخلاق او غیر شرعي اړیکې همداسې نور...

**د سوشل میډیا اثرات**

**الف- په دین کې**

که ناسمه استفاده ترې وشي، انسان له دیني ارزښتونو بې خبره کیږي، یا ګناهونو ته انسان لویږي، کله چې انسان میډیا په ناسمه طریقه سره کاروي، نو کرار کرار واړه واړه ګناهونه ترېنه پکې کیږي، کله چې په وړو ګناهونو کې انسان ډوب شي، نو واړه ګناه ورته ګناه نه ښکاري، بیا ترېنه لوی لوی ګناهونو هم کیږي.

کله چې په ګناهونو کې ډوب شي، نو له مؤمن نه فاجر جوړ شي. کله چې مؤمن داسې حال ته ورسېږي، بیا ګناهونه هیڅ هم نه ورته ښکاري. د نبي کریم ﷺ حدیث دی:

Made with Xodo PDF Reader and Editor



[إن المؤمن يرى ذنوبه كأنه قاعد تحت جبل يخاف أن يقع عليه، وإن الفاجر يرى ذنوبه كذباب مر على أنفه] [١]

ژباړه: بېشکه مؤمن خپل ګناهونه داسېويني، لکه چې د يوه لوی غره لاندې ناست وي او ويرېږي چې هره شيبه به پرې راولوېږي او بېشکه فاجر خپل ګناهونه داسې ويني، لکه يو مچ چې د ده پر پوزه تېر شي.

دا حديث ښيي چې مؤمن د خپلو ګناهونو په اړه ډېر حساس او وېرەناک وي، تل ځان محاسبه کوي او له الله تعالی څخه بښنه غواړي؛ خو ګناهکار (فاجر) خپل ګناهونه واړه او بېاهميته ګڼي او هېڅ پروا ورته نه کوي.

**ب- په اخلاقو کې**

سوشل ميډيا د فحشاء، بې ادبۍ او سپکو خبرو پراخ بازار جوړ کړی که حدود يې ونه ساتل شي، نو مؤمن انسان پکې لاره ورکوي.

**ج- په وخت کې**

دلته د وخت په موضوع لږ تم کيږو، لومړی د وخت اهميت ګرانه لوستونيکه! وخت د انسان تر ټولو قيمتي سرمايه ده. الله سبحانه وتعالی فرمايي: [وَالْعَصْرِ، إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ] (سورة العصر: ١-٢)

١ رواه البخاري كتاب الدعواة باب التوبة ٦٣٠٨

Made with Xodo PDF Reader and Editor



يعنې: قسم دی په وخت، بېشکه انسان په زيان کې دی، مګر هغه ځوک چې ايمان، ښه عمل او يو بل ته نصيحت وکړي، له زيان څخه ژغورل کېږي.

موږ د خپل ژوند د هرې شيبې په کارولو سره د آخرت لپاره سرمايه جوړوو، خو په دې عصري دور کې، سوشل مېډيا د وخت يوه لويه وسيله ده، چې که په هوښيارۍ وکارول شي، د خير لاره جوړوي او که بې‌مهاره وکارول شي، د ګناه او ضايع کېدو دروازه پرانيزي.

**د وخت مثبت اثرات**

ای ځوانانو! که سوشل مېډيا په علم او تقوا وکارول شي، ستاسو وخت ارزښت پيدا کوي. تاسو کولی شئ د قرآن او حديث درسونه واورئ، د ديني پوهې سرچينې ولولئ او مهارتونه زده کړئ. د خير د چارو لکه صدقه، عاجلو مرستو او د مظلومانو د ملاتړ خبرونه شريک کړئ.د دعوت الی الله وسيله ګرځي؛ ستاسو يو پوسټ، ويډيو يا مقاله د نورو د هدايت سبب کېدای شي. پيغمبر ﷺ فرمايي: [بلغوا عني ولو آية] [1]

د اسلام هر پيغام خپور کړئ، حتی که يوازې يو آيت هم وي، نو سوشل مېډيا د مؤمن لپاره لکه زرينه خزانه ده چې هره شېبه يې ثواب او برکت لري.

[1] رواه البخاري كتاب أحاديث الأنبياء - باب ماذكرعن بني اسرايل ٣٤٦١

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## د وخت منفي اثرات

د نبي کريمﷺ حديث دی، [نعمتان مغبونٌ فيهما كثير من الناس الصحة والفراغ] [1]

نبي عليه السلام فرمايي: دوه نعمتونه دي چې زيانمن شوي او دوکه شوي پکې زيات له خلکو، يو جوړ بدن روغتيا او خلاص وخت، نو سوشل ميډيا که بې هدفه وکارول شي، د وخت وژونکې آله ده. وخت ضايع کول يو ډول ځان وژنه ده.

علماء وايي: [الوقت هو الحياة] يعنې وخت ژوند دی، نو که چېرته وخت په بې معنا او بې ګټو کارونو ضايع کړو، نو دا داسې معنا لري لکه د انسان چې ژوند ضايع کيږي.

بې کاره کېناستل او له موبايل نه غلطه استفاده کول د ځان ضايع کول دي.

**خوږو لوستونکو!** حقيقت دا دی چې وخت ضايع کول يو ډول ځان وژنه ده، توپير دا دی چې ځان وژنه څوک د تل لپاره له ژونده بې برخه کوي  او د وخت ضايع کول تر يو محدود وخت پورې انسان څخه مړ جوړوي،  که چېرې انسان هغه شيبې، دقيقي، ساعتونه او ورځې چې په غفلت او بې کارۍ سره تيريږي؛ حساب کړي، نو د هغو شمېر به څو مياشتو نه؛ بلکې کلونو ته ورسيږي.

[1] کتاب الرقاق - باب ماجاء في الرقاق وأن لاعيش الاعيش الأخرة -۶۴۱۲

Made with Xodo PDF Reader and Editor



که چاته وویل شي چې ستا عمر لس کاله کم کړل شو، نو هغه به ډېر سخت خفه شي، خو همدغه انسان پخپله په بې کاره ناسته موبایل کې په بې ځایه بوختیا سره خپل عمر بربادوي او د خپل عمر په عبثیاتو ختمولو سره هیڅ هم نه خفه کیږي. په داسې حال کې چې علماء او پوهان د وخت ضایع کول تر مړینې هم لا اشد ګڼي.

علامة ابن قیم رح په الفوائد کې وایي: [اضاعة الوقت اشد من الموت، لأن اضاعة الوقت تقطک عن الله، والدارلأخرة، والموت یقطعک عن الدنیا واهلها][1]

«د وخت ضایع کول د مرګ څخه هم سخت دي، ځکه د وخت ضایع کول انسان له الله ﷻ، له آخرت او د نېکو چارو څخه بې برخې کوي، خو مرګ یوازې انسان د دنیا او د دنیا له خلکو بې برخې کوي.»

**وخت ضایع کول د مرګ څخه سخت دي**

کله چې انسان خپل وخت بې‌هدفه ضایع کوي، د خپل رب تعالی او د آخرت فرصتونه له لاسه ورکوي. انسان له عبادت، علم، خیر او نېک عمله بې برخې کیږي، ولې مرګ دومره سخت نه ګڼل کیږي. مرګ انسان یوازې د دنیا او د دنیا له خلکو جلا کوي، خو فرصتونه او نېک عمله د ژوند په وخت کې ضایع کول د الله رضا او آخرت ته زیان رسوي، چې له هر څه لوی ضرر دی، که چېرې متوجې شو نو راته څرګنده به شي چې نوي سلنه خلک خاصتاً ځوانان په

[1] (الفوائد 56 صـ)

Made with Xodo PDF Reader and Editor



دې نه پوهیږي چې د خپل عمر ډېره برخه یې چېرې او څنګه تیروي؟

هغه کسان او ځوانان چې خپل لاسونه یې په جیبو کې اچولي وي او په کوڅو او بازارو کې یا هم ټول وخت بې ځایه په موبایل کې مصروف وي، ډېر ژر به دغه خپل لاسونه د بل په جیب هم ننباسي. که تاسو خوښ یاست یا غمجن، له تکلیف او درد څخه د ژغورنې یوازینۍ لار خپل وخت بې ځایه نه تیرول دي.

د ژوند هره شیبه د وخت څخه جوړه ده او د وخت هره شیبه بې ځایه تېرول د ژوند له منځه وړل دي. په دې اړه حسن بصري رح وايي،

ای خلکو! ستاسې عمرونه له ساه اخیستلو، ثانیو او ورځو څخه تشکیل شوي دي، نو هر کله چې ستاسې د ژوند شیبې او ورځې تیرې شي، ستاسې د عمر یوه برخه هم تېریږي، ځکه چې د جزء تیریده د کل تېرېده دي.

ای ځوانه! ته چې هره ورځ بېهدفه وخت په موبایل، فیسبوک، واټساپ، ټیک ټاک، ګیمونو، فیلونو او نورو داسې شیانو تېروې، په حقیقت کې ته له خپل ځان، خپل عمر او خپل راتلونکي سره ظلم کوې. دا وخت، چې د ژوند تر ټولو قیمتي سرمایه ده، ستا له لاسه ځي او بیا نه راګرځي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



زه نه وايم چې موبايل مه كاروه، نه! بلكې په هوښيارۍ يې وكاروه، كتابونه ولوله، خپل ذهن وساته او پوهه مو زياته كړئ، اسلامي نشرات وګوره، د ديني پوهې سرچينه واخله، خپل ايمان قوي كړه. له فحشا، غلطو ويډيوګانو او بې‌ادبه موادو ځان وساته، ځكه دا زړه زنګوي او اخلاق خرابوي.

اى ځوانه! هره شيبه چې په بې فايدې كارونو تېره شي، ستاسې دنيا هم ضايع كېږي او آخرت هم زيانمنېږي، د عمر دا قيمتي شيبې، چې د الله د رضا لپاره نه كارېږي، له لاسه تللې خزانه ده.

ځوانه! په خپل ژوند، خپل ايمان، خپل اخلاق او خپل راتلونكي ته فكر وكړه. موبايل ستا لپاره يوه وسيله ده، نه هدف. كه يې په سمه توګه وكاروې، هم د دنيا ژوند جوړېږي، هم د آخرت خزانه جوړېږي.

ځوانه د ژوند هدف دې وپيژنه خپل ژوند ته دې متوجي شه، دا فيلمونه كتل نيټ كارول هيڅ فايده هم نه درته رسوي، كه يې بيا هم ګوري، نو په سمه طريقه يې استعمال كړه، خلكو ته خير پكې ورسوه. د وخت موضوع د ښه وضاحت دپاره قيمة الزمن عندالعلماء وګورئ! د علامة عبدالفتاح ابو غده چې اوس پښتو ته هم ژباړل شوى دى. [1]

[1] قيمة الزمن عندالعلماء

Made with Xodo PDF Reader and Editor



**سوشل میډیا ښایسته نقاب پټ شر**

د یوه فلسفي پوښتنه، کله چې ته یو څوک وینې چې هر وخت خبرې کوي، عکسونه خپروي او نظرونه ورکوي، ته یې پیژنې؟

نه؛ ته یې یوازې، فیسبوک پیج پیژنې، سوشل میډیا یو نقاب دی، چې شاته یې اکثره زیاتره خالي روحونه، مایوسه ذهنونه او شهرت تږي زړونه پراته دي، یا هم پټ دي.

**شرعي لید:** الله تعالی ﷻ فرمائي ﴿وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ ۚ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَٰئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا﴾[سورة الإسراء(36)] [1]

**ژباړه:** او ته هغه شي پسې مه ګرځه (پیروي یې مه کوه) په کوم باندې چې تاته علم نه وي، (ځکه چې) یقینًا غوږونه او سترګې او (هم) زړه هر یو ددغو (درې واړو) څخه د خپل ځان په هکله (د قیامت په ورځ ) مسؤل دي چې په څه شي کې استعمال شوي دي.

**پیغام:** هغه څه مه لایکوه، مه یې نشروه، مه یې تبصره کوه چې شرعي علم پرې نه لرې. رسول الله ﷺ فرمائي: [كفى بالمرء كَذِبًا بكل مَاسمع] ۲

۱ تفسیرالبغوي

۲ عمدة القاري

Made with Xodo PDF Reader and Editor



**ژباړه:** يعنې د انسان دپاره  دا بس دي چې دروغجن شي چې هر څه واوري او خپاره يې کړي، سوشل ميډيا دې همدې حديث ژوندی مثال دی.

**عصري تحليل**

هره دقيقه کې له (۵۰۰۰) زره زيات پوسټونه ټويټر ته خپريږي، (۸۰) فيصده معلومات بې مأخذه او له شکوکو ډک وي، انسان خپل (۴۰) فيصده وخت بې هدفه د سوشل ميډيا په پردو تيروي،

وخت چې يو ځل تېر شي بېرته هيڅکله هم نه راګرځي، که ته يې هر څومره ارمان وکړي بېرته وخت نه راګرځي لکه رحمان بابا وايي:

تير ساعت په مثال مړی د لحد دی

مړ چا نه دی ژوندی کړی په ژړا

ګرانه لوستونکيه! سوشل ميډيا که بې هدفه، بې علمه  او بې کنټروله وکارول شي يا يې وکاروې، نو دا به يوازې ستا وخت ضايع نه کړي، دا به ستا ذهن تبا کړي، ايمان به مو ضعيف کړي او أمت ته به ډېرې خرابې ضربې ورسيږي

او که سمه وکارول شي، په اسلامي چوکاټ د اسلام لپاره مبارزه پکې وکړل شي؛ نو بيا خير ده.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ځلورم فصل
## د اسلام په خپراوي کې د رسنيو ونډه

رسنۍ چې په عربي کې ورته «إعلام» وايي، د رسنيو يا إعلام الفاظ عام دي؛ چاپي، راډيويي، تلويزيوني او انټرنېټي ټول پکې شامل دي.

**د رسنيو اهميت په نن عصر کې**

اول:رسنۍ د انسانانو په معلوماتو کې زيادت راولي، علم ته تږي انسانان په علمي تحقيقاتو مړوي. دويم:حقائق راسپړي، خرافات، بدعتونه او مضر رواجونه له ټولنې څخه لرې کوي، او ټولنې ته فکري وسعت ورکوي . درېيم:د شخص او ټولنې معتقدات، آداب، تاريخي او فرهنګي ميراثونه ساتي. کومه ټولنه چې رسنيز فعاليتونه ونه لري، د هغې ټولنې معتقدات، آداب، فرهنګ او تاريخ له منځه ځي، او هلته بله عقيده، بل ادب او بل فرهنګ راځي.څلورم: رسنۍ د حکومت او ولس ترمنځ استحکام او ربط رامنځته کوي. کوم حکومت چې رسنيز فعاليت ونه لري، هلته د حکومت او ولس ترمنځ جدايي او فاصله پيدا کيږي. کله چې فاصله رامنځته شي،

نو د حکومت د زوال عامل ګرځي. موږ وينو چې کوم حکومت فعالې رسنۍ ولري، هلته د ولس او حکومت ترمنځ ټينګ ربط او استحکام وي، او همدا ربط د حکومت د بقاء سبب ګرځي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



پنځم:رسنۍ ولسونه د حکومت پر ضد راپارولی شي، او همدارنګه رسنۍ کولای شي چې ولسونه د اسلام او وطن دفاع ته راپورته کړي. بښه مثال يې د عربو د پسرلي لاريونونه-مظاهرې وې، چې هلته پکې حکومتونه راونړېدل. همدارنګه د امريکا او اسراييلو د ايران پر ضد لويه جګړه د رسنيو له لارې وه او ده. افغانستان ته د امريکا او ناټو له راتګ سره، په سلګونو رسنيو د اسلامي امارت او طالبانو پر ضد فعاليتونه پيل کړل او ډېر افغانان يې د خپل باطل صف ملګري کړل. خو د اسلامي امارت له لوري کم شمېر مخلصو مبارزينو رسنيز فعاليت وکړ. همدغه رسنيز فعاليت د دښمن د ماتې او د هغوی د صف د کمزورۍ لامل شو. د اسلامي امارت رسنيزو سنګرونو دښمن مجبور کړ چې اعتراف وکړي چې طالبان له مونږ. څخه په رسنيز ميدان کې قوي دي، بصري ځانګو لکه: الإمارة، منبع‌الجهاد، او الهجرة، خپرندويه ادارو، د معسکراتو او جهادي دښمن ځپونکو، او دښمن ويرونکو صحنو، دښمن مرعوب او وارخطا کړ، نړۍ ته يې د دوی په مقابل کې د اسلامي امارت د مجاهدينو زړورتيا او د دوی بزدلي او وحشت روښانه کړل. د جنرال مبين، قاري سعيد او د هغوی ملګرو بيا دښمن داسې مغلوب کړ چې تصور يې هم نه‌شو کيدی. امريکا او ملګرو يې د شريعت غږ راډيو سټېشنونه په وار وار بمبار کړل. زما هغه وخت ياد دی چې امريکايانو د اسلامي امارت د تېر تحريک د لومړۍ شپې پر مهال، چې کله کابل بمبار کړ، يو هدف يې

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د شريعت غږ راډيو شتېښن هم و. دښمن پوهېده چې د امارت تر ټولو لوی سنګر رسنيز فعاليت دی، او دا بايد له منځه يوړل شي؛ ځکه تر څو چې دا مرکز کمزوری وي، امارت به هم کمزوری وي، او که دا سنګر قوي وي، د جګړې سنګر به هم قوي وي.

شپږم: نړۍ رسنيو ته په پوهنتونونو کې مستقل پوهنځي جوړ کړل، د ژورنالېزم په نامه يې ورته اصول او قواعد وضع کړل، تر څو د رسنيزو فعاليتونو له لارې مسلکي، مؤثر او ډېر کتونکي ولري.
حتی په حکومت کې يې ورته مستقل وزارت او وزير ونومولو.
حکومتونه د خپلې سلطې ساحو ته لومړی د رسنيو او بيا د جګړې په واسطه پراخي ورکوي. غربي استعمارګران د رسنيو په وسيله خپل باطل نړۍ ته د حق په نامه او لباس ور پېژني. نن ډېر عربي هېوادونه د غربي رسنيو له لارې د غرب د استعمار لاندې راغلي؛ هلته جګړه نه ده شوې، بلکې رسنيو غربي استعمار واکمن کړی دی.

**حاصل دا شو:** رسنۍ ډېر خطرونه او ډېر فوايد لري. د رسنيو له لارې له دښمن سره مقابله کيدی شي. په افغانستان کې د امريکا او ناټو د زوال درې لوی عوامل و:

معنوي قوه، چې انسانان يې استشهاد ته هڅول او تيارول؛

نظامي قوه، چې اسلحي وې؛او رسنيزه قوه.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



همدا رسنیزه قوه هم د امریکا او ناټو د زوال او شکست یو لوی عامل و. حتی دا چې په کومه سیمه کې به رسنیز قوه قوي وه، هلته به معنوي او نظامي قوه هم پیدا کېده. امریکا یوازې یوې قوې نه، بلکې درې واړو قواوو ماته کړه،

**قرآن کریم د رسنیو یوه لویه قاعده ذکر کوي**

په رسنیو کې یوه قاعده دا ده چې کله په یوه ټولنه کې یو خبر یا شایعه خپره شي، نو باید حکومت ورته پر خپل وخت ځواب ووایي، ځکه پر خپل وخت ځواب ویل ډېر مؤثر واقع کیږي، یهودیانو پوښتنه وکړه چې ولې الله عزوجل قرآن ټول یوواري نازل نه کړ، لکه تورات؟ نو الله عزوجل دا آیت نازل کړ: ﴿وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْلَا نُزِّلَ الْقُرْآنُ جُمْلَةً وَاحِدَةً ۚ كَذَٰلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهِ فُؤَادَكَ ۖ وَرَتَّلْنَاهُ تَرْتِيلًا وَلَا يَأْتُونَكَ بِمَثَلٍ إِلَّا جِئْنَاكَ بِالْحَقِّ وَأَحْسَنَ تَفْسِيرًا﴾ مطلب دا دی چې کله یوه خبره یا شایعه خپره شي، نو الله عزوجل وایي: موږ به په خپل وخت د هغې ښه وضاحت وکړو. همدا وجه ده چې الله عزوجل قرآن یو دم نازل نه کړ، ځکه که یو دم نازل شوی وای نو د قاعدې خلاف به و. قرآن د ټولو علومو او قوانینو سره سم نازل شوی دی. دلته قاعده دا ده چې د خبر له خپرېدو سره باید هم مهاله ځواب ورکړل شي، ځکه دا کار ډېر مؤثر تماميږي. نو تاسو قرآن ته وګورئ، هرې خبرې او هر سوال ته په خپل وخت ځواب وايي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



**د اسلام رسول انسانانو ته فرض دي**

الله عزوجل په قرآن کې وايي: {وَأَعِدُّوا لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ} دا د اصولِ فقه قاعده ده چې مطلق امر د وجوب لپاره وي، تر څو چې کوم صارف له وجوب نه موجود نه وي. دلته د قوې په تيارولو امر شوی دی، يعني د قوې تيارول فرض دي. دا قوه نکره راغلې ده، چې ټولو قوتونو ته شامليږي؛ معنوي قوه، نظامي قوه، إعلامي او رسنيزه قوه. معنا دا چې پر مسلمانانو دا درې واړه قوې تيارول فرض دي، او د رسنيزې قوې تيارول هم فرض دي. داسې رسنيزه قوه چې دښمن ترې ويره لري، ځکه الله عزوجل فرمايي:

داسې قوه تياره کړئ ؛ {تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ} کله چې مسلمانان قوي رسنيزه قوه تياره کړي، دغه رسنيزه قوه چې د اسلام دعوت هم ورته ويل کيږي، په ټولنه کې معنوي قوه هم راپيدا کوي، او د همدې دعوتي او رسنيزو قوې له برکته نظامي قوه هم منځ ته راځي. رسول صلی الله عليه وسلم په مکي ژوند کې دعوتي او رسنيزه قوه تياره کړه، بيا په مدينه کې نظامي او معنوي قوه ترې پيدا شوله.

**د افغانستان په تاريخ کې د رسنيو لومړی مؤسس سيد جمال الدين افغان رحمه الله ده:**

د امير شيرعلي خان د واکمنۍ پر مهال، د اسلام له عمق نه خبر عالم، لوی اديب، فيلسوف، سياسي انقلابي او خطيب، د غربي

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ښکيلاک په مقابل کې په لويو اسلامي هېوادونو لکه مصر، لوی هند، ترکيه او حتی په ايران کې د اسلامي نهضتونو او انقلابونو د تخم شيندونکی، استاد سيد جمال‌الدين افغان رحمه‌الله، امير شيرعلي خان ته مشوره ورکړه چې د انګليسي استعمار په مقابل کې تر ټولو لويه قوه رسنۍ دي، تر څو ولس د حکومت له پرمختګونو خبر شي، د استعمار په مقابل کې د ولس وحدت وساتل شي او ولس د جهاد له فکر سره اشنا شي. امير شيرعلي خان دا خبره ومنله، او همدا رسنيزه مجله د افغانستان په تاريخ کې لومړنۍ چاپي مجله وه، چې د «شمس‌النهار» په نوم، په شپاړسو صحفو کې وه، هره جمعه يو وار چاپ کېدله. کله چې انګليسي استعمارګران دويم ځل افغانستان ته راغلل، دغه چاپي مجله يې بنده کړه.

**د شمس النهار په يوه ګڼه کې**

داسې ليکلي: په کابل کې هوا ډېره سخته يخه ده، او دومره ډېره واوره شوې، چې اووه يا اته کاله مخکې هم داسې واوره شوې وه. د قلعه قاضي څخه دوه ښځې د بيکتوت خواته روانې وې. ماښام شوی و، دوه سوه قدمه بيکتوت ته پاتې و، چې په ښځو باندې وهم غالب شو، دواړه بې‌هوښه راوغورځيدلې. اتفاقاً درې سپاره کسان د پغمان له طرفه د کابل ښار ته راتلل، هغوی دا دوه ښځې وليدلې، راپورته يې کړې او نږدې ځای ته يې نقل کړې.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



**د اسلامي امت له مشرانو، او د جهادي غورځنګونو مخکښانو څخه غوښتنه:!**

رسنیزې قوې ته ځانګړې تیارې ونیسئ؛ رسنیزه قوه د اسلام د واکمنولو له لویو اسبابو څخه ده. د دې رسنیزې قوې ضعف د اسلام ضعف دی، کوښښ وکړئ دې قوې ته کار وکړئ، ځکه د دې قوې پرېښودل د فرضو پرېښودل دي.[1]

[1] الشيخ عبدالحميد حماسي

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## پنځم فصل

## د سوشل ميډيا مثبتې اغېزې او ګټې

سوشل ميډيا يا ټولنيزې رسنۍ که څه هم ځينې منفي اړخونه لري، چې په هغو به وروسته بحث وکړو، خوسوشل ميډيا نن ورځ زمونږ په ژوند کې يو مهم رول لوبوي ټولنيزې رسنۍ دنړۍ سره داړيکو لپاره سو قوي پل دی چې په مرسته يې مونږ کولی شوله دوستانواو کورنۍ په اړيکو کې پاتې شو. همدارنګه ټولنيزې رسنۍ دمعلوماتو ترلاسه کولواودنړۍ په حالاتود ځان خبرولولپاره يوه غوره وسيله ده دبېلابېلو سوداګريزواوتعليمي فرصتونودموندلولپاره هم ټولنيزې رسنۍ يوه اغېزمن وسيله ګڼل کيږي.په افغانستان کې، ټولنيزو رسنيو په چټکۍ سره وده کړې په ځانګړي ډول فيسبوک،ټويټر،يوټيوب اوانسټاګرام دخلکوپه منځ کې ډېرمشهوردي.افغانان له دې رسنيو څخه دمعلوماتودشريکولو،خبرونوتعقيب اوحتی دخپل ورځني ژوند دمستندو کولولپاره استفاده کوي. په ځانکړي توګه دځوانان لپاره،ټولنيزې رسنۍ يو له اساسي ارتباطي وسيلوڅخه دي.

په سمه او معقوله توګه کارول يې ګڼ شمېر مثبتې ګټې لري، چې د انسان د ژوند په بېلابېلو برخو کې ښه والی راولي. په دې فصل کې به د سوشل ميډيا هغو ګټو ته اشاره وکړو، چې د اسلام او عصري ژوند له ليد لوري ارزښتمن وي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



**۱ـ د معلوماتو چټک لاسرسی**

سوشل میډیا د نړۍ د هر ګوټ معلوماتو ته په څو ثانیو کې لاسرسی اسان کړی، په سوشل میډیا سره په علم کې زیادت راځي، الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته په زیادت د علم امر کړی. ﴿وَقُلْ رَبِّ زِدْنِي عِلْمًا﴾ [1] ووایه اې محمده! رب خپل ته چې زیات کړه ماته علم.

او مفسرین وايي چې نبي کریم ﷺ په دې یو شي په زیادت دومره ټینګار نه ده کړی ماسوا له علم نه چې د علم په زیاتوالي به یې زیات ټینګار کاوه. د سوشل میډیا له لارې د دیني، علمي او تاریخي موادو زدکړه اسانه شوې ده چې دا د اسلامي أمت لپاره یو لوی فرصت دی، باید اسلامي أمت له دې څخه په هره کچه ګټه پورته کړي.

د ځوانانو فکرونه باید په سوشل میډیا کې له علماوو خراب نه شي او علمي نشرات، دعوتي نشرات باید په دې کې زیات کړي او ځوانان ترینه ګټه واخلي.

**۲ـ د اړیکو او نښلونې وسایل**

سوشل میډیا خلک د نړۍ له ګوټ ګوټ سره نښلوي، له خپلوانو دوستانو او دیني ورونو سره دې اړیکو د پیاوړتیا وسیله ګرځیدلې ده، الله ﷻ فرمایي: ﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ ﴾ [2]

---

۱ سورة طه الآية ۱۱۴

۲ (سورة الحجرات الآية ۱۰)

Made with Xodo PDF Reader and Editor



**ژباړه:** بيشکه مؤمنان په دين کې سره ورونه دي.

همدارنګه رسول الله ﷺ فرمائي: المُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يُسْلِمُهُ، مَنْ كَانَ فِي حَاجَةِ أَخِيهِ كَانَ اللهُ فِي حَاجَتِهِ، وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً فَرَّجَ اللهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا، سَتَرَهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ [1]

مسلمان د مسلمان ورور دی؛ نه پرې ظلم کوي او نه يې د دښمن لاس ته سپاري. څوک چې د خپل ورور په اړتيا اومشکل کې ورسره مرسته وکړي، الله ﷻ به د هغه په اړتيا کې مرسته وکړي او څوک چې د يو مسلمان ستونزه (غم/کربه) لېرې کړي، الله به د قيامت د ورځې له سترو ستونزو څخه د هغه يوه ستونزه لېرې کړي او څوک چې د يو مسلمان عيب پټ کړي، الله ﷻ به د قيامت په ورځ د هغه عيبونه پټ کړي، نو له خپلوانو سره خپلوي پالل، د مؤمنانو له حال خبرېدل ددئ وسيلې په ذريعه سره اسان دي.

### ۳ـ د ښوونيز او تبليغاتي فعاليتونو پراختيا

سوشل مېډيا د معاصر عصر له ټولو قوي وسايلو څخه ده، چې د ښوونې او دعوت په ډګر کې يې ژور اغېز ښودلی. دا اغېز د عقل، تجربې او شرعي اصولو له مخې ثابتېدای شي.

---

۱ السنن الكبرى للنسائي (6/ 467) باب في ستر العورة وذكر الاختلاف

Made with Xodo PDF Reader and Editor



**د علم خپرول شرعي فريضه ده**

اسلام د علم خپرولو ته ځانګړې ارزښت ورکړی دی. الله تعالی فرمايي:

﴿ادْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ﴾ [1]

**ژباړه:** اې پيغمبره! د خپل رب ﷻ لارې دين ته په حکمت او ښايسته موعظې سره بلل وکړه.

دا آيت مطلق دعوت ته امر کوي، نه محدود دعوت ته. سوشل مېډيا د همدې امر معاصر مصداق دی، ځکه: حکمت پکې شته (ويډيو ايډيو، ليکنه، انفوګراف) موعظه حسنه پکې شونې ده. مخاطبين پکې پراخ دي علماء پوهان مفکرين، د اسلام دفاع کونکي، نو شرعاً دا وسيله جايز بلکې د اړتيا پر وخت مطلوبه ګرځي.

**د رسول الله ﷺ د تبليغ طريقه او سوشل مېډيا**

نبي ﷺ له هرې مشروع وسيلې څخه د دعوت لپاره کار اخيست، خطبه يعنې د تبليغ له لارې، مکتوبونه (ليک نامې پاچاهانو ته) او استازي (سفيران). سوشل مېډيا د هماغه رسالي ليکونو معاصر شکل دی، توپير يې دا دی چې نن ليک زرګونو خلکو ته رسېږي، پيغام په ثانيو کې خپرېږي او دا د دعوت د اسانتيا ښکاره دليل دی.

**تعليمي اسانتيا او عقلاني دليل**

[1] سورة النحل الآية ١٢٥

Made with Xodo PDF Reader and Editor



عقل دا حکم کوي چې هغه وسیله چې په لږ وخت کې ډېرو خلکو ته علم ورسوي، تر هغه غوره ده چې محدود لاسرسی ولري.
سوشل مېډیا د وخت او ځای قید ختم کړی، د تکرار امکان پکې شته (ویډیو خط تقریر وعظ بیاکتل)، نو دا د تعلیم له نظره تر ټولو مؤثره وسیله ده.

**د انحراف پر وړاندې فکري دفاع**

ځوانان نن د فکري یرغل ښکار دي. الحاد، بېدیني، فحاشي او بې لاریتوب. که اهلِ علم سوشل مېډیا پرېږدي، نو دا میدان به باطلو نظریاتو ته خالي پاتې شي، نو شرعاً دا قاعده تطبیقېږي: [ما لا یتم الواجب إلا به فهو واجب] [1].

یعنې که د دین ساتنه بې له دې وسیلې نه کېږي، نو دا وسیله خپله واجبه ګرځي.

**عملي واقعیت (تجربوي دلیل)** نن په عملي ډول لیدل کېږي چې زرګونه خلک د آنلاین درسونو له لارې قرآن زده کوي، د عقیدې

[1] غاية المنة في إتمام تمام المنة الجزء الاول كتاب الطهارة (ص: 37)
وهكذا في الإبهاج في شرح المنهاج (1/ 131) وهكذا فيالاحكام في اصول الاحكام (3/ 299)
وهكذا في التقرير والتحبير (3/ 329)

Made with Xodo PDF Reader and Editor



اصلاح کېږي، شبهات ځوابېږي او خلک توبه باسي. دا ټول واقعي شواهد دي، نه يوازې نظري خبرې.

**د امت يووالی او فکري اړيکه**

سوشل مېډيا علماء سره نښلوي، تجربې شريکوي، امت له فکري انزوا راباسي. الله تعالی فرمايي: ﴿وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى﴾[1]، نو سوشل مېډيا د همدې تعاون قوي وسيله ده.

## ۴- د بې وزلو مظلومو خلکو سره مرسته!

سوشل مېډيا يوازې د خبرو او تفريح وسيله نه ده، بلکې د انساني، عدالت او مرستې لپاره يو اغېزناک پلېټفارم ګرځېدلی. دا خبره د شرع، عقل او واقعيت له مخې ثابته ده.

**د مظلوم ملاتړ شرعي فريضه ده**

د نبي کريم ﷺ حديث ده

[انصر أخاك ظالماً أو مظلوماً »قالو يارسول الله ﷺ هذا ننصره مظلوماً فكيف ننصره ظالمًا، قال: (تأخذ فوق يديه)] [2].

**ژباړه:** رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «خپل ورور (مسلمان) مرسته وکړه، که هغه ظالم وي يا مظلوم.»

صحابه کرامو وويل: «يا رسول الله! موږ خو مظلوم سره مرسته کولی شو، خو ظالم سره څنګه مرسته وکړو؟» رسول الله صلی الله

١ سورة المائدة الآية ٢

٢ صحيح البخاري (6/ 230)

Made with Xodo PDF Reader and Editor



عليه وسلم وفرمايل: «ته هغه د ظلم کولو له لارې مخنيوى کوې (يعنې له ظلم څخه يې منع کوې)، همدا د هغه مرسته ده.»

»سوشل مېډيا د دې ملاتړ معاصر وسيله ده، ځکه د مظلوم غږ تر خلکو رسوي، ظلم ښکاره کوي، د ظالم د تېري مخه نيسي؛ نو دا د حديث عملي تطبيق دى.

د معلوماتو خپرول د مرستې دروازه ده. عقل دا مني چې خلک هغه وخت مرسته کوي، چې د اړتيا خبر ولري.

سوشل مېډيا د فقر، ظلم او بېوزلۍ حقيقتونه ښکاره کوي، خلک احساساتي او عملي اقدام ته هڅوي، د خير ښېگڼې کمپاينونه جوړوي؛ نو دا د مرستې سبب او وسيله ده او په شريعت کې [لِلْوَسَائِلِ حُكْمُ الْمَقَاصِدِ] وسايلو ته حکم د مقاصدو دى. [١]

**عملي شواهد (واقعي دليل)**

نن په ښکاره ډول ليدل کېږي چې د سوشل مېډيا له لارې د ناروغانو درملنه کېږي، د يتيمانو پالنه کېږي، د جګړو او ظلمونو قربانيانو ته مرستې رسېږي، بيړني خيراتي کمپاينونه په ساعتونو کې زرګونه مرسته راټولوي چې دا ټول د دې وسيلې واقعي برياوې دي.

---

١ روح المعاني (28/ 84) وهكذا في رفع المنارة (ص: 58)

وهكذافي فتح العزيز في شرح الوجيز (10/ 58) وهكذافي مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح (6/ 60)

Made with Xodo PDF Reader and Editor



**د نړیوال ضمیر را ویښول :** سوشل مېډیا د مظلوم تصویر نړۍ ته رسوي، نړیوال فشار پیدا کوي او د ظالمانو د کړنو افشا کوي. سوشل مېډیا د بېوزلو او مظلومو خلکو لپاره د مرستې غږ دی، د خیر منظم کوونکی دی، د عدالت غوښتنې وسیله ده؛ خو شرطونه یې دا دي چې خبر باید رښتینی وي، احساسات باید د شریعت تر کنټرول لاندې وي، مرسته باید د امانت، شفافیت او اخلاص پر بنسټ وي، د فتنې او دروغو مخه ونیول شي.

## ۵- د مسائلو پر وخت خبرتیا او پوهاوی

سوشل مېډیا که په سمه توګه وکارول شي، د مسائلو پر وخت خبرتیا او پوهاوي لپاره یوه له خورا قوي وسیلو څخه ده. دا خبره د شرع، عقل او عملي واقعیت له مخې ثابته ده.

**د مسائلو خبرتیا د اسلامي تعلیم مطابق**

اسلام خلک د خبرداري او پوهاوي لپاره هڅوي. رسول الله ﷺ فرمایي:

«الدین النصیحة» [1]

دین نصیحت دی چې پکې د خلکو خبرداری او هوساینه شامل دي. سوشل مېډیا د دې نصیحت معاصر او چټکه وسیله ده.

[1] المسند المستخرج على صحيح الإمام مسلم (1/ 144) وهكذافي اللؤلؤ والمرجان فيما اتفق عليه الشيخان (ص: 19)

Made with Xodo PDF Reader and Editor



مثالونه: عاجل خبرونه (اوربښت، سیلاب، ناروغۍ) د فکري یا ټولنیزو خطرونو خبرتیا همداسې نور...

**د مسائلو پر وخت خبرتیا عقلي دلیل**

عقل وایي هغه خلک چې وخت په وخت د خطرونو یا ستونزو په اړه نه خبریږي، له زیان سره مخ کېږي. سوشل مېډیا د دې ستونزې حل دی، ځکه د پېښو، حوادثو او احتمالي خطرونو معلومات په ثانیو کې خپروي.

خلک د احتیاط او مخکېني تدابیرو چمتووالي ته هڅوي.

**عملي مثالونه (واقعي دلیل)**

د طبیعي پېښو پر وخت عاجل خبرتیا (زلزلې، سیلاب اور)، د وبا یا ناروغیو په اړه پوهاوی او د مخنیوي تدابیر، د ټولنیزو بدلونونو او اقتصادي ستونزو خبرتیا، د ځوانانو او عامو خلکو لپاره د غلطو نظریاتو او فتنو مخنیوی دا ټول د سوشل مېډیا مثبت او عملي اغېزونه دي.

**د امت هوساینه او ورورولۍ پیاوړتیا**

د خبرتیا له لارې خلک په خپلو کورنیو او ټولنو کې احتیاطي تدابیر نیسي.

د ورورولۍ احساس او مسؤلیت را ژوندی کېږي.

ټولنه د ګډو ستونزو په وړاندې هوښیاره او متحده پاتې کېږي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



**د سوشل میډیا شرطونه د مثبت خبرتیا لپاره**

معلومات باید سم، دقیق او باوري وي، هیڅ ډول دروغ، مبالغه یا ترهګرۍ خپرول پکې ونه شي. هدف باید یوازې د خلکو د خیر او ساتنې لپاره وي د اسلام پرمختګ وي، نه د ګډوډۍ یا سیاسي اهدافو لپاره.

**سوشل میډیا د مسائلو پر وخت د خبرتیا او پوهاوي لپاره**

د خلکو ژوند خوندي کوي، د ټولنیز پوهاوي سبب کیږي او د اسلامي اخلاقو او د امت خیر سره سمون لري.

## ۶- دعوت او اصلاح

سوشل میډیا په معاصر وخت کې د اسلامي دعوت او اصلاح لپاره یو خورا ځواکمن او مؤثره وسیله ګرځېدلې ده. دا د شرع، عقل او عملي واقعیت له مخې څرګنده ده.

**د اسلامي دعوت شرعي بنسټ**

اسلام موږ ته امر کوي چې خلک د الله ﷻ لارې ته وبولو: ﴿ادْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ﴾ [1]

ژباړه: اې پیغمبره! د خپل رب ﷻ لارې (دین) ته په حکمت او ښایسته موعظې سره بلل وکړه،

[1] سورة النحل الآية ١٢٥

Made with Xodo PDF Reader and Editor



سوشل مېډيا د حکمت او موعظه حسنه وسيله ده، ځکه ويډيوګانې، ليکنې او غړيز پيغامونه د خلکو په زړونو اغېز کوي او پيغام په لنډ وخت کې زرګونو خلکو ته رسېږي.

**اصلاح (انصاف او اخلاقو ته بېرته راوستل) :** اسلام د اصلاح اهميت ته هم ټينګار کړی: «أمر بالمعروف ونهي عن المنكر»

سوشل مېډيا کولی شي د ټولنې بد اخلاق، فحشا، بې‌لاريتوب او ناسم رواجونه اصلاح کړي. خلک د اصلاح په اړه رهنمايي ترلاسه کوي، لکه:

د ځوانانو فکري او اخلاقي روزنه، د کورنيو او ټولنې اخلاقو سمون او د ديني شعايرو او عبادتونو اهميت.

**عملي مثالونه (واقعي دليل)**

اسلامي پيغامونه په ټولنيزو شبکو خپرول (ويډيوګانې، ليکنې، کورسونه) د ځوانانو اصلاح او تربيت د آنلاين درسونو او ليکچرونو له لارې د غلطو باورونو او افکارو اصلاح د سوشل مېډيا مباحثو او پوهاوي له لارې.

**د امت هوساينه او يووالی**

سوشل مېډيا د امت د علماوو، دعوتګرو او زده کوونکو ترمنځ اړيکه ټينګه کړې، د امت ګډ مسايل په آنلاين بحثونو او لاربښوونو حل کيږي او د ټولنې اخلاقو او باورونو ته سمون راځي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



**شرطونه د مثبت دعوت او اصلاح لپاره**

— دعوت باید د علم، حکمت او صبر پر بنسټ وي.

— اصلاح باید د عقل، شرع او اخلاقو مطابق وي.

— هېڅ ډول توهين، تحقير يا تندي نه وي پکې.

— هدف يوازې د خلکو هوساينه او د الله رضا وي.

سوشل مېډيا د دعوت او اصلاح لپاره غوره وسيله ده، خلک د دين په اړه پوهاوي ته رسوي، ټولنه د بد اخلاقو، فحشا او ناسم باورونو له اغېزو ساتي او د امت يووالی، اخلاق او عقيده پياوړي کوي.

## ۷- اقتصادي ګټه او حلال تجارت

سوشل مېډيا نه يوازې د علم، پوهاوي او دعوت وسيله ده، بلکې د اقتصادي فعاليتونو او حلال تجارت لپاره هم يوه قوي او نوښتګره لاره ګرځېدلې ده.

**د اقتصادي ګټې اسلامي بنسټ**

اسلام حلال کسب، تجارت او اقتصادي فعاليت ته ځانګړی ارزښت ورکوي. د سوشل مېډيا له لارې خلک کولی شي خپل حلال کسب ته وده ورکړي، د رزق امکانات پراخ کړي او د خلکو اړتياوې په مشروع ډول پوره کړي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



**د قرآن او سنتو مطابق اقتصادي فعاليت**

الله ﷻ فرمايي: ﴿وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا﴾ [1]

سوداګري حلاله او مشروع ده او سود، دروغ او غلا حرامه ده.

سوشل مېډيا کولی شي د حلال تجارت تبليغ وکړي او د سوداګرۍ شفافيت يقيني کړي.

**عملي اغېز**

د سوشل مېډيا له لارې خلک لږ لګښت او لږ وخت کې خپل کاروبار ته وده ورکوي، د توليد او مصرف ترمنځ فاصله کموي، ځوانان په اقتصادي فعاليتونو کې فعاله کوي او د بېوزلو لپاره هم د رزق نوي لارې پيدا کوي.

**د اسلامي اقتصاد ملاتړ**

خلک د حلال تجارت تبليغ کوي، د ناپوهۍ او غير اسلامي فعاليتونو مخنيوی کېږي او ټولنه د حلال رزق، اخلاقي سوداګرۍ او اقتصاد پر اصولو جوړه کېږي.

**د سوشل مېډيا شرطونه د مثبت اقتصادي فعاليت لپاره**

- ✓ د سوداګرۍ معلومات بايد رښتيني او دقيق وي.
- ✓ محصول يا خدمت بايد حلال او مشروع وي.
- ✓ هيڅ ډول فريب، درواغ او ناوړه اعلانونه نه وي.

---

[1] سورة البقرة الآية ٢٧٥

Made with Xodo PDF Reader and Editor



- ✓ هدف یوازې د حلال رزق لاس ته راوړل وي، نه د فتنې یا درغلي.

سوشل مېډیا د اقتصادي فعالیت او حلال تجارت لپاره غوره وسیله ده، خلک کولی شي خپل کسب ته وده ورکړي، حلال تجارت په پراخه کچه عام کړي او ټولنه د اسلامي اقتصادي اصولو سره سم پرمختګ وکړي.

## ۹- د اسلامي امت د غږ پورته کول

سوشل مېډیا د اسلامي امت د غږ پورته کولو لپاره یوه ځواکمنه وسیله ګرځېدلې ده. دا د امت د ستونزو، مظلومیتونو او د حق غوښتنې لپاره یو نړیوال پلیټفارم وړاندې کوي.

**د امت د غږ پورته کولو شرعي بنسټ**

اسلام موږ ته امر کوي چې د مظلوم ملاتړ وکړو او د ظلم پر وړاندې ولاړ شو. رسول الله ﷺ فرمایي: «انصر أخاك ظالماً أو مظلوماً» [1] د امت غږ پورته کول، کله چې د ظلم، بېعدالتي یا نابرابرۍ په وړاندې وي، د دې حدیث عملي تطبیق دی.

**د امت ستونزو ته نړیوال پام اړول**

[1] سنن الترمذی (8/ 210) وهکذافي سبل السلام (6/ 409) وهکذافي معجم ابن عساکر (1/ 122)

Made with Xodo PDF Reader and Editor



سوشل مېډیا د دې سبب شوې چې د امت ستونزې نړیوالو ته ورسېږي، د مظلومو هېوادونو او جګړه ځپلو سیمو غږ نړۍ ته رسېږي، د ظلم، بې عدالتي او فتنې مخه نیول کېږي.

**مثالونه:** د فلسطین، یمن، عراق، همداسې نور... مظلومیتونه نړیوالو ته رسېدل، د یتیمانو، بېوزلو او بېحقه خلکو د ستونزو خبرتیا.د امت د حق غوښتنه مشروع او لازمي ده. رسول الله ﷺ امت غږ د ظلم پر وړاندې پورته کولو لپاره امر کړی، لکه: د مظلومانو ملاتړ، د حق څرګندول او د ناوړو اعمالو افشا کول.

**عملي اغېز**

د سوشل مېډیا له لارې خلک د ظلم پر وړاندې متحد کېږي، د امت ستونزې په نړیواله کچه مطرح کېږي او د سولې، عدالت او حق غوښتنې لپاره نړیوال فشار پیدا کېږي.

**د امت یووالي پیاوړتیا**

خلک د اسلامي ارزښتونو پر بنسټ د حق غوښتنې او مظلوم ملاتړ ته هڅول کېږي. امت په افکارو، دعا او عمل کې متحد پاتې کېږي او د ورورولۍ او مسؤولیت احساس ژوندی کېږي.

**د سوشل مېډیا شرطونه د مثبت غږ پورته کولو لپاره**

- غږ باید حق او رښتینی وي.
- د غلط معلوماتو خپرول منع دي.
- هدف باید یوازې د انصاف او عدالت غوښتنه وي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ــــ د غږ پورته کول باید د فتنې یا تشدد سبب نشي.ــــ

وشل مېډیا د اسلامي امت د غږ پورته کولو لپاره، د مظلومانو ملاتړ قوي کوي، د ظلم او نابرابرۍ په وړاندې رښتینی غږ رسوي او د امت د اخلاقو، عدالت او یووالي پیاوړتیا کوي.

## ۹- ځوانانو ته تشویق

سوشل مېډیا که په سمه توګه وکارول شي، د ځوانانو د علمي، اخلاقي، اقتصادي او ټولنیز پرمختګ لپاره یوه ځواکمنه وسیله ګرځي. دا وسیله د هغوی استعدادونه را ژوندۍ کوي او مثبت فعالیتونو ته یې هڅوي.

**د ځوانانو د هڅونې اسلامي بنسټ**

اسلام د ځوانانو توان، ابتکار او خدمت ته ارزښت ورکوي. رسول الله ﷺ فرمايي: «المؤمن القوي خير وأحب إلى الله من المؤمن الضعيف» [1]

**ژباړه:** پیاوړی مؤمن د خدای تعالی په وړاندې له کمزوري مؤمن بهتر او قدرمن دی، ځواکمن، علمي او فعاله ځوان د امت لپاره لوی نعمت دی او د ځوانانو هڅونه د دې ځواک را ژوندي کول دي.

---

١ مسند الصحابة في الكتب التسعة (5/ 322) وهكذا في صحيح مسلم (4/ 2052)

Made with Xodo PDF Reader and Editor



### د سوشل مېډيا مثبت رول

د علمي زده کړو، اسلامي اخلاقو او ښو کړنو په اړه محتوا شریکول، د ځوانانو د ابتکار او مهارتونو پیژندل او تشویقول او د هغوی هڅول چې د خپلې ټولنې لپاره مثبت کار وکړي.

سوشل مېډيا کولی شي دا هڅونه عملي کړي، ځوانان د علم، پوهې او مهارتونو لپاره هڅول کیږي. رسول الله ﷺ ځوانانو ته ځانګړې پاملرنه کړې: هغوی د دین، اخلاقو او علم زده کړې ته هڅولي او د امت خدمت کې یې شامل کړي دي.

### عملي اغېز

ځوانان د مثبتو فعالیتونو لپاره هڅول کیږي، د فتنو او ناسمو لارو مخه نیول کیږي او استعدادونه، مهارتونه او علمي ظرفیتونه وده کوي.

### د امت راتلونکی تضمین

ځوانان د ټولنې ربنتینی ځواک دی، د علم، اخلاقو او اسلامي ارزښتونو ساتنه کوي. د امت وحدت، پرمختګ او اصلاح تضمینوي.

### د سوشل مېډيا شرطونه د مثبت تشویق لپاره

محتوا باید مثبت، علمي او اخلاقي وي، تشویق باید د اسلام او اخلاقو په چوکاټ کې وي، د ځوانانو ذهن او اخلاقو ته زیان نه

Made with Xodo PDF Reader and Editor



رسوي او هدف باید یوازې د هغوی هوساینه، زده کړه او مثبت پرمختګ وي.

سوشل میډیا د ځوانانو د تشویق او پرمختګ لپاره د علم، اخلاقو او استعداد وده کوي، د ټولنې لپاره فعاله، پوهه او اخلاقي نسل را منځ ته کوي او د اسلامي امت د راتلونکي ثبات او پرمختګ لپاره مرسته کوي.

## ۱۰- د کفر، الحاد مقابله او د ځوانانو فکري ساتنه

په معاصره نړۍ کې ځوانان د کفر، الحاد او ناسمو فکرونو د دسیسو له خطر سره مخ دي. سوشل میډیا که په سمه توګه وکارول شي، د دې خطرونو د مخنیوي او د ځوانانو د فکري سلامتۍ لپاره یوه ځواکمنه وسیله ګرځېدلې ده.

**د اسلامي امت فکري او عقیدوي ساتنه**

اسلام موږ ته د ایمان، عقیدې او فکر د خوندي ساتلو حکم کوي. رسول الله ﷺ فرمايي: « يَا أَيُّهَا النَّاسُ، عَلَيْكُمْ بِالْعِلْمِ قَبْلَ أَنْ يُقْبَضَ، الْعَالِمُ وَالْمُتَعَلِّمُ شَرِيكَانَ فِي الْأَجْرِ، وَلَا خَيْرَ فِي سَائِرِ النَّاسِ» [۱]

علم د فتنو او د دیني غلط فهمیو د مخنیوي اساسي وسیله ده.

۱ المعجم الكبير للطبراني (8/ 220) وهكذا في جامع بيان العلم وفضله لابن عبد البر (1/ 122)

Made with Xodo PDF Reader and Editor



سوشل مېډيا د علم، پوهې او عقيدوي پوهاوي د خپرولو عصري او مؤثره وسيله ده.

**د کفر او الحاد د خطرونو پېژندنه**

کفر او الحاد ځوانان د دين، اخلاقو او ټولنې له لارې بې لارې کوي، د ناسمو کتابونو، نظرياتو او آنلاين تبليغاتو له لارې دوی په غلط فکرونو اخته کوي. سوشل مېډيا د دې د مخنيوي لپاره مرسته کوي چې د غلطو نظرياتو افشا وکړي، د ديني حقايقو، اسلامي عقيدې اومنطقي استدلال خپور کړي او د ځوانانو د فکري سواد کچه لوړه کړي.

**د قرآن او سنتو ملاتړ**

قرآن وايي: ﴿ وَلا تَتَّبِعُوا أَهْوَآءَ قَوْمٍ قَدْ ضَلُّوا مِن قَبْلُ وَأَضَلُّوا كَثِيرًا وَضَلُّوا عَن سَوَآءِ السَّبِيلِ﴾ (المائدة : 77) ﴾ [1]

ځوانان بايد له هوسونو او غلط لارښوونو ځان وساتي، سوشل مېډيا د سمې لارښوونې او د هدايت د رسولو وسيله ده.

رسول الله ﷺ هم د ځوانانو په فکري ساتنه ټينګار کړی چې د هغوی ښوونه او تربيت وکړي او د فتنو، دروغو او غلطو عقايدو مخنيوی وکړي.

١ تفسير روح البيان (2/ 57)

Made with Xodo PDF Reader and Editor



**عملي رول د سوشل مېډیا**

د ناسمو عقایدو، الحاد او کفر د نظریاتو تحلیل او ځواب ورکول، د ځوانانو لپاره اسلامي کورسونه، ویډیوګانې، لیکنې او د پوهاوي مواد د منطق، دلیل او اسلامي پوهې له لارې د فتنو مخنیوی.

**مثالونه:** د الحاد افکارو منطقي او اسلامي علمي ځوابونه، د ناسمو افکارو د مخنیوي آنلاین ورکشاپونه او د ځوانانو پوهاوی د عقیدوي فتنو په اړه.

**د امت د راتلونکې لپاره اهمیت**

ځوانان د امت فکري او عقیدوي ځواک دی، که دوی د کفر او الحاد د دسیسو ښکار شي، ټولنه کمزوري کېږي او د فکري ساتنې له لارې د امت راتلونکی تضمین کېږي.

**د سوشل مېډیا شرطونه د مثبتې فکري مبارزې لپاره**

محتوا باید علمي، دقیق او مستنده وي، هدف باید یوازې د فتنو او غلطو نظریاتو مخنیوی وي، هېڅ ډول توهین یا شعوري تندي ونه شي او ځوانان باید په ربښتیني او مثبت ډول د دین او عقیدې سره بلد شي. سوشل مېډیا د ځوانانو د فکري ساتنې او د کفر، الحاد او ناسمو فکرونو د مخنیوي لپاره د اسلامي عقیدې د ځواکمنتیا وسیله ده، د فتنو او غلطو نظریاتو مخنیوی کوي او د امت د راتلونکې لپاره د ځوانانو پوهه، بصیرت او ایمان پیاوړی کوي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



# شپږم فصل

## د سوشل میډیا منفي اغیزې، فکري، اخلاقي او ټولنیزې ستونزې

سوشل میډیا که له یوې خوا د معلوماتو، اړیکو او فرصتونو، دروازه پرانیزي، له بلې خوا د أمت خصوصًا د ځوان نسل د تباهۍ ستر فکري او اخلاقي سبب هم ګرځیدلې ده. مونږ به د سوشل میډیا په څو منفي کړنو باندې په لاندې ډول بحث وکړو:

**۱- د سوشل میډیا منفي اغېزې پر فکر او ذهني سکون**

ای ځوانه! ای د امت ځوانه!

ته د راتلونکې ستن یې، ته د سبا مشعل یې، خو دا مشعل که د فکري ګډوډۍ په بادونو کې پاتې شي، نو رڼا به یې مړه شي. سوشل میډیا ستا د لاس وسیله ده، خو که پام ونه کړې، ستا د فکر زنځیر به وګرځي.

**فکري ګډوډي – کله چې ذهن ستړی شي**

ای ځوانه!

کله چې ته هره ورځ سلګونه ویډیوګانې، پوستونه او نظریات ګورې، ستا ذهن خپل توان له لاسه ورکوي.

**ذهني تشویش – کله چې زړه بې سکونه شي:** سوشل میډیا تا په ظاهري خبرونو بوختوي، خو زړه دې له دننه ستړی کېږي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



اندېښنې، وېرې او د راتلونکې خيالونه ذهن اشغالوي. الله تعالی فرمايي: ﴿أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ﴾ [1]

خبر اوسئ! د الله ﷻ په ياد سره زړونه سکون مومي.

سکرين سکون نه راولي، ذکر يې راولي.

**ځان پرتله کول – د ځوان زړه پټه جګړه**

ای ځوانه!

ته خپل ژوند له خلکو سره مه تله، ځکه ته يې حقيقت وينې، خو هغوی نمايش کوي. د خلکو موسکا دې دوکه کوي. الله تعالی فرمايي:

﴿وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللَّهُ بِهِ بَعْضَكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ﴾ [2]

يعنې:اوالله تعالی چې يوکس ته دبل په مقابله کې کوم فضيلت ورکړې دې تاسودهغې خواهش مه کوئ. [3]

ته هغه يې چې الله ﷻ جوړ کړی يې، همدا ستا عزت دی.

**فکري يرغل او شکونه – د ايمان ازموينه**

ای د ايمان ځوانه! دا زمانه د تورو نه، د نظرياتو جګړه ده. په سوشل ميډيا کې ځينې خلک ستا دين پوښتنې ته نه، بلکې ملنډې ته راکاږي. الله تعالی فرمايي:

---

١ سورة الرعد:الآية ٢٨

٢ سورة النساء الأية ٣٢

٣ معارف القران ج ٣ ص ٣٥

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿يُرِيدُونَ لِيُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ﴾ [1]دوی غواړي د الله ﷻ نور په خولو مړ کړي.

خو ته پوه شه! دا نور د الله ﷻ دی، مړ کېدونکی نه دی.

**د تمرکز مرګ – کله چې فکر سطحي شي**

لنډې ویډیوګانې ژور فکر وژني او امت د هغو ځوانانو، نه جوړېږي چې ژور فکر ونه لري.الله تعالی فرمايي: ﴿أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ﴾ ايا دوی قرآن کې تفکر نه کوي؟ [2]

قرآن ژور فکر غواړي، سوشل میډیا ژور فکر وژني.

**بېخوبي – د ذهني تباهۍ دروازه**

ای ځوانه!

هغه شپه چې په موبايل تېره شي، هغه ورځ په ستړيا تېرېږي او ستړی ذهن سالم تصميم نه شي نيولی. الله تعالی فرمايي: ﴿وَجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ سُبَاتًا﴾ [3] موږ خوب ستاسو د آرام لپاره ګرځولی دی.

ای د امت ځوانه!

سوشل میډیا مه پرېږده چې ستا فکر، ايمان او سکون يرغل کړي. ته د امت هیله يې، وسیله په لاس کې وساته، زړه يې مه ور سپاره. موبايل مه پرېږده چې ستا فکر وروزي، په قرآن دې فکر وروزه.

---

١ سورة الصف الآية ٨

٢ سورة محمد الآية ٢٤

٣ سورة النباء الآية ٩

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ۲- د سوشل میډیا له لارې د ځوانانو پر اخلاقي فساد اغېزې

ای ځوانه! سوشل میډیا یوازې فکر نه ګډوډوي، بلکې د زړه او اخلاقو زوال هم پکې شونی دی. ډېر ځوانان د سکرول، غیر مناسب عکسونو، ویډیوګانو او خبرو تر اغېز لاندې خپل پاک اخلاق له لاسه ورکوي. الله تعالی فرمايي: ﴿وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَى إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاءَ سَبِيلًا﴾ [۱]

يعنې: زنا ته مه نږدې کېږئ، دا بېشرمي او بده لار ده.

**د حیا کمزوري**

سوشل میډیا ځوان ته داسې انځورونه او ویډیوګانې ښيي چې د حيا پرده يې څيرې وي. ځوانان بېحياء تصويرونه خپروي، د ځان يا نورو عزت ته پام نه کوي. رسول الله ﷺ فرمايي: «الْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الإيمَان» [۲]

حيا د ايمان يوه څانګه ده.

همدارنګه نبي ﷺ فرمايي: «اِذا لم تستحي فاصنع ماشِئت». کله چې حياء نه درځي هغه څه کوه چې دې خوښه وي.[۳]

کله چې حيا له منځه لاړه، ايمان او اخلاق هم کمزوري کېږي.

---

۱ سورة الإسراء الآية ۳۲

۲ سنن ابن ماجه (1/ 71،) وهكذا في مسند أحمد بن حنبل (2/ 442)

۳ سنن ابن ماجه (2/ 1400)

Made with Xodo PDF Reader and Editor



**دروغ، ريا او فريب**

ځوان په دې هڅول کيږي چې ژوند ښکلی کامل او بېعيبه وښيي، حتی که ريښتيا نه وي. د لايکونو لپاره دروغ ويل، ځان لوړ ښودل او حقيقت پټول. الله تعالی فرمايي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ﴾ [1]

ای د ايمان خاوندانو! له الله ﷻ وېره وکړئ او د رښتينو سره اوسئ.

**غيبت، شايعات او فکري توهين**

سوشل ميډيا د خبرو خپرولو لوی ميدان دی. ځوانان ډېر وخت په نورو غيبت کوي او شايعات خپروي.

**د اخلاقو عمومي زوال**

بېحيايي، د حق پر وړاندې بېپامي، حسد، لالچ او بېانصافي د سوشل ميډيا له لارې پراخه کيږي.

ځوانان د ښکلي ظاهري ژوند تر اغېز لاندې د اخلاقي معيارونو له منځه وړلو ته هڅول کيږي

ای ځوانه! خپل موبايل د فکر د زهر ځای مه جوړوه، خپل زړه پاک ساته. د سوشل ميډيا کارونه داسې تنظيم کړه چې ايمان، اخلاق او حيا دې ژغوري. هر پوسټ، ويډيو يا تبصره دې بايد د اخلاقي معيارونو له مخې وي او د حيا او صداقت په لار کې هر قدم دې د جنت لپاره وي.

[1] سورة التوبة الآية ١١٩

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ۳ـ د وخت ضایع کول

فیسبوک، ټیک ټاک، انسټاګرام، همداسې نور... په ساعتونو وخت اخلي خو پایله یې صفر وي. ځوان نسل بې ځایه وخت ضایع کوي، ویډیو پسې ویډیو ګوري، ورځ او شپه ترې هېرېږي او ټوله ځواني په همدغو تیره کړي.

نبي کریم ﷺ فرمائي: [اغتنم خمسًا قبل خمسٍ شبابک قبل هرمک، وصحتک قبل سقمک، وغناک قبل فقرک، وفراغک قبل شغلک، وحیاتک قبل موتک] [١]

ژباړه: غنیمت وګڼه پنځه شیان مخکې له پنځو شیانو، ځواني مخکې له بوډاتوبه، روغتیا مخکې له مرض نه، شتمني مخکې له نیستي، خلاص وخت مخکې له مشغولتیا او ژوند مخکې له مرګه.

نو باید د وخت زیات ارزښت وشي، ځکه وخت چې یو ځل تېر شي، بیا هیڅکله هم نه راګرځي. د وخت په موضوع مو مخکې فصلونو کې بحث کړی.

**۴ـ د سوشل میډیا له لارې عقیدوي کمزوري او د دیني بې‌خبرۍ**

ای ځوانه!

سوشل میډیا یوازې تفریح نه ده؛ که بې‌حده وکارول شي، فکر، ایمان او دین ته زیان رسوي. ځوان د مختلفو نظریاتو، الحادي محتوا

١ جامع الأحادیث (5/ 140) وهکذا في شرح الأربعین نوویة (ص: 126)

Made with Xodo PDF Reader and Editor



او فېک معلوماتو تر اغېز لاندې راځي او په نتيجه کې د عقيدوي کمزوري او د ديني بېخبرۍ ښکار کېږي.چنانچه واتقوا الله يا أولى الألباب. **ژباړه:** ای د عقل خاوندانو! د الله نه وويرېږئ او فکر وکړئ. [1]

**د ديني بې خبري پراختيا**

ځوان ساعتونه په سوشل ميډيا تېروي، خو د ديني علم لوستلو، حديث، قرآن او د علماوو لارښوونې ته وخت نه ورکوي.

د لمونځ او عبادت اهميت کمزورى کېږي، د ديني احکامو په اړه پوهه نه ترلاسه کوي او ځوان د خپل ديني مسؤليتونو نه بې خبره پاتې کېږي.

**عقيدوي شکونه او الحادي نظريات**

په سوشل ميډيا کې ځينې خلک دين د علم سره تضاد ښيي، الحاد او شکي نظريات خپروي او ځوان د خپل ايمان په اړه مغشوش کوي.

الله تعالى خبرداری ورکوي: ﴿وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ﴾ [2]

**ژباړه:** د هغه څه پيروي مه کوه چې پرې پوه نه يې. د پوهې نشتوالى عقيدوي کمزورتيا رامنځته کوي. د فکر ګډوډي د ديني باور کمزوري کوي. کله چې ځوان د حق او باطل ترمنځ توپير نه شي

---

١ التفسير الواضح (1/ 120)

٢ سورة الإسراء الآية ٣٦

Made with Xodo PDF Reader and Editor



کولی، عقیده یې ګډوډه کېږي، د دین اصول سطحي زده کوي، د فکري مباحثو په وړاندې ضعف ښکاره کوي او له دې امله الحادي نظریاتو ته په اسانه تسلیمېږي.

ای ځوانه!

خپل ذهن او زړه د سوشل میډیا د الحادي محتوا د یرغل نه وساته. د دیني زده کړو لپاره ځانګړی وخت وټاکه. قرآن، حدیث، فقه او د علماوو لارښوونې خپل ژوند ته نږدې کړه. د ورځې لږ تر لږه نیم ساعت د دیني مطالعې لپاره ځانګړی کړه، د سوشل میډیا محتوا له دیني علماء او حقایقو سره تطبیق کړه، له شک، غلط فهمۍ او الحاد نه ځان وساته.

سوشل میډیا که په هوښیارۍ وکارول شي، د زده کړې وسیله کېدای شي، خو بې حده استعمال یې عقیدوي کمزوري او د دیني بې خبرۍ سبب ګرځي.

ای ځوانه! خپل فکر، زړه او ایمان دې د دې وسایلو له زهر نه وساته، بلکې د الله ﷻ د رضا لپاره یې وکاروه.

## ۵- د سوشل میډیا له امله د عباداتو نه پاتې کېدل

ای ځوانه!

سوشل میډیا ساعتونه ستا له ژوند څخه نیسي او ډېر ځوانان د دې سبب کېږي چې خپل لمونځ، ذکر، قرآن لوست او نور عبادات له

Made with Xodo PDF Reader and Editor



لاسه ورکړي. عبادت یوازې د وخت تېرول نه، بلکې د زړه سکون، ایمان او اخلاقو ساتنه ده.

الله تعالی فرمايي: ﴿وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَمَا تُقَدِّمُوا لِأَنْفُسِكُمْ مِنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِنْدَ اللَّهِ﴾[1] **ژباړه:** اوتاسولمونځ ودروئ اوزکات ورکړئ (جهادته ځانونه چمتوکړئ)اوهرشی چې تاسودخپلو ځانونودپاره وړاندې ولیږئ چې دهر خیرڅخه عبارت دی هغه به دالله په نزد مونده کړئ. ۲

**د سوشل میډیا ساعتونه د لمونځ مخه نیسي**

ځوانان په، ټیک ټاک، انسټاګرام، فیسبوک او یوټیوپ باندې ساعتونه تیروي او له دې امله لمونځ او نور عبادات وروسته پاتې کیږي. د لمانځه وختونه له پامه غورځوي، د قرآن لوست کمیږي، د زړه سکون له لاسه ورکوي او د ایمان قوت کمیږي.

**د عبادت په کیفیت اغېزه**

که ځوان لمونځ کوي خو ذهن یې په سوشل میډیا کې وي، نو د ذکر توجه له منځه ځي او د دعا تاثیر کمیږي. همدا شان عبادت یوازې د بدن حرکت پاتې کیږي.

الله تعالی فرمايي: ﴿قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ﴾ ۳

---

۱ سورة البقرة الأية ۱۱۰

۲ عزیزالتفاسیرج ۱ ص ۲۰۲

۳ سورة المؤمنون الآية ۱

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ژباړه: بېشکه مومنان کامیابه دي.

خو عبادت چې د زړه نه وي، کامیابي نه راوړي.

**د ځوانانو لپاره دعوتي غږ**

ای ځوانه!

خپل موبایل مه پرېږده چې د الله عبادت دې ضایع کړي. هر ساعت چې د سوشل میډیا لپاره مصرفېږي، د عبادت یوه برخه پرېږدي. لمونځ، ذکر، قرآن او دعا د زړه سکون، فکري قوت او اخلاقي ثبات لپاره اړین دي.

د ورځې د سوشل میډیا لپاره ټاکلی وخت وټاکه، د لمونځ پر وخت موبایل بند کړه، لږ تر لږه د ورځې یو ساعت د ذکر او قرآن لپاره ځانګړی کړه. عبادت د ځوانانو د فکر، زړه او اخلاقو د روزنې وسیله ده.

سوشل میډیا که بې‌مهاره وکارول شي، د عباداتو ځای نیسي، خو که په هوښیارۍ وکارول شي، د علم، فکر او ایمان د پیاوړتیا وسیله هم کېدای شي.

ای ځوانه! خپل زړه او ذهن د الله ﷻ په یاد او عبادت کې مشغول کړه، نه د مجازي نړۍ په خواله کې.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ۶- د سوشل میډیا له لارې د حیا له منځه تلل

ای ځوانه!

حیا د ایمان یوه څانګه ده او د سوشل میډیا بې‌مهاره استعمال د حیا پرده څیرې کوي. ډېر ځوانان د مجازي نړۍ په اثر د ځان او نورو عزت نه ساتي او په دې سره د اخلاقي او روحاني ځواک له لاسه ورکوي.

الله تعالی فرمایي: ﴿وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ﴾ [1]

**ژباړه:** او ووایه ښځې دې خپلې سترګې ټيټې په کتلو عورتونو او سړيو ته په شهوت سره یا په شان دې دې سره له نظر ممنوع څخه او خپله حیا دې وساتي. [2]

**د حیا کمزوري او بې حیايي**

سوشل میډیا ځوان ته داسې عکسونه، ویډیوګانې او محتوا ښیي چې حیا یې له منځه وړي. غیر مناسب تصویرونه او ویډیوګانې، د ځان ښکاره کول په ناقانونه بڼه، د حیا او عزت کم ارزښت پېژندل د زړه سکون له منځه وړي او اخلاق کمزوري کېږي. لکه د نبي علیه

۱ سورة النور الآیة ۳۱

۲ تفسیر السعدي

Made with Xodo PDF Reader and Editor



السلام حديث هم دی کله چې له چا نه حياء لاړه شي، بيا يې چې څه خوښ وي هغه کوي

**ريا او فريب**

ځوانان هڅول کيږي چې ځان ښکلی او کامل وښيي، حتی که ربښتيا نه وي. د ځان د ښودلو لپاره دروغ ويل، د خلکو خوشحالۍ ته ځان پرتله کول او د نفس خوښې ته لومړيتوب ورکول د سوشل مېډيا اصل دی.

رسول الله ﷺ فرمايي: «الحياء من الإيمان» حيا د ايمان يوه برخه ده.

که حيا له منځه ولاړه، ايمان هم کمزوري کيږي

**د ټولنيزې بېعزتي پايلې**

کله چې ځوان حيا له لاسه ورکوي د خلکو ترمنځ عزت کمېږي، د شخصيت باور کمزورى کيږي او د اخلاقي معيارونو رعايت نه کيږي.

الله تعالى فرمايي: ﴿وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ﴾ [١]

مه نيږدې کيږئ فحشاء ته يعنې د هر ډول فحشا نه ځان وساتئ، ښکاره او پټه دواړو نه.

اى ځوانه!

١ سورة الأنعام الآية ١٥١

Made with Xodo PDF Reader and Editor



خپل موبایل او سوشل میډیا د حیا د له منځه تلو وسیله مه جوړوه. حیا د زړه سکون، ایمان او شخصیت محافظت کوي. هر عکس، ویډیو یا پوسټ دې د حیا او اخلاقو له معیار سره باید برابر وي.

د موبایل لپاره ټاکلی وخت وټاکه، د غیر مناسب محتوا مخه ونیسه، د حیا او صداقت ساتلو لپاره د قرآن او حدیث لارښوونې عملي کړه.

حیا د ځوان زړه ساتونکې ده.

سوشل میډیا که بې مهاره وکارول شي، د حیا پرده څیرې کوي، خو که په شعور وکارول شي، د اخلاقو او ایمان ساتنه یې هم کېدای شي.

ای ځوانه! خپل زړه پاک ساته او د حیا په لارې کې تل قدم واخله، ځکه چې حیا د انسان شخصیت او ایمان ته ژوند ورکوي.

**د ځوانانو لپاره ځانګړې عملي لارښوونې**

— د موبایل او سوشل میډیا وخت محدود کړه

— د ورځې مشخص ساعتونه یوازې د سوشل میډیا لپاره وټاکه.

— پاتې وختونه د عبادت، مطالعې او علمي فعالیتونو لپاره وکاروه.

رسول الله ﷺ فرمايي: «اغتنم خمسًا قبل خمس... حياتك قبل موتك...» [1]

[1] فتح الباري لابن حجر (5/ 400)

Made with Xodo PDF Reader and Editor



**ژباړه:** خپل ژوند د مرګ نه مخکې په ګټه تير کړه.

د مجازي نړۍ او حقيقي نړۍ ترمنځ توپير زده کړه، پوه شه چې انځورونه، ويډيوګانې او پوسټونه تل حقيقت نه ښيي او ځان د خلکو د نمايش سره مه پرتله کوه.

د دين زده کړه وکړه او عقيده ټينګه کړه. هره ورځ لږ تر لږه نيم ساعت د قرآن، حديث او ديني زده کړو لپاره ځانګړې کړه. د شک، الحاد او فکري ګډوډۍ نه ځان وساته.

لمونځ او عبادات مه هېروه . د هر لمانځه لپاره وخت وټاکه او موبايل بند کړه. ذکر، دعا او قرآن د ورځې يوه برخه جوړ کړه.

حيا او اخلاق وساته. د غير مناسب محتوا مخه ونيسه. په هر عکس، ويډيو يا پوسټ کې د حيا معيار مراعت کړه.

رسول الله ﷺ فرمايي: «الحياء من الإيمان» [۱]

فکري تمرکز پياوړی کړه. د سوشل ميډيا سره د ساعتونو تېرولو پر ځای د فکر او مطالعې لپاره وخت ورکړه. د ستونزو حل، تحليل او نوښت تمرين وکړه.

الله تعالی فرمايي: ﴿أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ﴾ ايا دوي په قران کې فکر نه کوي. له خلکو سره حقيقي اړيکې ټينګې کړه. له کورنۍ، دوستانو او ټولنې سره وخت تير کړه.

---

۱ اللؤلؤ والمرجان فيما اتفق عليه الشيخان (ص: 15)

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د غيبت، دراوغو او فريب نه ځان وساته. هيڅکله د خلکو په اړه بې ځايه خبرې مه کوه. د ريا او فريب څخه ځان پاک ساته. د ذهني سکون لپاره خاموشي غوره کړه. کله ناکله د موبايل، ټولنيزو شبکو او انټرنيټ نه فاصله واخله. د زړه سکون، فکر او عبادت لپاره ځان پاک وساته.

الله تعالى فرمايي: ﴿أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ﴾ [1]

وخت د نېک کارونو لپاره ولګوه. ساعتونه دې د سوشل ميډيا لپاره ضايع نه شي. د علم، اخلاقو، عبادت او خدمت لپاره مصرف کړه. هر ساعت چې ته د سوشل ميډيا لپاره مصرفوې، په شعور يې وکاروه. خپل موبايل د فرصتونو، علم، عبادت او اخلاقو د ودې وسيله وګرځه، نه د ذهن، ايمان او حيا د زوال لامل.

١ سورة الرعد الأية ٢٨

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## اووم فصل

## د اسلامي أمت اوسنی حالت او د شاته پاتې کېدو عوامل

اسلامي أمت یو وخت د نړۍ مشر ؤ دا هغه أمت و، چې علم یې نړۍ ته خپور کړ، تمدنونه یې راوپالل، عدالت یې نافذ کړ او انسانیت ته یې عزت ور وبانبه. د رسول الله ﷺ له زمانې څخه تر عثماني خلافته اسلامي أمت د نړۍ، د روحاني، فکري، علمي او سیاسي رهبري واکي په لاس لرله.

الله ﷻ فرمائي:

(كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ ال عمران ايات (110) ژباړه

(ای مؤمنانو)! تاسو (داسې) بهترأمت یاست چې د خلکو د (ګټې) دپاره

(میدان ته) راویستلي شوي یاست (ځکه چې) په نیکیو به (خلکو ته)

امر کوئ او بدو څخه یې منعه کوئ.

نو دا د اسلامي أمت یو وخت و چې هلته د مسلمانانو فکرونه غلامان نه ول او د پردیو د استعمار لاندې نه ول.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



**موږ مسلمانان ولې شاته پاتې یو!؟**

اوس مهال که موږ او تاسو وګورو، مسلمانان له نورې نړۍ څخه ډېر شاته پاته دي، نن مسلمانانو ته د کښته درجې خلکو په سترګه کتل کيږي، تر دې چې کله کله خو په ځينو هيوادونو کې مسلمان وګړي زړه نه ښه کوي چې په ټولنه کې ځان ته د مسلمان خطاب وکړي، ولې؟

کله چې تاريخ ولولو، له اتمې څخه تر دوولسمې پيړۍ پوري دوره د اروپايانو لپاره د تيارې دور (The dark ages) په نوم يادیږي، تياره يې ولي ورته ويل؛ ځکه د اروپايانو (غربي نړۍ) لپاره د جهالت او تيارې دوره وه، ځيني وختونه بيا اروپايان دغه د تيارې دورې کلمه ټولې نړۍ ته منسوبوي، چې ګواکې ټوله نړۍ هغه مهال په تيارو کې ډوبه وه، حال دا چې په نوموړو پيړيو کې يوازي دوی له انسانيت او علم څخه لري وو چې وروسته د مسلمانانو د تمدن د علم او پوهې څپو څخه برخمن او راپورته شول.

په نوموړو پيړيو کې مسلمانان په ټولو علومو کې دومره مخته وو، چې غربي نړۍ يې حتی تصور هم نشوای کولای، مسلمانانو د ساينس، ټکنالوژۍ او ټولنيزو علومو برخه کې بې ساري پرمختګ کړی وو حتی تر دې چې يهودو او غربي نړۍ د مسلمانانو په لاس

Made with Xodo PDF Reader and Editor



جوړو شويو هغو ماشينونو او توکو ته د سحر نوم ورکوه چې فزيکي ميکانيزم به يې دوی ته څرګند نه وو، او مسلمانان به يې ساحران بلل. اوس مهال اسلامي هېوادونو کې د ساينس په اړه په ټولو تعليمي مرکزونو کې دا فکر شتون لري چې ګواکې دا ساينسي لاسته راوړنې او پرمختګونه تر غرب او اروپا پورې تړاو لري، سره له دې چې نن ټوله نړۍ دا خبره مني چې اوسنۍ لاسته راوړنې او پرمختګونه ټول زموږ د مسلمانانو ساينسپوهانو د استقرايي استدلال پر بنسټ ولاړ دي او په سر کې يې زموږ د پياوړو عالمانو

او ساينسپوهانو لکه: خالد بن يزيد، زکريا رازي، ابو علي ابن سينا، خوارزمي، ابوريحان البيروني، فارابي، ابن مسکويه، کندي، ابن هيثم ، جابر بن حيان او موسی بن شاکر نومونه راځي، نو موږ فکر کوو چې هر څه مو له نورو زده کړي يا را اخيستي دي، سره له دې چې مسلمانو عالمانو په هر ډګر کې د ټولنيزو او ساينسي علومو په برخه کې د نړيوالو مخکښان او لاربنوونکي دي.

مخکې له دې چې د اسلامي نړۍ هغه عالمان ذکر کړو چې علومو او نړۍ ته يې پرمختګ ورکړی وو، په لنډ ډول راځو دې ته چې مسلمانانو څنګه خپل هغه روښانه او وياړلی موقف له لاسه ورکړ.

په لومړي سر کې غربي نړۍ هڅه پيل کړه چې مسلمانان له قرآن کريم څخه لرې وساتي، حال دا چې خپله يې قرآن کريم په ډېر دقت

Made with Xodo PDF Reader and Editor



سره ولوست او خپل د دنيوي پرمختګ لپاره يې پوره ګټه ځيني اخيستې ده. کفري نړۍ داسي يو پلان باندي کار پيل کړ چې څنګه مسلمانان ګمراه کړي، آخر کې دې پايلې ته ورسېدل چې مسلمانان په زور نه ماتېږي، نو داسي يو پلان يې جوړ کړ، چې علوم د مسلمانانو تر منځ وويشي، چې يوې برخې ته يې ديني او بلې برخې ته يې دنيوي او يا هم عصري علوم وويل او د دواړو برخو تر منځ يې د هغې بنسټيزې او اړينې اړيکې شکولو هڅه وکړله چې د مسلمانانو د پرمختګ راز پکې پټ وو، چې د وخت په تېرېدو سره په خپل پلان کې کامياب هم شول. ساينسي او ديني علوم يو له بل څخه جلا کړل شول، ساينسي علومو ته د عصري علومو نوم ورکړل شو او ديني علوم د قرآن کريم علوم وګڼل شول، حال دا چې ټول ساينس پر قرآن کريم ولاړ دی، ځکه خو په اوايلو کې چې مسلمانان په قرآن کريم کې ښه پوهه لرله، په ساينسي علومو هم پوه او پرمختللي وو. وروسته له دې به چې کله هم کوم مسلمان ديني علوم لوستل، هغه به ځان يوازي تر مسجد او مدرسې پوري محدود کړ اوعصري علوم به يې د ديني علومو څخه جلا او يا ځينو خو به بيخي د اسلامي اصولو خلاف ګڼل. او کله چې به کوم مسلمان عصري علوم لوستل پيل کړل، له ديني علومو سره به يې مخه ښه وکړله او د ديني علومو لوستل به ورته د وخت ضايع معلومېدله.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



په پایله کې د دیني او عصري علومو تر منځ هغه اساسي

او بنسټیزه اړیکه چې د مسلمانانو ښیرازي ورسره مل وه، وشکېدله. د دې تر څنګ د مسلمانانو شتمني او امنیت (ډاډه چاپېر یال) له منځه ولاړل کوم چې د پرمختګ لپاره ډېر مهم ځیزونه دي. او بله هڅه یې دا وه، چې څنګه ساینسي علوم له مسلمانانو څخه غلا او واګي یې په خپل لاس کې واخلي، او په تاریخ او علومو کې یې خپل په نوم درج کړي، نو یې تعلیمي نصابونه په خپل اختیار کې راوستل او په دغه کې هم کامیاب شول. په ساینسي علومو کې ډېر پر مختللي مسلمان عالمان دي نن یې په کتابونو کې نومونه نه لیدل کیږي او یا یې نومونه نورو نومونو ته بدل کړل سوي دي.

د ځینو عالمانو نومونه لاندي ذکر سوي دي:

• نن د ساینس کتابونه داسي لیکي چې (د وینې دوران/ Blood circulation) څلور سوه کاله مخکې (ویلیم هاروې/ William Harvey) کشف کړ، خو کله چې څېړنه او ژوره مطالعه وکړو نو معلومیږي چې اته سوه کاله مخکې (د ویلیم هاروې څخه څلور سوه کاله مخکې) ابن نفیس (۱۲۱۳-۱۲۸۸ ز) وو چې د وینې دوران (Blood circulation) یې کشف کړ، چې خپله ابن نفیس د قرآن کریم د ژورې مطالعې په پایله کې بریالی شوی وو.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



• د نړۍ لومړنۍ جغرافيايي نقشه ابو عبدالله محمد الادريسي (۱۱۰۰-۱۱۶۶ ز) په (۱۱۵۴ ز) کال کې وکاږله چې تر ننه ورڅخه ګټه اخيستل کيږي، الادريسي جغرافيه پوه او نقشه جوړونکی وو.

• د مثلثاتو (Trigonometry) علم البيروني رامنځته کړی دی، ځکه خو ابو ريحان البيروني (۳۶۲-۴۴۲ هـ. ق) ته د مثلثاتو پلار ويل کيږي.

• فاطمة بنت محمد الفهرية (۸۰۰-۸۸۰ ز) د لومړني پوهنتون بنسټ اېښودونکې ده، پلار يې لوی سوداګر وو، تر مړينې وروسته يې ټول مال لور (فاطمې) ته پاتې شو، چې د نوموړي پوهنتون ساختماني چارې ټولې دې په خپله وڅارلې او په اتلسو (۱۸) کلونو کې بشپړ شو.

• ابو يوسف الکندي (۸۰۱-۸۷۳ ز) ويلي وو چې ( All Laws are Relative)، څو کاله وروسته البرټ انسټاين د ( Theory of Relativity) تيوري رامنځته کړه او د نوبل جايزه يې واخيستل او الکندي لري کړل شو.

• نن موږ او تاسو په کيميا کې وايو چې (ګبر/Gaber) د کيميا د پلار په نامه ياديږي، حال دا چې اصلي نوم يې (جابر/Jabir) دی او د کيميا د پلار په نوم ياديږي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



- ابو علي ابن سينا (۳۵۹-۴۱۶ هـ . ش) چې يو ډېر پوه طبيب وو او ګڼ شمېر کتابونه يې ليکلي دي او تر ننه يې کتابونه پوره نه دي ژباړل سوي، په طبابت کې يو ځلانده ستوری دی، خو نن په طب کې د (اويسينا/Avicenna) په نوم يادېږي.

- ابو علی محمد بن حسن بن هيثم (۳۵۴-۴۳۰ هـ . ش) لومړنی عالم دی چې د نوري فزيک اړوند يې ډيري ليکني کړي دي، چې کتابونه يې تر ننه پوري تدريسيږي، لومړنی کېمره هم نوموړي اختراع کړه، چې د کېمرې کلمه له (قمرة) څخه اخيستل شوې، ځکه خو ورته د نوري فزيک پلار (Father of Optics) ويل کيږي، نوموړي دا هم جوته کړه چې د انسانانو سترګه څنګه ليدل کوي.

- درې وړونه جعفر، احمد او حسن ابن موسی ابن شاکر (دريم هجري قرن) لومړني انجنيران او رياضي پوهان وو، د دوی کتاب په (۸۵۰) کال کې خپور شو، چې د اتوماتو وسايلو په جوړولو کې ګټه ورڅخه واخيستل شوه.

همدارنګه دوی د ټولې نړۍ سطحه (Surface area of Earth) په داسي وخت کې اندازه کړله، چې غربي نړۍ دا نه منله چې نړۍ بيضوي (هګۍ ډوله) شکل لري او هواره يې ګڼل.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



په سل هاوو نور داسي عالمان لرو چې دلته يې نوم نه دی ذکر سوی، په سل هاوو مختلف کتابونه يې ليکلي دي او ډيرو مهمو شيانو په کشفولو کې يې ونډه درلودله. [1]

دا هغه زمانه وه چې داسلام درهبريت او قيادت وخت وه اسلام په نړۍ واکمني کوله اسلام په هر څه کې رسيدلي وه

**اوسنی واقعي انځور**

خو نن دا د خير او د راج أمت شاته پاتې دی، علمي ساحه کې پسې پاتې دي، له اقتصادي لحاظه محتاج دي، له اخلاقي لحاظه وروسته پاتې کيدونکي دي او يووالی يې په قومونو، ژبو، مذاهبو او سياستونو کې ورک دي.

**د شاته پاتې کېدو عوامل!**

د علم له ميدان څخه وتل امام شافعي رح وايي

[من أراد الدنيا فعليه بالعلم، ومن أراد الآخرة فعليه بالعلم، ومن أرادهما معاً فعليه بالعلم]. [1]

يعنې څوک چې د دنيا اراده لري چې دنيا يې روښانه شي، نو دی دې علم زده کړي اوڅوک چې د اخرت د جوړېدو روښانه کېدل

١ نن ټکی اسيا

١ تفسير السراج المنير (ص: 4560) وهكذا في شرح الأربعين النووية (ص: 115)

Made with Xodo PDF Reader and Editor



غواړي، نو علم دې زده کړي او که د چا اراده وي چې دواړو ولري يعنې د دنيا او اخرت، نو علم دې زده او حاصل کړي، د علم خو هسې اوږد بحث دی له هغه تېرېږو.

خو که نن مونږ وګورو أمت د علم له ميدانه وتلی، د علم وخت يې انټرنيټ ته ورکړی او بې علمي د هرې بدبختۍ سرچينه ده. اوس موږ هر علم ته زيات ضرورت لرو او نن چې مونږ شاته پاتې يو، لوی لامل مو د علم کموالی دی.

**د قران او سنتو نه جلاوالی**

د اسلامي أمت يوه لويه ضايع داده، چې د قران او سنتو پيغام د ژوند له عملي ساحې څخه جلا شوی دی، د قران او سنتو په ځای د ټيک ټاکونو خپرولو ځای نيولی.

**د شخصيتونو په ځای د اشخاصو تقليد**

ځوان نسل په سوشل ميډيا کې ټيک ټاکران، ټوکيان، په ځان ريشخند وهونکي او بې ادبه خلک او ښځې تعقيبوي، نه عالمان، نه داعيان او نه مفکرين.

**اخلاقي زوال او د شرعي ارزښتونو له منځه تلل**

په سوشل ميډيا ناوړه نشرات، بې حيايي، نمايش او فکري انحرافات رواج شوي دي چې د ټولو ماشومانو او ځوانانو فکرونه مو خراب شوي دي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## سياسي او اقتصادي استعماري يرغلونه

أمت له سياسي لحاظه د پرديو تر لاس لاندې دی او سوشل ميډيا ددې يرغل پټه وسله ده.

خوږو لوستونکو، خويندو او ځوانانو!

دا فصل مونږ. ته دا راښيي چې أمت له خپل اصل، علم، اخلاص، تقوا او وحدت څخه ليرې شوی، دا أمت د أمتونو پښه نه ده چې شاته پاتې ده، بلکې د خپل ځان پښه ده، که بيدار نشو، دا أمت به د نورو د فکري غلامۍ قرباني پاتې شي، خو که راويښ شو؛ همدا أمت به د نړۍ لارښوونه هم وکړي.

اې ځوانه، اې دسوشل ميډيا څارونکيه! زه درته دا نه وايم، چې ميډيا مه ګوره، ته ددې أمت د ملا تير يې، ددې أمت سترګې تاته دي، ته دې ځان په سوشل ميډيا مه خرابوه او مه يې فاسدوه، د خپل ځان عزت سره لوبې مه کوه، فکر وکړه او اسلامي امت ته خدمت وکړه.

سوشل ميډيا وکاروه، خو مبارزه پکې وکړه، دعوت پيل کړه، دا وسله د کفارو په ضد را واخله، نه د هغوی د دوستۍ دپاره، د علماؤو بيانات پکې نشر کړه او د خلکو فکرونه د اسلام لور ته را دعوت کړه، ترڅو ته په ټولنه کې په صالح سره ياد کړل شې، ترڅو يو رهمنا جوړ شې او جوړ به هم شې.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



# اتم فصل

## ولې اسلامي امت په سوشل میډیا کې شاته پاتې دی؟

سوشل میډیا د معاصر عصر تر ټولو اغېزمنه وسیله ده؛ داسې وسیله چې افکار جوړوي، ذهنیتونه بدلوي، کلتورونه صادر او واردوي او ملتونه یا پورته وړي او یا یې له منځه وړي. نن نړۍ د فیسبوک، ټویټر (X)، ټیک ټاک، یوټیوب او نورو ورته برنامو له لارې اداره کېږي.

خو پوښتنه دا ده چې ولې اسلامي امت، چې یو وخت یې د علم، دعوت، تمدن او فکر مشري کوله، نن په سوشل میډیا کې یا چوپ دی، یا تقلیدي دی، یا شاته پاتې دی؟ دا فصل د همدې پوښتنې علمي، فکري او واقعي ځواب لټوي.

### لومړی- د فکري لید کمزوري

د اسلامي امت تر ټولو لویه ستونزه دا ده چې ډېری خلک سوشل میډیا یوازې د تفریح وسیله ګڼي، نه د دعوت، اصلاح او فکري مبارزې میدان.

ځوانان ساعتونه په بېهدفه شیانو بوخت وي، علماء او فکري مشران سوشل میډیا ته د شک او بدګومانۍ په سترګه ګوري، نتیجه دا شوه چې میدان تش پاتې شو او نور قومونه وربانديې واکمن شول.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



حال دا چې وسايل نه بد دي او نه ښه، نيت او استعمال يې ښه يا بد کوي.

## دوهم- د علمي او مسلکي مهارت نشتوالی

سوشل ميډيا يوازې وعظ او نصيحت نه غواړي، بلکې د محتوا جوړولو مهارت، د ويډيو، تصوير او ژبې هنر، د مخاطب پېژندنه، د پيغام لنډ، جذاب او اغېزناک وړاندې کول، ډېری اسلامي محتواوې اوږدې غير منظمې، له عصري ژبې لرې او له احساساتي توازن بېبرخې وي؛ نو ځوان نسل يې نه آوري، ځکه ژبه يې د زمانې نه ده.

## درېيم- د اختلافاتو زياتوالی

اسلامي امت پر سوشل ميډيا کې ډېر وخت پر فروعي مسائلو جګړه کوي، يو بل تکفير او تخطيه کوي، شخصي او مسلکي بد رد روان وي چې دا حالت د امت تصوير خرابوي، لکه: په سورة الرعدپه (۱۱) آية کې راځي: [إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ] [۱]

**ژباړه:** بيشکه اللهﷻ هيځکله د يو قوم حالات نه بدلوي، ترڅو چې هغوی په خپلو اوصافو کې بدلون نه وي راوړی. که مونږ خپل مخکيني تاريخونه وګورو، نو مونږ ته به معلومه شي چې اکثريت

۱ سورة الرعد الآية ۱۱

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ماتې او شا تګونه چې اسلامي أمت ورسره مخ شوی هغه د اختلافاتو له وجې دي، که مونږ د اندلس د اتو پیړیو نه وروسته د مسلمانانو د ماتې لاملونه وګورو، په هغو کې لوی لامل اختلاف و، په اندلس کې د سقوط علامې له هغې ورځې را ښکاره شوي، له کومې ورځې چې د اندلس علماؤو په فروعي مسائلو باندې مناظرې او بحثونه پیل کړل.

لاسونه باید چېرته کیښودل شي، امین په جهر وشي که په پټه؟ رفع الیدین وشي او که نه؟ د لومړي تکبیر وروسته لاسونه تر غوږو پورته شي که تر اوږو؟ همداشان داسې نور... دا ټول هغه څه و چې اندلس یې له بربادۍ سره مخ او په اندلس کې یې د اسلام اته سوه کلن ځلاند او رپاند بیرغ را نسکور کړ.

د اندلس علماء په مستحباتو او مباحو مصروف شول، اصلي هدف ترې هېر شو، ځوانان یې د نصرانیانو غلامان شول او پیغلې یې د دوی وینځې شوې،[1] نو که اوس هم وګورو زمونږ هم په میډیا کې ټول وخت په خپل منځ کې شخړې او اختلافات وي. که دا شخړې او اختلافات مو وي، نو مونږ به هر وخت له ماتې سره مخ کیږو، که په هر میدان کې وي، آن د میډیا په میدان کې هم.

زمونږ چې په سوشل میډیا کې اختلافات وي دا غیر مسلمو ته دا پیغام ورکوي چې دا امت پخپله سره یو نه دی، نو هغوی میډیا په

١ الأندلس من الفتح إلى السقوط

Made with Xodo PDF Reader and Editor



خپله ولکه کې راولي او د ټولو ځوانانو فکرونه هم ګډوډوي. ځوانان له ديني محتوا ستړي شي، ټول وخت مشوش وي او اکثر مسلمانان په ميډيا کې يو پر بل تورونه لګوي، يو پر بل فتواوې ورکوي. په قوم، ژبه، مذهب او نظر باندې تعصب سره کوي، دا عمل نه يوازې أمت بې اتحاده کوي، بلکې نور خلک هم زمونږ له پيغام نه متنفر کوي.

الله ﷻ فرمائي: [وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا] [١]

**ژباړه:** تاسې منګولې ولګوئ په رسۍ د اللهﷻ او جدايي اختلافات مه کوئ.

نو دا يې لوی لامل دی چې په سوشل ميډيا کې اسلامي أمت شاته پاتې دی حال دا چې که غواړو له ضعفه ووځو، نو بايد له اختلافاتو لاس واخلو او په خپل مينځ کې سره متحد شو.

## څلورم- د پلان د جوړولو نشتوالی

غربي نړۍ د رسنيو لپاره پلان لري، هدف ټاکي، پيغام په تدريج رسوي؛ خو اسلامي امت انفرادي کار کوي، بې پلان پوسټونه کوي، دوام نه لري او دعوت چې بې نظامه وي، اغېز له لاسه ورکوي.

١ سورة ال عمران الآية ١٠٣

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## پنځم- د ژبې او نړيوال مخاطب نه پېژندنه

ډېرى اسلامي محتوا يوازې په محلي ژبه وي يعنې نړيوال مخاطب ته نه رسيږي. د انګليسي، عربي فصيحو او نړيوالو ژبو کمښت موجود دى. حال دا چې اسلام نړيوال پيغام لري او سوشل ميډيا نړيواله ژبه غواړي.

## شپږم- د منفي تصوير خپرېدل

نړيوالې رسنۍ ډېر وخت اسلام د تشدد، سختۍ او وروسته والي سره تړي

او موږ خپله پر سوشل ميډيا کې دا تصوير نه اصلاح کوو. کله چې مثبت بديل موجود نه وي، منفي تصوير غالب کيږي. موږ ټول وخت د خپل هيواد منفيات نشروو.

## اووم- د ځانکم ګڼنې رواني ناروغي

ځينې مسلمان ځوانان پر خپل دين باور کم لري، د غرب تقليد فخر ګڼي

اسلامي محتوا ته د کمارزښت په سترګه ګوري چې دا فکري ماتې تر ټولو خطرناکه ماتې ده. اسلامي امت په سوشل ميډيا کې شاته نه دى پاتې، ځکه چې وسايل نه لري، بلکې ځکه چې ليدلورى يې کمزورى دى، مهارتونه يې نه دي زده شوي، اختلافات زيات دي، پلان نشته او پر خپل پيغام يې باور کم شوى دى.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



که اسلامي امت نیت سم کړي، علم او مهارت سره یو ځای کړي، سوشل میډیا د دعوت، اصلاح او ویښتیا وسیله وګرځوي نو همدا میدان به د امت د بیا را ژوندي کېدو پیل شي.

**ګرانو ځوانانو:**

تاسو دخپلې ټولنې او هیواد راتلونکی یاست.ستاسوفکرونه،عملونه، او انتخابونه دټولنې درناخراغونه دي.هره ورځ چې تاسو زده کړه کوئ، مهارتونه زده کوئ اوخپل شخصیت لوړوی،تاسو یوازې خپل ژوند نه؛بلکې دټولنې ژوند هم روښانه کوئ.یاد ولرئ ریښتینی بریالتوب دشتمنۍ شهرت یا لایکونوپه لاس راوړلوکې نه دی بلکې هغه دی چې تاسو خپل عمل د الله درضا لپاره ترسره کړئ، خپل اخلاق لوړکړئ او دټولنې خدمت وکړئ.

ځوانانو خپل استعدادونه اوځواک مه ضائع کوئ. دزده کړې فرصتونه ونیسئ، مثبت فکر وکړئ، نوښت اوابتکاروکړئ او دخپلې ټولنې داصلاح لپاره په عملي کار لاس پورې کړئ. ستاسو کوچني ګامونه دټولنې لوی بدلون راوستلی شي: یو ښه عمل یوه مرسته یوه زده کړه یا یوه نوې پروژه ټولنه اصلاح او روښانه کوي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



**ځوانانو:**

نن خپل فکر،خپل عمل او اخلاق په سمه لار کې وکاروئ.خپل ځان جوړکړئ،ټولنې ته خدمت وکړئ او دخپل شخصيت اوټولنې رڼا شئ.ستاسو هر ګام دراتلونکې لپاره ارزښتناک دی.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



# نهم فصل

## اسلامي امت څنګه په سوشل ميډيا کې پرمختګ کولی شي؟

د ګوتې تر شا پټ قدرت نن نړۍ د تورو په زور نه فتح کېږي، بلکې د ټکنالوژۍ په فشار بدلېږي. همدا کوچنی د موبايل سکرين عقيدې جوړوي ارزښتونه بدلوي. ملتونه راپورته کوي او يا يې غورځوي؛ نو پوښتنه دا نه ده چې اسلامي امت ولې وروسته پاتې دی؟

اصلي پوښتنه دا ده چې آيا اسلامي امت د دې قدرت د کارولو عقل زده کړی؛ که لا يې هم يوازې کارول زده دي؟

**لومړی: سوشل ميډيا د ساعتېرۍ اله نه، د رسالت وسيله ده**

دليل: هر څه چې بې هدفه وکارول شي، انسان ترې غلام جوړېږي. سوشل ميډيا هم که د هدف پرته وکارول شي، وخت خوري، فکر کمزوری کوي او اراده وژني.

هر مسلمان ځوان دې له ځانه دا پوښتنه وکړي:

«زه چې دا اپليکيشن پرانيزم، غواړم څه جوړ کړم؟»

که هدف نه وي، پرمختګ نشته.

**دوهم: امت بايد ليدونکی نه، جوړونکی شي**

ستونزه دا ده چې اکثريت مسلمانان چې ګورې تبصره کوي او شخړه کوي؛ خو لږ خلک فکر جوړوي، علم خپروي او اخلاق وړاندې کوي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



تاریخ ښيي؛ هغه ملتونه ژوندي پاتې کېږي چې روایت تولیدوي، نه هغه چې یوازې روایت تعقیبوي.

هر لوستونکی دې په اونۍ کې لږ تر لږه یو مفید پوسټ، یا یوه فکري تبصره یا یوه لنډه ویډیو د خیر لپاره جوړه کړي، همدا د تولید پیل دی.

**درېیم- له چیغې څخه تر حجته**

ستونزه دا ده چې موږ ډېر وخت غږ جګوو، قهر ښکاره کوو، مخالف رټو؛ خو دا طریقه ذهن نه قانع کوي او زړه نه فتح کوي.

دلیل دادی چې اسلام د عقل دین دی. قرآن د دلیل کتاب دی، نه د سپکاوي، نو مخکې له پوسټ کولو دا وپوښتئ:

«ایا زما خبره دلیل لري که یوازې احساس؟»

که دلیل نه وي، خاموشي عبادت ده.

**څلورم- هر څوک عالم نه دی، خو هر څوک ګټور کېدای شي**

ستونزه دا ده چې موږ غواړو هر څوک فتوا ورکړي، بحث وکړي او حکم صادر کړي چې دا ګډوډي ده.

حل لاره یې دا ده چې اسلامي امت باید عالم ته علم پرېږدي، خطیب ته بیان، هنرمند ته هنر، تخنیکر ته تخنیک، لیکوال ته لیکوالي او انجینر ته انجینري.

ځان وپېژنئ:

Made with Xodo PDF Reader and Editor



که ښه ليکوال وې؛ وليکه، که تبليغ کوونکی وې؛ تبليغ وکړه، که ښه مفکر وې؛ فکر خپور کړه، که ښه ويډيو جوړوې؛ ويډيو جوړه کړه او که ښه تنظيم کوې؛ د نورو مرسته وکړه. يعنې هر څه بايد خپل اهل ته وسپارل شي.

**پنځم- له دفاع څخه تر ابتکار پورې**

ستونزه دا ده چې موږ تل تورونه ردوو، ځان سپينوو، وضاحت ورکوو؛

خو بريالي خلک پوښتنې جوړوي، بحث رهبري کوي، د دې پر ځای چې يوازې ځواب ورکړې.

يوه پوښتنه راپورته کړه، يوه موضوع پيل کړه، يو مثبت بحث رهبري کړه دا فکري مشري ده.

**شپږم- داسلامي رسنيو ملاتړ وکړئ**

هغه اسلامي او مثبتې رسنۍ چې دحقايقو دخپرولو هڅه کوي،تعقيب کړئ او ملاتړ يې کړئ.دهغو خلکو دهڅو ملاتړوکړئ چې غواړي په رسنيوکې داسلام ريښتيني انځور وړاندې کړي.

**اووم- دمنفي تبليغاتو په وړاندې مقاومت**

ډير تبليغات دځوانانو دعقيدې کمزوري کولو،داخلاقو خرابولواو دژوند په ناسم ډول وړاندې کولو هدف لري.بايد دخپل ايمان په ساتنه کې هوښيار او کلک واوسئ.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



**اتم- قرآن او سنتو ته رجوع وکړئ**

که دتبلیغاتو په اړه شک لرئ نو دحل لپاره قرآن او درسول الله صلی الله علیه وسلم سنتو ته مراجعه وکړئ دوی دهر ډول ستونزو لپاره دلارې رڼا ده.

**ای د مسلمه امت ځوانه!**

ځوانان د یوه ملت تر ټولو قوي او پیاوړی ځواک دی. ځوانان دي چې د هر قسم حالاتو په تغیر کې پیاوړی رول لوبوي،ځوانان د ټولنې د ملا تیر ګڼل کیږي، ځوانان دي چې نظامونه په پښو دروي او نظامونه را پرځوي.

الله تعالی هم په خپل کتاب قرانکریم کې د ځو ځوانانو نمونې وړاندې کړیدي، لکه اصحاب کهف چې هغوی ټول ځوانان وو،همدارنګه حضرت ابراهیم خلیل الله تنکی ځوان ؤ چې بوتان یې مات کړل، یوسف علیه السلام هم دخپلې ځوانۍ ځو کالونه په بندیخانه کې تیر کړل... داځو هغه ځوانان ؤ چې کیسې یې الله تعالی په خپل کتاب قرآن کریم دعبرت په خاطر مونږ ته وړاندې کړې. اوس غواړم درسول الله صلی الله علیه وسلم دامت دځوانانو ځینې کارنامې درته تقدیم کړم.

د رسول ﷺ ټول صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین ځوانان وو دهمدغو مخلصو او په دین مینو ځوانانو برکت وو چې دفارس او

Made with Xodo PDF Reader and Editor



روم په شان لویې لویې امپراطورۍ ونړیدې، او داسلام مقدس دین دنړۍ ګوټ ګوټ ته ورسید.

خو افسوس د نن زمانې په ځوانانو چې بې غمه بې درده اوبې احساسه خپل ژوند په عبثیاتو کې تیروي .

د تیري زماني ځوانانو به چې کله داسلام ضد عمل ولید دسر په بیه به یې دهغه د محوه کولو لپاره اقدام کولو ترهغه پورې به یې ادامه ورکوله تر څو به یې دغه اسلام ضد عمل محوه کړی نه ؤ،یا به دوی شهیدان شوي نه ؤ،او یا به یې برې او سوبه ترلاسه کړې نه وه.

چې نن مونږ ټول مسلمانان دهغه وخت په مسلمانانو او دهغوی په تاریخ ویاړو او افتخار پرې کوو.دبېلګې په توګه داسلامي تاریخ ځلانده ستوری تنکی ځوان محمدبن قاسم یادولای شو چې نو موړی په اوولس کلنی کې د یوه لوی لښکر مشري په غاړه واخسته هند او سند یې فتحه کړل.

اې دامت ځوانه راشه  ته هم د محمد بن قاسم لاروی شه،تاته نن امت ضرورت لري،نن ته هغه څوک شه چې په راتلونکی کې داسلام تاریخ او راتلونکي مسلمانان په تا باندې وویاړي،همدا ته دامت هیله او امید یې،همدا ته یې چې مظلوم امت ته دسر تاج شې،

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ته يې چې د مظلوم دفاع ته لبيک ويلی شې،ته يې چې د مظلومو او نا چارو مسلمانانو اوښکې پاکولای شي،ته يې چې د نړی په هر ګوټ کې و غواړي د مظلوم نه دفاع کولای شې ،ته يې چې بيرته د مسلمانانو تير برم او عظمت را وستلای شې کولو شو په ميډيا کې دکفارو مقابله وکړو خپل اسلام ته خدمت وکړو...

**خو افسوس د نن زمانې په ځوانانو**

د نن وخت ځوانانو د اسلام تير تاريخ هير دی خپل نوميالي ځوانان نه پيژني، په هر حالت کې د غرب تقليد کوي ، د غرب ځوان ورته ښه ښکاري، دغرب په تمدن باندي افتخار کوي،ډيمکراسي او سيکولريزم ورته تر ټولو اديانو بهترين دين ښکاري، خپل صورت او سيرت دواړه دغربيانو په موډ برابروي،

اسلام او مسلمانان ورته وروسته پاتې ښکاري،او دغربې کلتور دعملي کولو لپاره نه ستړې کيدونکې هلې ځلې کوي،کله مو ډلينګ تر عنون لاندي په مسلمانانو کې غربې افکار نشرکوي کله د مينانو ورځ لمانځې او کله هم دغرب په لمسون داستعمار پروګرامونه ترويج کوي ...

اې د امت محمدي ځوانه راشه لاس بډې کړه او د اسلام لپاره کار وکړه ځکه نن امت تاته ضرورت لري، سبا به تاته داسلام په تاريخ

Made with Xodo PDF Reader and Editor



کې د قهرمان او نو ميالي اتل نوم درکول کيږي په نوم باندي به د دمسلمانان افتخار کوي.

خوږه لوستونکيه!

که ته دا فصل لولې، نو ته عادي کاروونکی نه يې. ته کولی شې د يو پوسټ په وسيله فکر بدل کړې، د يوې خبرې په زور زړونه راويښ کړې

نو له نن نه دې د موبايل نيت بدل کړه، سکرين عبادت مه ګرځوه؛ بلکې رسالت ترې جوړ کړه. که نيت سم شي، سوشل ميډيا د امت د بيدارۍ منبر ګرځي. ان شاء الله

Made with Xodo PDF Reader and Editor



# لسم فصل

# په سوشل میډیا کې د پرمختګ لارې چارې په شرعي چوکات کې

سوشل میډیا نن ورځ د اړیکو او معلوماتو لویه سرچینه ګرځیدلې ده، مسلمانان که غواړي چې په دې ډګر کې پرمختګ وکړي، باید دا کار په داسې طریقه ترسره کړي چې د اسلام اصلي اصولو او شریعت سره په خلاف کې نه وي، ځکه چې هر پرمختګ چې د دین خلاف وي، هغه زیانمن او بې ګټې وي.

په دې فصل کې به د سوشل میډیا په کارولو کې د شرعي حدودو رعایت، اخلاقي اصولو مراعت او د پرمختګ سمې لارې چارې تشریح کړو.

## د اسلام اصولو ته ژمنتیا

په لومړي قدم کې ضروري ده، چې مسلمانان د سوشل میډیا په استعمال کې د اسلامي احکامو پابند وي او د خبرو کولو له لحاظه هم. الله ﷻ فرمائي: ﴿وَقُلْ لِعِبَادِي يَقُولُوا الَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَنْزَغُ بَيْنَهُمْ إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلْإِنْسَانِ عَدُوًّا مُبِينًا﴾ [١]

**ژباړه:** او ووایه بندګانو زما ته چې وایي هغوی هغه خبره چې هغه ډېره ښه وي؛ بیشکه چې شیطان فساد اچوي په منځ د هغوی کې،

١ سورة الاسراء الآية ٥٣

Made with Xodo PDF Reader and Editor



بیشکه چې شیطان د انسان دپاره دښمن دي.

یعنې ښکنځل، سپکې سپورې او غصې باید په سوشل میډیا کې ونه شي او د امام قرطبي (رح) تحقیق دا دی چې په دې ایت مبارک کې مسلمانانو ته په خپل منځ کې د خطاب کولو باره کې هدایت دی چې خپل منځ کې د خطاب کولو په وخت کې سخت کلامي مه کوئ، ولې چې ددې په ذریعه شیطان د دوی ترمنځ جنګ او فساد پیداکوي.

دا آیة مونږ ته دا درس راکوي چې په هر ځای کې، حتی په سوشل میډیا کې د هغې په استعمال کې هم د اسلامي احکامو پابندي وکړو، د حسن اخلاق او ښو خبرو له لارې باید خپل پیغام ورسوو.

## د صداقت او رښتینولۍ مراعت

په سوشل میډیا کې باید تل رښتنولي وساتل شي او له دروغو، کذب او فریب څخه ډډه وشي. پیغمبر علیه السلام فرمائي: [انَّ الصدقَ یَهدي الی البر وانَّ البر یهدي الی الجنة] [۱]

**ژباړه:** بیشکه رښتیا ویل سړي ته لاربنوونه کوي نیکي ته او نیکي لاربنوونه کوي جنت ته.

داسې عملونه چې د دروغو او فریب او د خلکو د غولولو سبب کرځي، دا د اسلام د اخلاقو خلاف دي او د سوشل میډیا د کارولو

۱ صحیح مسلم (8/ 29) وهکذا في رياض الصالحين (ص: 64)

Made with Xodo PDF Reader and Editor



پرمختګ ته زيان رسوي، بايد په سوشل ميډيا کې له دروغو په کلکه ځان وساتو.

که مو په سوشل ميډيا کې دروغ نشرول، نو بيا مو‌ږ هيڅکله هم په سوشل ميډيا کې پرمختګ نشو کولی،

نو بايد له دروغو ډډه وکړو.

## داخلاقي حدودو مراعت او نامناسب محتوا نه خپرول

اسلام د ټولنې د عفت، پاکي او اخلاقو ساتنې ته ډېره پاملرنه کړې ده، په دې توګه په سوشل ميډيا کې د نامناسبو، بې شرمۍ، غيبت، افتراء او بې انصافي مخنيوی لازمي دی. بايد په سوشل ميډيا کې له هر ډول فساد، توهين او د خلکو د سپکاوي څخه ځان وساتو.

## مثبتې او ګټورې خبرې خپرول

په سوشل ميډيا کې پرمختګ هغه وخت رامنځته کيږي چې مسلمانان مثبت، علمي، اسلامي او تعليمي مواد خپروي. [خَيرالناس انفعهم للناس]

تر ټولوغوره خلک هغه دي چې نورو ته له ټولو ډېرې ګټې ورسوي، نو مسلمانان بايد خپل مهارتونه په دې ډګر کې د ښو پيغامونو د خپرولو لپاره وکاروي، لکه د دين ښوونه، فرهنګي پرمختګ او د ټولنې د ستونزو حل.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## د وخت او انرژۍ ښه مديريت

د سوشل ميډيا ناوړه استعمال کولی شي وخت ضايع کړي او انسان له مهمو دندو ليرې کړي، په دې برخه کې اسلامي ښوونه داده چې هر مسلمان بايد خپل وخت په معقول ډول استعمال کړي.
علماء وايي: [الوقت کالسيف ان لم تقطعه قطعک] وخت لکه توره داسې دی، که دی دې پرې نه کړو، تا به پرې کړي، نو د سوشل ميډيا کارول بايد داسې وي چې د انسان ژوند له عبادت، زده کړو، کار او کورنيو اړيکو سره په ټکر کې نه وي.

## د حريم رعايت او د شخصي معلوماتو خوندي ساتل

په سوشل ميډيا کې د خپلو او نورو خلکو شخصي معلوماتو ساتنه ډېره مهمه ده، اسلام د حريم او محروميت احترام ته ډېر ارزښت ورکوي، په دې اړه پيغمبر عليه السلام فرمائي: [من ستر مسلمًا ستره فی الدنيا والأخرة]
**ژباړه:** چا چې د يو مسلمان پرده وکړه حريم يې وساته، الله ﷻ به دده پرده په دنيا او اخرت وکړي، نو مسلمان بايد د خپل شخصي محرميت ته پوره پاملرنه وکړي او د نورو حريم هم مراعت کړي.
خو نن خبره دا ډول نه ده؛ بلکې نن ټول خلک په دې لټه کې دي چې څنګه به په چا عيب او يو داغ ولګوي، څنګه يو څوک بدنام کړي، پټول خو څه کوې، بايد مسلمان له دغو کارو څخه لاس

Made with Xodo PDF Reader and Editor



واخلي. دا د بل مسلمان شرمندګي ده او دده شرمندګي هم ده، مګر دی په ځان نه دی خبر.

## د تعصب او کرکې مخنيوی

په سوشل ميډيا کې د قومي، مذهبي او ژبني تعصب خپرول د مسلمان لپاره سخت منعه دي،

اسلام د اخوت، ورورولئ او د ټولو مسلمانانو د عزت تعليم ورکوي. الله ﷻ فرمائي: [إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ] [1]

**ژباړه:** بيشکه مؤمنان ورونه دي. له دې امله بايد په سوشل ميډيا کې کرکې، دښمني او تعصب نه وي، بلکې د يووالي، محبت او همکارۍ په بناء باندې پيغام خپور شي.

## د علم او مهارت زده کړه

اسلام زده کړې ته ډېر اهميت ورکړی او ورکوي يې، د سوشل ميډيا په سمه استفاده کې بايد علمي مهارتونه زده کړل شي، لکه نېک دعوتي پيغام جوړول، د معلوماتو ارزونه، د فکري تحليل توازن او د نوې ټکنالوژۍ څخه ګټه اخيستل، نو که مسلمان غواړي چې په دې ډګر کې پرمختګ وکړي، نو د ټکنالوژۍ او سوشل ميډيا د مهارتونو زده کړه ضروري ده او بايد زده شي.

---

[1] سورة الحجرات الآية ١٠

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## د توازن او اعتدال رامنځته کېدل

اسلام د هر کار په کولو کې اعتدال غواړي، الله ﷻ فرمائي: [وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا] [1]

مونږ تاسې منځینی او متوازنه أمت ګرځولي یاست.

په همدې اساس د سوشل میډیا استعمال باید اندازه ولري، نه ډېر کم نه ډېر زیات، ډېر استعمال د دنیا له اصلي چارو، عبادت، زده کړې او کورني ژوند څخه شخص لیرې کوي او کم استعمال بیا شخص له پرمختګ محرومولي. توازن باید وي؛ ترڅو د ایمان او دنیا اړتیاوې یو ځای پوره شي.

١ سورة البقرة الآیة ١٤٣

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## يوولسم فصل
## د اسلامی امت ستونزي او د ځوانانو مسؤوليت

قال الله تعالى: (وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ)، [1] ( كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ [2]) (او همدارنګه موږ ګرځولي يۍ تاسې منځنۍ امت ترڅو په نورو خلکو شاهدان و اوسۍ)، (تاسې وی نيکمرغه امت چې را ايستل شوی ترڅو په نيکو امر وکړي او له بدو مخنيوی وکړي).

لکه د بل هر اسماني دين په څير اسلام هم د بشريت د روزنې او برياليتوب په موخه يو الهي دين دی، چې د بل هر دين په پرتله يې بشريت ته ډير څه ډالۍ کړي، آن تردې چې په هره برخه کې کامل او تلپاتې منل شوی، د بشريت د تاريخ په اوږدو کې اسلام تر ټولو دينونو زيات د بشريت رهبري کړي، تر بلې هرې نظريې او قانون څخه زيات اسلام ملتونه سمبال کړي او خپلو مسؤوليتونو ته يې متوجه کړي، اسلام د ژوندانه په هره برخه کې مخکښ او لاربښود پاتې شوی، د هر پرمختګ او هوسايۍ پيل په اسلامي ټولنو کې پيل شوی، د هر علم او ساينس بنسټ ايښودونکي مسلمانان وو، دا چې په نن عصر کې اسلامي ټولنې د سختو ستونزو سره لاس او ګريوان دي لامل يې د مسلمانانو ديني کمزوري ده چې غواړم په دې را کړل

---

[1] سورة البقرة الآية ١٤٣

[2] سورة ال عمران ١١٠

Made with Xodo PDF Reader and Editor



شوي وخت کې د مسلمانانو د کمزورۍ لاملونو ته په لنډو اشاره وکړم.

**د رهبريت ذهنيت په هر اړخيزه توګه له منځه تللۍ:**

مسلمانانو په پيړيو پيړيو د ولسونو واګې درلوده او ملتونه يې رهبري کول، رهبريت او قيادت د مسلمانانو په لاس کې، په نړۍ کې مسلمانانو غوښنه برخه درلوده، په هرڅه کې د مسلمانانو رايه اړينه بريښيده، يوازې په دې وروستيو پيړيو کې يې خپل هويت له لاسه ورکړ او په ظالمانه توګه د رهبريت حق ترې غصب شو، بدبختانه په ننې عصر کې مسلمانان نه په عملي ډګر کې او نه هم په فکري برخه کې د خپل غصب شوي حق په اړه کوم ګام اوچتوي او دا خپله د اسلامي امت د عظمت په را ټيټولو کې رول لري، مسلمانان په ځانګړې توګه ځوانان بايد د رهبريت او قيادت فکر ته وخت ورکړي په دې توګه خپل مسؤوليت وپيژني.

**مسلمانان د خپل دين نه نا خبره دي:**

يو له مهمو ستونزو څخه چې مسلمانان ورسره لاس او ګريوان دي يو هم دا چې مسلمانان خپله د خپل دين څخه ناخبره پاتې دي، ځوان قشر د اسلام په ريښتيني مفهوم ترډيره نه پوهيږي چې دا خپله د مسلمانانو د پرمختګ خنډ ګرځي، مسلمان ځوانان بايد د خپل دين څخه په بشپړه توګه خبر وي، د خپل دين غوښتنې بايد وپيژني او په اړه يې کوټلي ګامونه واخلي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



**د دې امت مسؤولیت:**

د مسلمانانو یوه لویه ستونزه دا هم ده چې خپل مسؤولیت ته ترډېره نه دي متوجه، خپل مسؤولیت نه پیژني دین ته یوه میراثي بڼه وکړي، زموږ ځوانان پردې نه پوهیږي چې مسؤولیت یې څه دی، یو مسلمان ځوان باید د خپلې ټولنې ستونزې وپیژني او د حل لپاره یې لارې چارې و لټوي، دا امت باید پردې پوه شي چې د خدای له لوریه خلیفه او استازی ټاکل شوی.

**دا امت اوس مهال سخت رنځور دی:**

اسلامي امت په نني عصر کې د سختو مرضونو سره ګیر پاتې دی او ترهغې چې دا مرضونه را کم نشي مسلمان ځوانان نه باید د خلاصون تمه ولري، موږ نن ورځ د جهالت په مرض آخته یو، موږ د فقر وروستۍ اندازې ته رسیدلي یو، موږ په اخلاقي ککړتیا کې لوبیږو، موږ د فکري کمزورۍ ښخه ځوریږو، موږ په فرهنګي ډګر کې پس پاتې یو، چې دا هر یو د اسلامي امت لپاره یو دردوونکی مرض بریښي او د مسلمان ځوان دا فریضه ده چې دا ستونزې و پیژني او د حل لپاره یې متې را ونغاړي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



**د يووالي نشتوالی:**

اسلامي امت يو موټی امت دی، چې خبره يې بايد يوه وي او درد يې سره شريک وي، خو اوس مهال په اسلامي ټولنو کې استعمار د قوم پالنې، ژبې او سمت سکروټې سختې تازه کړې، وخت نا وخت د مسلمانانو د سره جلاکولو په موخه لاپسې پوکی ورته کوي، زموږ په ټولنه کې هم همدا بدمرغي روانه ده تردې چې ډېر اسلام ته منسوبې کړی هم په دې لومو کې را jaliliy saib ګيرې دي، د اسلامي امت لپاره دا يوه لويه ستونزه ده چې مسلمان ځوان بايد په کلکه توجه ورته وکړي، د خپل خدای دا قول بايد تل په ذهن کې وساتي چې وايي (واعتصموا بحبل الله جميعا ولاتفرقوا) د خدای په دين منګولې ولګوی او مه سره جلا کيږي، سره يوځای يوموټی پاتې شۍ ترڅو دښمن مو درځنې وډار شي او پرتاسې د بريد جرأت له لاسه ورکړي.

موږ نن ټيک د پيغمبر د هغې خبرې مصداق ګرځيدلي يو چې وايي (تاسې به د سيل د ځک په څير شۍ) هر چيرې به لږ لږ پاتې کيږي د سيل د اوبو په څير به مو هرڅوک له يوه ځايه بل ځای ته ليږدوي او سره ټوټه کوي به مو.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



**له پيغمبر څخه يې بايد زده کړو:**

پيغمبر د خپلې ټولنې د خلاصون لپاره په يوازې توګه پيل وکړ، نه ستړي کيدونکې هلې ځلې يې پيل کړې، د خپل دين د برياليتوب لپاره يې شپه او ورځ په ځان يوه کړه تردې چې الله جل جلاله بريالۍ کړ، د دين بنسټ په عقيده او عمل ولاړ دی، رب تعالی بې عمله زاري کوونکي نه خوښوي، رب تعالی د هغه چا مرستندوی دی چې د خپل دين او خپل امت د برياليتوب لپاره هر عمل او هرې قربانۍ ته چمتو وي.

**له صحابه کرامو يې بايد زده کړو:**

د پيغمبر صلی الله عليه وسلم ملګرو او يارانو هم د دده په پله پل کيښود او د خپلې بريا لپاره يې عقيده او عمل دواړه پرمخ بوتلل، وګورئ ځوان صحابي ابوذر غفاري چې کله مسلمان شو راغی په کعبه کې يې د لااله الاالله کليمة اعلان کړه، ده ته خو دا چا نه وو ويلي چې داسې وکړه بلکې هغه پخپله پردې پوه شو د لااله الاالله مفهوم همدا دی، عبدالله بن مسعود به په کمزوري جسم بيا هم د مشرکينو په وړاندې په لوړ آواز د قرآن تلاوت کولو، عمر فاروق چې کله مسلمان شو نو پيغمبر ته يې وويل اې د الله رسوله آيا موږ په حق نه يو، پيغمبر ورته وويل بلکې موږ په حق يو، عمر فاروق ورته وويل نو بيا د څه لپاره خپل حق پټوو راځۍ چې ښکاره يې کړو،

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د پیغمبر اصحاب ټول د لااله الاالله د کلیمې په مفهوم پوهیدل، هغوی ته څرګنده وه چې د لااله الاالله کلیمه مسؤولیتونه لري چې باید ترسره یې کړو.

**لااله الاالله ملتونو ته د تغیر پیغام راوړی:**

اقبال لاهوري وایي (اګر ګویم مسلمانم مې لرزم که ګویم مشکلات لااله الاالله)، په لااله الاالله ایمان په بنسټیزه توګه د تغیر لپاره چمتوالی ښکاره کوي، هغه څوک چې د لااله الاالله په مفهوم پوهیږي هغوی په خپل ځان او ټولنې کې د تغیر هڅې کوي، او تغیر هسې په څو دودیزو عبادتو نه ترلاسه کیږي، بلکې تغیر حرکت او خوځښت ته اړتیا لري، ترڅو ټاکلې موخې ترلاسه شي.

**ځوانان دي چې امتونه له ډوبیدو ژغوري:**

که اسلامي تاریخ ته نظر وکړو، همدا ځوانان وو چې د اسلام په بریالیتوب کې یې په زړه پورې ونډه درلوده، د اسلامي لښکر سر لښکران ځوانان وو، عشرة مبشرة ځوانان وو، لمړني مسلمانان ټول ځوانان وو، پوځي قومندانان ځوانان وو، مشهور دیني پوهان ځوانان وو د قرآن مفسرین ځوانان وو، خلاصه دا چې هرڅه د ځوانانو په مټو ژوندي پاتې دي، که ځوان نه وي نو د ملتونو هویت به په سمندرونو لاهو شي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د اسلام نه مخکې ملتونو ته هم ځوانانو ساه وربښلې قرآن د أصحاب کهف په اړه وايي: (انهم فتية آمنوا بربهم و زدناهم هدا) دا يوه ډله د ځوانانو وه چې په خپل رب يې ايمان راوړی وو، او موږ د دوی لارښوونه پياوړې کړه، قرآن د ابراهيم عليه السلام په هکله وايي: (فتا يذکرهم يقال له ابراهيم) هغه ځوان دی يادوي يې، ابراهيم ورته وايي.

**تغير ځوان احساس ته اړتيا لري:**

ليدلي به مو وي چې په سن لوړ خلک تل د مصلحتونو په لټه کې وي، تل هرڅه تر خپل مصلحت پورې تړي، موږ د افغانستان په جهاد کې وليدل چې ډيرو تکړه مسلمانانو د تقاعد نيتې ته د نيږدېکت له امله هجرت ونکړ، بل خوا ځوانانو هرڅه د خپل پاک احساس قرباني کړل، خپل تحصيلونه يې په نيمايي کې پريښودل مصلحتونه يې په نظر کې و نه نيول بلکې د خپل دين او وطن د استقلال لپاره يې سنګر ته مخه کړه، او د سپيڅلي تغير لپاره يې له سپيڅلي احساس څخه کار واخيست.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



**د تغير تمه له متحركو ځوانانو څخه کيږي:**

حسن البناء رحمه الله د تغير لپاره څو شرطه بيان کړي چې وايي:

۱- نظريه هغه وخت بريا مومي كله يې چې په اړه ايمان قوي شي، او قوي ايمان تل په ژونديو او ويښو زړونو کې ځای نيسي.

۲- يو فكر هغه وخت ځای ته رسيږي كله چې په اړه يې پوره اخلاص موجود وي، او د اخلاص تمه له پاكو او سپيڅلو زړونو څخه کيږي.

۳- د هر فكر او نظريې لپاره احساساتو ته اړتيا ليدله کيږي، او ښه احساسات د قوي شعور څخه سرچينه اخلي.

۴- له پورتنيو ټولو شرطونو سره سره قربانۍ او عمل ته هم اړتيا ليدله کيږي، چې د كلكې ارادې څرګندويي کوي.

بيا وايي: چې دا ټول په يوه ځوان کې را ټوكيدلی شي، هيڅ فكر پرته له ځوان څخه هدف ته نشي رسيدلی.

**اوس نو له كومه ځايه پيل وکړو:**

لمړی: بايد خپل دين په ښه توګه وپيژنو.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



دوهم: بايد د خپل امت او خپلو ټولنو په اوسني حالت ښه ځان وپوهوو، ستونزې يې را څرګندې کړو او د حل لارې چارې يې په ګوته کړو.

دريم: بايد د ځانونو لپاره لوړ هدفونه وټاکو، موږ د څه لپاره پيدا شوي يو، قرآن وايي:

(وماخلقت الجن والانس الا ليعبدون) ما پيريان او انسانان نه دي پيدا کړي مګر د عبادت لپاره، هر خدمت ته بايد ديني ښه ورکړو ترڅو عبادت وشميرل شي، پرته له هدفه ژوند د يوه حيوان د ژوند سره ورته والی لري، موږ بايد عمل ته متې را ونغاړو، علماء وايي چې هر انسان بايد په خپل ژوند کې يو ټاکلی لوړ هدف ولري، بيا بايد خپل هدف په هر کتاب او کتابچه کې چې دی ورسره په ورځني ژوند کې کار لري وليکي ترڅو په ذهن کې يې رسوخ پيدا کړي او په اړه يې هڅې وکړي.

څلورم: ټولنيز او منظم کار، ځوانان بايد منظم وي، هرڅه او هره کړنه يې بايد د يوه چوکاټ له مخې ترسره شي، د يوه جماعت سره بايد ضرور يوځای شي په يوازې توګه هدف نه ترلاسه کيږي همدا وجه ده چې د اسلام ستر پيغمبر په جماعت سره

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ډير ټينګار کړی (عليکم بالجماعة) له جماعت سره يوځای شی، الله پاک وايي: (کونوا مع الصادقين) له ريښتينو خلکو سره اوسی، پيغمبر وايي: (بيشکه ليوه هغه ميږه خوري چې له رمې څخه جلا شوې وي).

پينځم: قرباني او عمل، پرته له قربانۍ څخه څوک خپل هدف ته نه دي رسيدلي ځوانان بايد خپلې ګټې،

خپلې آرزوګانې او خپلې غوښتنې د اسلام د دين څخه قرباني کړي، پرته له عمله يوازې په دعاوو ملکونه نه ودانيږي، الله جل جلاله د هغه چا دعا قبلوي چې په عملي ډګر کې يې ډيرې هڅې کړې وي.[1]

[1] واسع ويب وينا محمدنعسم جليلي

Made with Xodo PDF Reader and Editor



# دوولسم فصل

## اسلامي بديلونه او پرمختګ ته د أمت د رسېدو لارې چارې

کله چې أمت د فکري، اقتصادي او ټولنيزو ننګونو سره مخ شي، نو د حل لارو لپاره تر ټولو غوره لاره دا ده چې شريعت ته ور وګرځي.

اسلام يوازې يو نظري انتخاب نه دی، بلکې د ژوند لپاره عملي، فطري، عادلانه او کامیابه لاره ده.

## اسلامي رسنۍ د افکارو بديل

په اوسني عصر کې ميډيا د خلکو فکرونه جوړوي، که سوشل ميډيا، تلويزوني خپروني او فلمونه د فساد سبب شي، نو اسلامي أمت ته په کار ده چې پاک رغوونکي او د دين مطابق رسنيز بديلونه وړاندې کړي.

### عملي بديلونه

ګرانه لوستونکيه، ځوانه وروه! ددې په ځای چې ته موبايل کې بيلابيل،

چينلونه لرې، نو ددې په ځای چې ته خراب چينلونه وکاروې، يا يې خپله جوړ کړې، نو هڅه وکړه چې د اسلام د شريعت مطابق، د عزت مطابق چينلونه جوړ کړې، ته يو ښوک يې، ته ګټونکی يې.

ته پياوړی يې او ته يې کوي شې!

Made with Xodo PDF Reader and Editor



نو هڅه وکړه اسلامي او تاريخي فلمونه، همدا شان د اسلام د پرمختک فلمونه نشر کړه، هڅه وکړه اخلاقي، عقيدوي موضوعات نشر کړه، يا يې‌هم وښاره، د يو چا د خير سبب وګرځه؛ نه د شر.

ځکه نبي ﷺ فرمائي: [من دعا الى الهدى كان له من الأجر مثل أجور من تبعه] [1]

څوک چې د هدايت لوري ته بلنه ورکړي، نو د هغه لپاره د هغو خلکو د اجر په شان اجر وي چې د هغه پيروي وکړي.

همدا رنګه [الدال على الخير كفاعله] [2] يعني يو چاته په خير دلالت دومره اجر لري، لکه کوونکي ته چې څومره اجر وي، نو سبب د هدايت د يو چا وګرځه!

## اسلامي اقتصاد؛ د ربا، قمار او استثمار بديل

د اقتصادي نظام د اصلاح پرته أمت پرمختګ نشي کولی، اسلامي اقتصاد يو جامع بديل دی.

**بديلونه**

ګرانه ځوانه! اسلامي أمت د پرمختګ او شاته پاتې کيدو سبب نه بلل کيږي، په هغه وخت کې چې ته قمارونه کوې، ته شرطونه تړې، ته په کريکټ يا هم نورو لوبو شرطونه او قمارونه تړې او

١ الإبانة الكبرى لابن بطة (1/ 158) وهكذا في شرح صحيح البخاري لشمس الدين السفيري (30/ 4)

٢ مفيدالطالبين

Made with Xodo PDF Reader and Editor



پيسې پرې بايلې. دا پيسې د خير په لاره کې وکاروه او تعليم پرې وکړه!

ته پوهېږې چې دا ټول د کفر دسيسې دي، ته يې په لوبو مصروف کړی يې، خپل هدف يې درنه هېر کړی، هغوی هڅه کوي اسلام ختم کړي، ځکه ګرانه ځوانه! ستا فکر يې خراب کړی، ټول وخت دې په لوبو، بې ځايه عبثياتو کې تېرکړو، کفار مخې ته روان دي او اسلام ورځ تربلې په شا روان دی.

اې ځوانه! ته دې خپل اسلام خپل دين ته متوجي شه، هغه وخت چې ته يې په لوبو تيروي، هغه وخت د اسلام په خدمت کې تېرکړه!

پاڅه! ځان سره عزم وکړه! چې له اوس نه وروسته، به زه د کفارو له دسيسو او فريبونو ځان ژغورم، اسلام ته به خدمت کوم، اسلام به په پښو دروم، هغه وخت چې زه په لوبو تېروم، له نن نه وروسته به يې د اسلام په پرمختګ تېروم.

## اسلامي تعليمي نصاب؛ فکري استعمار ته ځواب

اوسني نصابونه له غربه اقتباس شوي دي، د أمت اولاد بايد له ديني، فکري، اخلاقي او تاريخي شعور څخه ډک شي.

حل لار يې دا ده چې د ديني او عصري علومو تر مينځ توازن، اسلامي تاريخ، سيرت او د صحابه کرامو ژوند تدريس شي.

اې ځوانه! ته خو دې د اسلام مخکينی تاريخ وګوره! هغه هم ځوانان ول!

Made with Xodo PDF Reader and Editor



نور بحث مو ددې موضوع په لومړی فصل کې کړی.

ځوانه! ته باید په دې حساس وخت کې چې أمت له هرې خوا د اسلام د دښمناتو په ډول ډول دسیسو کې راګیر دی؛ د ځان، اسلام او د ځوان نسل ساتنه وکړه. خپل ځان او خپله ټولنه د دښمنانو له مکر او فریب نه وژغوره. خپل ولس د دښمنانو له نا پاکو عزایمو خبر کړه، د سریالونو او ډرامو له زهرو او پکې د پرتو ناوړو کاورنو نه ټول ملت باید خبر او وژغورې.

اې ځوانه! ته باید په هر کلي، هر قوم، هر مسجد او هره ټولنه کې ویښ او بیداره واوسې، ولسونه له خپل تېرشوي تاریخ نه خبر کړي او هڅه وکړه په سوشل میډیا کې داسې څه نشر کړه چې هغه د اسلامي أمت د اسلامي تواني د بیدارېدو او د اسلام د پرمختګ سبب وګرځي، أمت ستا په انتظار دی.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## دیارلسم فصل

## ځوان، ټکنالوژي او د امت د دفاع مسؤلیت

[وَأَعِدُّوا لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ ...] [1]

**د عصر په ژبه:** امت هغه وخت کمزوری نه شو چې دښمن زورور شو، امت هغه وخت کمزوری شو چې وسایل یې پرېښودل. نن جګړه یوازې په میدان کې نه ده، جګړه په فکر، روایت، رسنیو او ټکنالوژۍ کې ده او د دې جګړې لومړی سرتېری ځوان دی.

د آية ژور پیغام او د زمانې غوښتنه: الله تعالی فرمایي: ﴿وَأَعِدُّوا لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ﴾

**ژباړه:** او تیارۍ کوئ دپاره د هغوئ، څومره چې وس رسي ستاسو د هر قسم قوت نه او د تړلو د آسونو نه چې ویروئ، تاسو په ذریعه د هغې دښمن د اللهﷻ او دښمن ستاسو.

داسې څه جوړ کړه چې په هغه دښمن درنه وډار شي، یعنې چې څومره ستاسو نه کېدای شي کفارو دپاره، سامان جنګ تیاری چې څومره مو طاقت وي، ورپسې ددغې سامان څه تفصیل یې داسې بیان کړو.

1 سورة الأنفال الآية ٦٠

Made with Xodo PDF Reader and Editor



[مِنْ قوةٍ] يعنې د مقابلې قوت جمع کړئ، په دې کې ټول د جنګ سامان، وسله، سورلي او وغيره هم داخل دي. د خپل بدن ورزش د جنګ طريقې

او چلونه زده کول هم پکې داخل دي.

دلته قران کريم د هغه زمانې د رواجي وسلو بيان ونه کړو، بلکې د قوت په عام لفظ اختيارولو سره يې دېته اشاره وکړه چې د هرې زمانې ، هر مقام او هر ملک په اعتبار سره قوت مختلف کېد اى شي.

مثلًا: د هغې زمانې غشي ليندې، تورې نيزې او ډال کېداى شو، ورپسې زمانه کې د ټوپکو او توپونو زمانه راغله. اوس د بمونو، راکټونو، مزائيلو او سوشل ميډيا زمانه ده.[1]

په دې بنأ د نن زمانې مسلمانانو لره د اټومي قوت، ټانکونو، جنګي جهازونو تيارول جمع کول او جوړول ضروري دي. همدا رنګه د ميډيا ددې شيانو فن زده کولو کې که نيت دا وي چې د اسلام او مسلمانانو بچېدل مخې ته راتلل او حفاظت وي، نو دا هم د جهاد په حکم کې راځي. دا آية يوازې د آس او تورو خبره نه ده، دا د هر زمان د قوت خبره ده. هر وخت خپله وسله لري او د دې زمان وسله رسنۍ، ټکنالوژي، فکر، معلومات او شعور دی. که مسلمان ځوان له دې وسايلو لرې پاتې شي، دښمن به يې پر ضد وکاروي.

١ معارف القرآن

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ټکنالوژي؛ د کفر وسله که د امت ډال؟

نن کفر د ټکنالوژۍ له لارې شک خپروي، اسلام بدناموي، د ځوان فکر مسموموي او ارزښتونه مسخره کوي. که ته چوپ یې، دا چوپتیا بې طرفي نه د، بلکې کمزوري ده.

ځوان باید پوه شي یا به ته پیغام خپروې، یا به پر تا پیغام تپل کېږي.

**د اسلامي ځوان په حیث له مسؤلیت څخه تېښته مه کوه**

د نبي کریم ﷺ حدیث دی، [اَلمُؤْمِنُ القَويُّ خَيرٌ وأَحبُّ الى اللهِ مِنَ الْمُؤْمنِ الضَّعِيْفِ] یعنې پیاوړی مؤمن د خدای تعالی په وړاندې له کمزوري مؤمن بهتر او قدرمن دی. [١]

ځینې ځوانان وايي: زه سیاست او ټکنالوژي نه خوښوم، د سیاست او ټکنالوژۍ زما سره څه؟ خو دښمن ستا دین، فکر او راتلونکی خوښوي، که ته ډګر پرېږدې، باطل به یې ډک کړي. ټکنالوژي ته مخه کول د فحشا لپاره نه، بلکې د حق د دفاع لپاره ده.

**د قوت نوې بڼه د ټکنالوژي علم**

نن هغه ځوان قوي دی چې لیکل کولی شي، تحلیل لري، ویډیو جوړولی شي، رسنیز پیغام سم انتقالولی شي او د اسلام دفاع په عقل او دلیل کوي.

دا هماغه قوت دی چې آیة یې یادونه کوي، خو د عصر په ژبه.

---

١ سنن ابن ماجه (1/ 94،)

Made with Xodo PDF Reader and Editor



**د فکري جهاد ميدان**

نن جهاد يوازې په وسلو نه دی، جهاد په فکر، کلمې، تصوير او روايت کې روان دی. يو باخبره، متقي او مسلکي ځوان کولی شي د زرګونو دروغو مقابله وکړي، خو شرط يې دا دی چې ټکنالوژي زده کړي، نه دا چې ترې وتښتي.

**د نيت اصلاح ـ ولې ټکنالوژي زده کوم؟**

ځکه اسلامي ځوان ټکنالوژي ته د دې لپاره ورځي چې د اسلام رښتينی انځور وړاندې کړي، د کفر شبهاتو ته ځواب ووايي، د امت غږ نړۍ ته ورسوي او ځوان نسل له فکري غلامۍ وژغوري. که نيت سم وي، وسيله عبادت ګرځي.

**وروستی غږ:**

ځوانه! دا وخت د تماشې نه دی، يا به ته د تاريخ ليکوال يې، يا به هم نور دغسې دغفلت خوبونه کوي، [واعدّوا لهم ما استطعتم] نن ستا «قوت» علم، ټکنالوژي او شعور دی.

که يې ته و نه کاروې، دښمن به يې ستا پر ضد وکاروي. ټکنالوژي ته مخه کول کمزوري نه ده، بې هدفه کارول يې کمزوري ده. اسلامي ځوان بايد هوښيار، مسلکي او مسؤل ډيجيټلي مجاهد وي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



**وروستۍ غږ:**

مسلمانه ځوانه! د کفر، ارتداد او استبداد په وړاندې لکه غر مستقيم او مقيم ودرېږه!

د حقې داعيې مزل دې لا ګړندی کړه، د باطل په وړاندې د درېدو هوډ دې لا غښتلی او مېړنی کړه، د شيطان له وسوسو او د عصيان له دامو ځان وساته!

مسلمانه ځوانه!

د فولادي متو زور او شور دې ښکاره کړه، پر دښمن دې د توري وارونه سندريز او بريدونه تندريز کړه، د ظالمانو او جابرانو دسيسې شنډې او ارادې لنډې کړه!

مسلمانه ځوانه!

د عُمري چېغو په ازانګو د فارس او روم امپراتورۍ ړنګېده غواړي. د اموي، عباسي او عثماني خلافتونو تاريخونه له نظره تېرېده غواړي او په نړۍ د مسلمانانو راج او باج راتله غواړي.

مسلمانه ځوانه!

د انطاکيې او طرابليس شهيدې حماسې در په ياد کړه، د بيت المقدس او اقصی مسلمانې پرګنې در په ياد کړه، د زنګيانو وفاداري تکرار او د صليب يرغلونه مهار کړه، د ايوبي صلاح الدين کارنامې وګوره او د پاپ دسيسې وګوره!

Made with Xodo PDF Reader and Editor



مسلمانه ځوانه!

د طاغوت او دجالي لښکرو پر خلاف فوځي جګړه وکړه، په سیاسي او فرهنګي ټکنالوژي جګړه وکړه، منظمه فکري جګړه وکړه، مېل دې په نښه برابر کړه، قلم دې تیار ساته او په رب عقیده او بروسه ولره!

مسلمانه ځوانه!

د استشراق او تنصیر له چل او دوکې ځان خبر کړه، د دوی له موقع ځان خبر کړه، د تربیت او اعداد رمزونه زده کړه او د مبارزې درسونه زده کړه،

سوشل میډیا زده کړه، د استقلال او ازادۍ روحیه دې ژوندۍ او همېشنۍ ساته!

مسلمانه ځوانه!

د عصر فتنې د رب په نصرت او پیاوړي مټ له منځه یوسه، له ساینس او ټکنالوژي سره، له کېمیا فزیک او بیولوژي سره، له جرمني او انګریزي ژبو سره ځان بلد کړه او د غرب له دسیسو ځان پر وخت خبر کړه!

مسلمانه ځوانه!

سلامتیا دې غواړم، استقامت په دین د رسول الله ﷺ غواړم. د نفس او شیطان له خطاوو په امان شې او په ټوله نړۍ لکه لمر روښان شې.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## څوارلسم فصل
## سوشل میډیا اوفکري جګړه

په اوسني عصر کې، سوشل میډیا د معلوماتو، نظریاتو او افکارو د خپرولو له ټولو قوي وسیله ګرځېدلې ده. دا وسیله د تفریح او معلوماتو د شریکولو تر څنګ د فکري جګړو یوه مهمه جبهه ده، چېرته چې د مختلفو عقیدوي، فرهنګي او سیاسي افکارو ترمنځ رقابت روان دی. اسلامي نړۍ د سوشل میډیا له چیلنجونو سره مخ ده، ځکه چې دا وسیله د فکري جګړو، فرهنګي یرغل او غلطو نظریاتو د خپرولو لپاره پراخه کچه کارول کېږي. د غرب محوره فکر، الحادي نظریاتو او سیکولر ارزښتونو ترویج د سوشل میډیا له لارې عام شوی، چې د اسلامي هویت او ارزښتونو د کمزورې کولو هڅه په کې کېږي. له دې سره سره، سوشل میډیا د اسلامي دعوت، فکري دفاع او د حق پیغام د رسولو لپاره بې ساري امکانات هم لري، ځکه دا وسیله زرګونو او حتی میلیونو خلکو ته په چټکۍ سره د رسېدو توان لري.
اسلامي امارت باید د دې چیلنجونو پر وړاندې خپل دریځ ثابت وساتي، د اسلامي فکر د تحکیم لپاره مؤثرې تګلارې غوره کړي او د دعوت لپاره د سوشل میډیا امکانات په حکمت او بصیرت سره وکاروي. د دې ترڅنګ،

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د اسلامي ارزښتونو ساتنې ته ځانګړې پاملرنه وشي، د اسلامي عقيدې د تحريف مخنيوی وشي او د اسلامي نظام د حقانيت پيغام د سوشل ميډيا له لارې نړيوالو ته په واضحو دلايلو وړاندې شي.

د فکري جګړې په ميدان کې، سوشل ميډيا د الحادي نظرياتو، سيکولرزم، ليبرالزم، او غربي کلتور د ترويج لپاره يوه قوي وسيله ګرځېدلې ده. د اسلام ضد افکار، د ديني ارزښتونو تحريف او د غربي نړۍ مفکورې د همدې وسيلې له لارې عامېږي، ترڅو اسلامي ارزښتونه کمزوري کړي، مسلمانان د خپل ديني هويت له ساتنې را وګرځوي او د اسلامي حکومتولۍ پر اصولو شکونه پيدا کړي. دا ډلې هڅه کوي چې د الحاد، فکري بې لاريتوب او اخلاقي فساد له لارې د مسلمانانو عقيدوي اساسات متزلزل کړي، ځوان نسل د اسلامي نظام له روح سره نابلده کړي، او د اسلامي امت تر منځ فکري اختلافات پراخ کړي. د دې تر څنګ، ځينې کسان د افراط او تفريط له لارې د اسلامي دعوت روح ته زيان رسوي، د ناسم تعبير له مخې يا خو سخت دريځي ته لاره هواروي، يا د اسلامي شريعت د اساسي اصولو په تېرېدلو سره اسلام ته داسې بڼه ورکوي چې د غرب له فکري کلتور سره همغږې ښکاري. دا دواړه لارې د اسلامي فکر لپاره خطرناکې دي،

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ځکه چې يوه يې د سخت درېځۍ، تاوتريخوالي او د دعوت د ناسم تصوير سبب ګرځي او بله يې د اسلامي ارزښتونو نرمښت ته داسې اړوي چې اسلامي اصول ترې ضعيف او بې معنی شي. له همدې امله، د سوشل ميډيا فکري جګړه يوازې يوه ساده موضوع نه ده، بلکې يوه جدي جبهه ده چې اسلامي امت بايد د بصيرت، علم او حکمت له لارې ورسره مقابله وکړي. د سوشل ميډيا له لارې پر اسلامي ارزښتونو، عقيدې او اسلامي نظام باندې روان فکري يرغل د امت لپاره ستر تهديد دی، چې د مخنيوي لپاره يې اسلامي امارت ته په کار ده قوي او مؤثر اقدامات ترسره کړي. اسلام د ديني ارزښتونو ساتنې ته ځانګړې پاملرنه کوي، لکه څنګه چې الله تعالی د الصف په اتم ايت شريف کې ويلي چې يعنې "دوی غواړي د الله نور په خپلو خولو ووژني، خو الله خپل نور پوره کوي، که څه هم کافران ناخوښ وي." دا آيت د دې حقيقت څرګندونه کوي چې د اسلامي عقيدې پر ضد تل هڅې روانې وې، خو الله تعالی د خپل دين ساتنه کوي. اسلامي امارت بايد د دې الهي اصل په رڼا کې د اسلامي فکر د دفاع لپاره د سوشل ميډيا کارونه لا قوي کړي، ځکه چې د حق پيغام رسونه يوازې د مسجدونو او منبرونو پورې محدوده نه ده، بلکې رسول الله (ص)د هر عصر له امکاناتو څخه

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د دعوت لپاره ګټه اخیسته، لکه د خطونو استول، د حج په موسم کې د قبایلو سره خبرې او د شعرونو او خطبو کارول. نن سوشل میډیا د معاصر وخت یوه ځواکمنه وسیله ده، نو دا ضروري ده چې د اسلامي فکر مدافعین وروزل شي، د حق داعیان د سوشل میډیا له مهارتونو سره بلد شي او د اسلام ضد تبلیغاتو پر وړاندې مستند علمي ځوابونه چمتو شي. دا د اسلامي شریعت له اصولو سره سم یوه شرعي اړتیا هم ده، ځکه چې رسول الله(ص) فرمایي: "بَلِّغُوا عَنِّي وَلَوْ آيَةً" (بخاري، 3461)؛ یعنې "له ما څخه (دین) ورسوی، که څه هم یوه آیه وي." له دې حدیث څخه څرګندیږي چې د اسلامي دعوت رسونه د هر مسلمان مسؤلیت دی او د اسلامي امارت لپاره دا لا ستر مکلفیت دی چې د ټول امت په کچه دا دنده ترسره کړي، ترڅو د سوشل میډیا له لارې د اسلام روښانه، مستند او علمي تصویر وړاندې شي، شبهات رد شي او د اسلامي عقیدې او ارزښتونو دفاع وشي.

سوشل میډیا د دعوت لپاره یوه غوره وسیله ده. اسلامي دعوت د تاریخ په اوږدو کې د مختلفو وسایلو له لارې خپور شوی او نن ورځ دا وسیله باید د حق پیغام د خپرولو لپاره په حکمت سره وکارول شي. د اسلامي ارزښتونو د عامولو، د شبهاتو د دفع کولو او د اسلامي فکر د ترویج لپاره باید د سوشل میډیا عصري وسایل وکارول شي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د اسلامي امارت پالیسي باید د دې لپاره مشخصه وي، ترڅو د اسلامي عقیدې د ساتنې، د دعوت د پیاوړتیا او د امت د فکري وحدت لپاره سمه لار وټاکي.

د اسلامي دعوت د لا پیاوړتیا لپاره، اسلامي امارت کولی شي د سوشل میډیا له لارې لاندې اقدامات ترسره کړي:

۱ -د اسلامي علماوو، دعوتګرو او مفکرینو فعال حضور ته وده ورکول.

۲-د اسلامي فکر د ترویج لپاره مستند علمي محتوا تولیدول.

۳ -د اسلام ضد تبلیغاتو پر وړاندې ځواب ویلو لپاره منظم پلان جوړول.

۴ -د اخلاقي، عقیدوي او دعوتي محتوا د خپرولو لپاره ځانګړي چینلونه رامنځته کول.

۵ -د اسلامي امارت دریځونه په واضح ډول خلکو ته رسول.

د افکارو د ساتنې لپاره، د اسلامي عقیدې تحکیم اساسي شرط دی، ځکه چې عقیده د انسان د فکر او عمل بنسټ جوړوي. که عقیده سمه، پیاوړې او پر دلیل ولاړه وي، نو فکري یرغلونه به اغیز پرې ونه لري، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایي: "

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ايا هغه څوک چې پوهېږي ستا رب له لوري نازل شوي احکام حق دي، د هغه په څېر کېدای شي چې ړوند وي؟ عبرت يوازې عقلمن خلک اخلي." له همدې امله،

د اسلامي عقيدې، قرآن، حديث او فقهي منابعو زدهکړه بايد عامه شي، ترڅو خلک د سوشل ميډيا د فکري يرغلونو پر وړاندې مقاومت پيدا کړي. علمي بصيرت او ديني فهم هغه وسيلې دي چې د تحريف شويو معلوماتو، دروغو او پروپاګند پر ضد د خلکو فکري ثبات ساتي. رسول الله (ص) فرمايي: "چا ته چې الله تعالی د خير اراده وکړي ، هغه ته د دين فهم ورکوي." دا حديث څرګندوي چې د ديني بصيرت حاصلول د خير او نېکمرغۍ لامل دی او دا بصيرت د هر مسلمان لپاره ضروري دی، ترڅو د حق او باطل ترمنځ توپير وکړي. اسلامي امارت ته په کار ده چې عام خلک د سوشل ميډيا له خطرونو څخه خبر کړي، هغوی ته د جعلي خبرونو، منحرفو نظرياتو او د مغرضانه تبليغاتو د مخنيوي لپاره علمي او فکري روزنه ورکړي او خلک دې ته وهڅوي چې يوازې د مستندو اسلامي منابعو څخه معلومات ترلاسه کړي، ترڅو د دين په اړه د دروغو، تحريف او غلط تعبير ښکار نه شي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د اسلامي امارت د پاليسۍ له مخې، هر هغه فعاليت چې د اسلامي ارزښتونو، عقيدې او اسلامي نظام خلاف وي، بايد وڅېړل شي، مخه يې ونيول شي او د اسلامي فکر د تقويې لپاره بديلونه وړاندې شي. بايد د سوشل ميډيا له لارې د اسلامي اخوت، عقيدوي ثبات او د اسلامي امارت مشروعيت ته وده ورکړل شي.

که څه هم سوشل ميډيا د فکري جګړې يو ستر ميدان دی، خو که دا وسيله په سمه توګه وکارول شي، کولی شي د اسلامي دعوت لپاره تر ټولو مؤثره وسيله شي. اسلامي امارت بايد د علم، بصيرت او حکمت سره د دې جبهې مشري وکړي، ترڅو نه يوازې د اسلامي نظام اصول وساتي، بلکې د اسلامي امت فکري ثبات ته هم وده ورکړل شي. [۱]

۱ شريعت ورځپاڼه

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## پنځه لسم فصل

## ځوانانو ته (22) لارښوونې

### ۱- په ځان باور ولره

کوم ځوان چې په ځان باور نه لري، هغه تل ناکامه وي، که غواړې چې په ژوند کې کامیابه شې په ځان باور ولره. په دنیا کې د ښه ژوند کولو لپاره د انسان سره انساني منلي قوتونه شته، چې هرڅوک غواړي د دغسې منلي قوتونه او صفتونه په ځان کې پیاوړي کړي، خو یوازې غوښتنه کار نه ورکوي؛ بلکې د دې مقصد په تر لاسه کولو کې ځان پوه کړه او له زړه څخه پوهېدل وغواړه او په اول قدم کې په ځان باور پیدا کړه، لکه په خپل مغز، خپل فکر، وړتیا، ذهن، استعداد او ټولو رواني حالتونو باندې باور پیداکړه.

په ځان باور د انسان د رشد او پرمختیا لامل ګرځي، په ځان باور ولره، ترڅو خلک په تاسو باور ولري. فکر وکړه چې زه له هیچا هم کم نه یم، نه څوک له مانه کم دي، صادق، ریښتنی او ژمن واوسه، هغه انسانان چې په ځان باور لري په پوره زړورتوب په خپله ژمنه عمل کوي، نو په دې اساس ته ټول باورونه د ژوند په ټولو چارو کې په منظم چوکاټ کې ولټوه، ځکه په ځان باور ستا هره کامیابي ده، په ځان باور د انسان د شخصیت ریښه ده او د کړنو اصلي ځواک بلل کیږي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



هغه ځوان چې پر ځان باور لري، له ستونزو نه وېرېږي، له ناکامۍ نه ماتې نه خوري او د سختو حالاتو پر وړاندې نه نړېږي.
باور لکه د غرونو کلکوالی دی؛ طوفانونه راځي، بادونه چلېږي، خو غر په خپل ځای ولاړ وي.
ځوانه! که ته پر ځان باور ونه لرې، نور به هم پر تا باور ونه کړي. ډېری استعدادونه د همدې لپاره پټ پاتې کېږي چې خاوند یې پر ځان شکمن وي. په ځان باور دا مانا نه لري چې انسان غرور وکړي، بلکې دا مانا لري چې خپل توان وپېژني، خپله وړتیا ومني او د پرمختګ لپاره جرأت وکړي. هغه ځوک چې وايي: «**زه نه شم کولی**»، مخکې له هڅې مات شوی وي؛ خو هغه ځوک چې وايي: «**زه به هڅه وکړم**»، د بریا دروازه یې پرانستې وي.
علم او فکري پرمختګ د باور قوي ملاتړي دي. کله چې ته زده کړه کوې، لوستل کوې، فکر کوې او پوښتنه کوې، نو ستا ذهن غښتلی کېږي او باور دې لا پیاوړی کېږي. ناپوهي شک پیدا کوي، خو پوهه اعتماد زېږوي. هر نوی مهارت، هره نوې پوهه او هره تجربه ستا شخصیت ته یوه نوې ستنه ور زیاتوي.
په یاد ولره؛ لوی خلک په یوه ورځ نه جوړېږي. هغوی هم له همدې ځایه پیل کړی چې ته پکې ولاړ یې. توپیر یوازې دا دی چې هغوی پر ځان باور وکړ، له وېرې سره ودرېدل او دوام یې ورکړ. ناکامي د کمزورۍ نښه نه ده، بلکې د زده کړې پیل دی.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



هره ورځ خپله يوه وړتيا تمرين کړه؛ که لوستل دي، لږ وکړه خو دوامدار يې وکړه، که ليکل دي ځو کرښې وليکه؛ که وينا ده، د هندارې مخې ته خبرې تمرين کړه. خپل ځان ته ووايه:

زه د پرمختګ وړ يم! زه کولی شم زده کړه وکړم او زه کولی شم خپل فکر او ژوند بدل کړم.

پر ځان باور ولره، ځکه چې باور حرکت زېږوي، حرکت بدلون راولي او بدلون بريا ته لاره هواروي. همدا باور او همدا علم د قرآني، فکري او باعزته ځوان نښه ده. تل داسې وايه زه يې کولی شم په لوړ آواز له ځان سره ووايه: زه په ځان باور لرم.

**۲ـ مطالعه وکړه**

مطالعه د انسان د سترګو نه د جهالت پردې لرې کوي، هغه شخص ړوند نه دی چې سترګې ونه لري؛ بلکې هغه ړوند دی چې علم ونه لري. هغه څوک يتيم نه دی چې مور او پلار يې وفات شوي وي؛ بلکې يتيم هغه څوک دی چې علم ونه لري. غريب هغه څوک نه دی چې مال، شتمني او ثروت ونه لري؛ بلکې غريب او بې وزله اشخاص او افراد هغه څوک دي چې علم ونه لري.

مطالعه د انسان دپاره جامه ده او د انسان سينګار علم او زده کړه ده، د انسان عقلي ډېوه علم دی او په علم سينګار خلک په ټولنه کې له ښه شخصيت څخه برخمن وي، نور خلک په احترام ورته قايل

Made with Xodo PDF Reader and Editor



وي، ددې دپاره چې د ژوند د سفر اصلي موخه معلومه کړو، بايد علم تر لاسه کړو.

د علم د تر لاسه کولو لپاره مطالعې ته ضرورت دی، ځوانه مطالعه درته عزت او شهرت درکوي، حلال او حرام درته جلا کوي، ښه او بد درته روښانه کوي.

مطالعه کولی شي چې د ژوند تيارو ته درته رڼا راوړي ، د ټولو بد بختيو او ناخوالو حل په مطالعه کيږي، که فکري پوخوالی، پراخوالی او ځيرکتيا غواړې؛ نو ته مجبور يې چې په مختلفو برخو کې مطالعه وکړې. مطالعه کول تاته سترګې درکوي، پياوړي شخصيت درنه جوړوي او که نور نه وي ورځ کې يو ساعت مطالعه وکړه، کاميابي ستا ده.

**۳ـ ځان بوخت کړه له وزګارتيا ډډه وکړه**

وزګار خلک په انساني ټولنه کې له خبرو اترو پرته نور څه نه کوي، ځکه فکرونه يې د همدې دپاره خالي او ويشل شوي وي. د انسان له پاره تر ټولو زيات خطرناک حالت وزګارتيا ده، ددې بېلګه داسې ده لکه موټر چې له موټروان نه پرته روان شي او کله ښي او کله کيڼ لور ته تاوېږي.

په کومه ورځ چې ته وزګار يې، نو غمونو، لانجو او کړاونو ته به تيارېږې، ځکه وزګارتيا ستا ذهن ته د تېرې زمانې ټول مسايل راستنوي

Made with Xodo PDF Reader and Editor



او د موجوده او راتلونکې وخت له مسايلو سره يې ګډوډوي او له سختو ستونزو سره دې مخ کوي، هيڅکله وزګار مه کينه، ځان په يو څه مصروفوه، ځکه وزګارتيا ستا ذهن، صحت، ژوند او هر څه ته تاوان دی.

**۴- همېشه دپاره رښتيا وايه**

بعضې خلک همېشه دپاره دورغ وايي، په مسجد کې دروغ، په حجره کې دروغ، په مجلس کې دروغ، په کور کې دورغ او په بازار کې دروغ. مقصد دا چې په هر وخت کې، په هرځای کې، په هر حالت کې او د هر چا په مخکې دروغ وايي، خاصتاً د خپلې کور ودانې په مخکې خو دومره دروغ وايي چې هغه هم حيرانه شي چې زما خاوند دا د دروغو زده کړه په کوم ځای کې کړې ده، په داسې حال کې په قرآن کې الله تعالی فرمائي: [يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ] [۱]

**ژباړه:** ای د ايمان واله! د الله تعالی نه وويرېږئ او د رښتيا ويونکو سره شئ.

همدا رنګه په حديث کې راځي عبادة (رض) فرمائي چې نبي عليه السلام فرمائيلي دي چې تاسو ماته د شپږو شيانو ضمانت راکړئ، نو زه به تاسو ته د جنت ضمانت درکړم چې کله خبرې کوئ؛ رښتيا وايي.

۱ سورة التوبة الآية ۱۱۹

Made with Xodo PDF Reader and Editor



که ته غواړې چې الله تعالی درته عزت، شرافت، ښه شهرت، احترام او د خلکو په زړونو کې یو مقام درکړي، نو رښتیا ویل په ځان لازم کړه. هڅه وکړه چې رښتیني واوسې، کچېرته ته هر ځل دروغ وایې، نو که ته یو وخت رښتیا خبره هم وکړې، بیا یې څوک نه مني.

ته چې څومره دروغ وایې هغه ستا په عمل نامه کې لیکل کیږي، نو ولې خپله عمل نامه په ګناه باندې ډکوې؟

ته د نبي علیه السلام امتي یې او ستا نبي خو له ماشومولي په رښتیاوو مشهور و، خلکو ورته د صادق لقب ورکړی و، نو ته هم رښتیا وایه! اګر که ستا د دنیا نقصان هم پکې وي، خو رښتیا وایه.

**۵- غصه مه کوه**

ځکه هر څه مخکې نه په تقدیر کې لیکل شوي دي اوس ستا په غصه هیڅ هم نه کیږي. مه غصه کیږه؛ ځکه غصه ناک کس د نشهیي مثال لري چې په خوله هر څه ورشي، هغه وایې او د مجلس ټول ملګري ترې نه تنګ وي.

مه غصه کیږه؛ ځکه غصه ډېر صورتونه لري چې زیاتره یې په چیغو، کنځلو، وهلو او په پیغورونو بدلیږي.

مه غصه کیږه ځکه په غوصه نه وران کار جوړیدی شي اونه پرې مات لوښي جوړوی شي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



مه غصه کيږه، ځکه ستا په غلطۍ کې به کېدا ی شي ستا خير وي.
مه غصه کيږه ، ځکه غصه ناک سړی نه د چا سره مينه کوي او نه څوک ورسره مينه کوي.
مه غصه کيږه؛ د همېشه دپاره دا فکر کوه چې زه به د محبت يو باغ جوړيږم او د نرمۍ غر او د صبر سمندر به جوړيږم.
مه غصه کيږه؛ ځکه د غصی په وخت کې په انسان پراخه دنيا تنګيږي.
مه غصه کيږه؛ که د چا په يوه غلطۍ باندې غصه شوې، نو خپلې بې شماره غلطۍ کوتاهۍ وغيره را مخې ته کړه.
د غصې له کبله زياتره فتنې، فساد، جګړې، دښمنۍ، خفګانونه، تعصب، ګيلې، طلاق، وغيره دا ټول د غصې نه پيدا کيږي، نو ټول وخت له غصې ځان وساته تل حوصله ولره.

**۶- خپل اصليت مه بدلوه!**

د کاليو په بدلولو سره اصليت نه پټيږي، هر کله چې موقف ته ورسيدې خپل ځان او خوی ته په هغه ډول تغير مه ورکوه، چې خلک در باندې وخاندي او تاسو ته د ناديدګانو فکر وکړي، مقام تاسو ته هغه ډول مينه نشي درکولی، چې ښه خوی، رښتيا، مثبت بدلون او عاجزي درته درکوي. په شتمنۍ او لوړ موقف مه نازيږه، لږ دې تېرژوند ته فکر وکړه چې په کوم حالت کې وي، نو خپل اصليت دې هيڅکله هم مه بدلوه.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



**۷ـ له مشرانو سره خبرې وکړه**

باور وکړه زه د بوډاګانو له خبرو خوند اخلم؛ ځکه هغوی ژوند تېر کړی او مونږ په خاپوړو کې یو؛ نوغوره داده چې له دوی څخه پوښتنې وکړو، چې دغه لاره غوره ده که خرابه؟

د کار د شروع نه وړندې تاسو باید د مشرانو سره مشورې وکړئ؛ ځکه مشوره کول د اسلام د مبارک دین له مهمو اصولو او قواعدو څخه ده، ترڅو مو انتخاب کړی فعالیت په ښه توګه ترسره شي.

**۸ـ قرآن زده کړه او عملي یې کړه**

قرآن یوازې د تلاوت کتاب نه دی، بلکې د ژوند بشپړ لارښود دی. د قرآن لوستل ثواب لري، خو اصلي موخه یې دا ده چې وپېژندل شي، وپوهېدل شي او په عمل کې را ژوندی شي. لکه څنګه چې باغ یوازې د ښکلو ګلانو لپاره نه کرل کېږي، بلکې د خوشبویۍ، مېوې او سیورې لپاره هم وي؛ همداسې قرآن هم یوازې د ژبې پر سر نه، بلکې د زړه، فکر او عمل لپاره نازل شوی دی.

ځوانه! که ته قرآن لولې خو اخلاق دې نه بدلېږي، چلند دې نه سمېږي او ژوند دې رڼا نه اخلي، نو لا هم د قرآن له پیغامه لرې یې. ربښتینی قرآني ځوان هغه دی چې په خبرو کې ربښتینی وي، په چلند کې عادل وي، په فکر کې پاک وي او په عمل کې مسؤلیت احساس کړي. بې عمله زده کړه لکه هغه څراغ دی چې تېل ونه لري؛ ښه لري خو رڼا نه ورکوي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



قرآن دې د ورځني ژوند ملګرى کړه، په ستونزه کې ترې کار واخله، په خوښۍ کې ترې شکر زده کړه او په فيصلو کې ترې حق وپېژنه.

کله چې قرآن زده او عملي شي، نو فرد سمېږي، کورنۍ بدلېږي او ټولنه را ژوندۍکېږي. همدا هغه قرآن دی چې امتونه يې جوړ کړي او تاريخ يې بدل کړی دی.

**۹ـ لمونځ د ژوند ستنه ده**

لمونځ يوازې يو فرض عبادت نه دی چې د بار په څېر ترسره شي؛ لمونځ د مؤمن د ژوند ساه ده، د روح غذا ده او د زړه سکون دی. هغه ځوک چې لمونځ ټينګ نيسي، که څه هم ستونزې ولري، خو نه ړنګېږي؛ ځکه چې د هغه ژوند په ټينګه ستنه ولاړ وي. لکه څنګه چې اوبه وچې ځمکې ته ژوند ببښي او شين والی ورګرځوي، همداسې لمونځ د ځوان زړونو ته ايمان، حوصله او قوت ور ببښي.

ځوانه! ژوند به دې بوخت کړي، کار، زده کړه، موبايل، ملګري او فکرونه به دې وخت ډک کړي؛ خو که لمونځ دې پرېښود، نو هماغه بوختيا به ورو ورو تا خالي کړي. لمونځ ذهن تازه کوي، فکر سموي او زړه د اضطراب او بې هدفۍ نه ژغوري. هغه څو دقيقې چې ته د الله مخې ته درېږې، ستا د ټولې ورځې جهت بدلولی شي.

لمونځ انسان له بديو ساتي، نفس کنټرولوي او اخلاق لوړوي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



دا يوازې د جومات تر محرابه محدود عبادت نه دی، بلکې د ژوند په هره برخه کې اثر لري. په صداقت، په زغم، په پاک نيت او په سمو پرېکړو کې. بې لمانځه ژوند لکه هغه کور دی چې ستنې ونه لري؛ ظاهراً ولاړ ښکاري، خو د يوې زلزلې توان نه لري.

پنځه وخته لمونځ په خپل وخت ادا کړه، حتی که ډېر بوخت يې. بوختي مه د لمونځ خنډ ګرځوه، بلکې لمونځ د بوخت ژوند تنظيموونکی کړه.

**۱۰ـ علم لکه د اوبو څاڅکي جمع کړه**

علم په يو وار د سمندر په شان نه راځي، بلکې د اوبو د څاڅکو په څېر ورو ورو جمع کېږي. همدا کوچني څاڅکي دي چې وروسته سيندونه جوړوي، سيندونه دره بدله کوي او بالاخره سمندر ته رسېږي.

ځوانه! ستا فکري ځواک هم همداسې جوړېږي، هره ورځ لږه زده کړه، خو دوامداره.

ډېری ځوانان وايي: «وخت نه لرم»، خو حقيقت دا دی چې وخت شته، نظم نشته. که هره ورځ يوازې لږ وخت د مطالعې لپاره ځانګړی شي، نو څو مياشتې وروسته به ته د خپل فکر، خبرې او ليدلوري بدلون پخپله احساس کړې. علم انسان ته ژور نظر ورکوي، پرېکړې پخوي او شخصيت ته وزن وربښي. بېعلمه ځوان لکه هغه زورور بدن دی چې بېلارښوده وي؛ قوت لري، خو سمت نه لري.

تجربه ښيي چې هغه کسان چې هره ورځ لږه مطالعه کوي،

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د وخت په تېرېدو له نورو مخکې ځي. ځکه دوامداره هڅه تر ناڅاپي زوررورو هڅو ډېره اغېزمنه ده. یو مخ ډېر لوستل ژر انسان ستړی کوي، خو لږ او همېشني لوستل فکر ته عادت جوړوي. علم یوازې معلومات نه دي؛ دا د فکر روزنه ده، د پوښتنې جرأت دی او د حقیقت د لټون توان دی.

ځوانه! هر کتاب، هره مقاله او هره ګټوره لیکنه ستا په ذهن کې یوه نوې کړکۍ پرانیزي. کله چې ته لولې، ته یوازې الفاظ نه راټولوې، بلکې تجربه، عقل او لید ترلاسه کوې. نن چې کوم فکر دې کمزوری ښکاري، د دوامداره مطالعې په برکت سبا پیاوړی کېدای شي.

هره ورځ لږ تر لږ 40 دقیقې د مطالعې لپاره ځانګړې کړه. دا وخت د موبایل له شور، د ټولنیزو شبکو له بې هدفه ګرځېدو او د بې ګټې مجلسونو نه وباسه.

لومړی به درته درووند ښکاري، خو څو ورځې وروسته به همدا وخت ستا د ورځې تر ټولو خوږه برخه شي.

کوښښ وکړه، هغه څه ولولې چې فکر دې لوړوي، نه یوازې وخت تېروي.

لوستل شوی مطلب په خپل ذهن کې وڅېړې او له ځان سره پوښتنې پرې وکړې. که وکولای شې، یوه خبره له لوستلو وروسته په عمل کې وازمایه.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



په یاد ولره؛ نن یو څاڅکی علم، سبا یو سیند پوهه او سبا بله ورځ یو روښانه راتلونکی جوړوي. که ته هره ورځ زده کړه کوې، نو ته ورو ورو بدلیږې او کله چې ته بدلیږې؛ ستا فکر، ستا ژوند او ستا ټولنه بدلیږي.

### ۱۱- د تاریخ مطالعه کړه

تاریخ یوازې د تېرو پېښو یادونه نه ده، بلکې د ژوند د سبقونو خزانه ده. د تاریخ مطالعه انسان ته دا فرصت ورکوي چې د نورو تجربو څخه زده کړه وکړي، د تېرو غلطیو نه ځان وژغوري او په راتلونکې کې د هوښیارو پرېکړو توان پیدا کړي. لکه څنګه چې د لمر رڼا تیاره لیرې کوي او لارې ښکاره کوي، همداسې تاریخ د انسان د ژوند د تیارو، بېلارې او ګمراهیو مخنیوی کوي.

ځوانه! که ته تاریخ ولولې، نو ته یوازې د وخت په تېرېدونکو پېښو پوهیږې نه، بلکې د فکر، تصمیم او عمل د سمې لارې درس هم تر لاسه کوې. د تاریخ د لوستلو سره، ستا ذهن په سترګو بدلیږي: هغه څه چې مخکې نه دې لیدلي، اوس پرې پوهیږې، او هغه چلندونه چې نورو ته زیان رسولي، ستا لپاره سبق ګرځي.

په ځانګړي ډول د صحابه کرامو، اسلامي عالمانو، او لویو شخصیتونو ژوند لوستل، د ځوان لپاره بې ساري لارښود دی. د هغوی زړورتیا، صبر، صداقت، عدالت او د الله د رضا لپاره قرباني،

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د نن ورځې ځوان لپاره عملي مثالونه دي. کله چې ته ددعمر فاروق ،خالدبن ولید عمر بن عبدالعزیز، صلاح الدین ایوبي ، یا نورو اسلامي شخصیتونو کیسې ولولې، نو ستا زړه الهام اخلي، ستا فکر پیاوړی کېږي، او د عمل لپاره جذب پیدا کېږي.

هره هفته لږ تر لږه یو د صحابه کرامو یا اسلامي شخصیت ژوند ولوله.

د هغوی کړنې او تصمیمونه د خپل ژوند سره پرتله کړه: زه به څه وکړم؟ زه څنګه د صبر، صداقت او زغم تمرین وکړم؟

د تاریخ لوستل یوازې د معلوماتو لپاره نه، بلکې د عمل لپاره هم وي.

ځوانه! یاد ولره: تاریخ د تیرو خلکو ژوند نه دی، بلکې د ژوند د سمولو لاربښود دی. هغه درسونه چې نن زده کوې، سبا ستا فکر، کردار، او ټولنه بدلولی شي.

که ته تاریخ په پوهه او فکر سره ولولې، نو نه یوازې خپل ځان، بلکې د خپلې کورنۍ، ټولنې او امت لپاره هم مثبت بدلون راوستلی شې.

**۱۲ـ ژبه او قلم دې پاک ساته**

ګرانه ځوانه!

ژبه او قلم د الله تعالی له نعمتونو څخه دي، چې ستا فکرونه، اخلاق او عملونه پرې ښکاره کېږي. نو پام وکړه چې دا ځواک په سمه لاره وکاروې.

هیڅکله د الله دبندګانو عیبونه او د هغوی ناموس مه بربندوه. د مسلمانانو په حق کې دې له الله تعالی نه وویریږه،

Made with Xodo PDF Reader and Editor



او که ځوک تېروتنه کوي، نو نصيحت دې په مهربانۍ، نرمۍ او د خير غوښتنې په روحيه کې ورته وکړه.

ياد ولره: که ژبه او قلم د غچ، سپکاوي، يا د چا د عيبونو د بربنډولو لپاره وکارول شي، دا د قرآن او رسول صلی الله عليه وسلم دتګلارې مخالف عمل دی. د چا د ځورولو هڅه، د کلمې يا ليکنې له لارې، هېڅکله د مسلمان وړتيا نه ښيي، بلکې تاوان رسوي.

ځوانه! ژبه دې پاکه او قلم دې روڼ وساته. د تېروتنو په وخت کې غصه مه کوه، عيبونه مه ښايه، مخلوق دې خالق ته پرېږده، او يوازې د اصلاح او خير لپاره يې وګوره. که نصيحت کوي، نو په ادب، پرده او مهربانۍ يې وکړه.

د ژبې او قلم د پاک ساتلو ارزښت ډېر لوړ دی، ژبه دې د ښوونې او نصيحت وسيله وي، نه د چا د ځورولو.

قلم دې د حقايقو، علم، او ټولنې د اصلاح لپاره وکاروه. هر څه چې ليکې يا وايې د الله د رضا لپاره يې وکړه.

ځوانه! په همدې لار کې ستا شخصيت لوړېږي، ټولنه روښانه کېږي او د الله په نظر کې د بندګانو درناوی ترلاسه کېږي.

**۱۳- له ذهنه دې د منفي پالو نومونه وباسه**

ځوانه! له وزګارخېلو، فتنه ګرو او لانجمنو خلکو سره په تا ويلو ماويلو دې وخت مه ضايع کوه، دين، زړه، روغتيا اعصاب او سکون دې مه زيانموه

Made with Xodo PDF Reader and Editor



او کله چې له دا ډول خلکو سره مخ شوې او پيژندګلوي دې ورسره وشوه، ترې وويرېږه او نوم يې عاجل له ذهنه وباسه. [وَإِذَا خَاطَبَهُمُ الْجَاهِلُونَ قَالُوا سَلَامًا] [1] او دوی چې کله له جاهلانو سره مخ شئ هغوی ته وايئ په تاسو دې سلام وي.

ذهن دې د دوی په اړه په فکر کولو د دوی د بديو په شمېرلو او دوی ته په ځواب ويلو مه مصروفوه ، بلکې داسې وګڼه چې دوی اصلاً نه شته، لکه ابو طيب المتنبي چې ويلي:

ويحتقر الحُسَادَ عن ذكره لهم

كأنهم فى الخلق ماخُلقوا بعد

کله چې د حسد ګرو په وړاندې يادونه وشي، هغوی يې سپک ګڼي، ګواکې په مخلوقاتو کې له دې وروسته څوک پيدا شوي نه دي.

نو لکه څنګه چې په خپل موبايل کې له ځينو شمېرو وېرېږې، ښايي چې د داسې خلکو له نومونو هم ووېرېږې، ترڅو په خاطرجمعۍ، پراخې سينې او روغ صحت سره ژوند وکړې، ته مجبور نه يې چې هر ناپوه، جاهل، کينه ګر او دښمن ته ځواب ووايې، ځکه که دوی ته دې د يوې قصيدې ځواب ورکړ، باور ولره چې لس نورې ترخې قصيدې به در پسې ووايي او که ناپوه ته دې يوه کلمه ځواب ووايه، د سلو خورا بدو کلماتو باران به در باندې وکړي .

[1] الفرقان الآية ٦٣

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ګرانه ځوانه! د دوی له ځنګه په سلامتيا تېر شه، ژوند دې په آرامه روان وساته او له داسې خلکو سره چې له شهرت، سپکاوي غچ اخيستو او د خلکو د عيبونو له راسپړلو پرته بل کار نه لري، لرې اوسه.

**۱۴ـ هغه څه ته مه ګوره چې نه يې لرې**

هغه څه ته مه ګوره چې نه يې لرې، بلکې خپلې ارادې ته وګوره، هيله وکړه، که څه هم د هيلې ترلاسه کول سخت يا ناشوني وي، لومړی خپلې موخې سرته ورسوه، بيا د نورو په موخو لګيا شه.

خپل هدف سر له اوسه مخ ته کيږده، چې زړه دې څه غواړې، ورته غلی شه، سبا سبا مه کوه، بلکې له اوسه پيل وکړه او د هغه په مقابل کې خپل نظر روښانه کړه، د هدف له ټاکلو وروسته له ناکامۍ مه وېرېږه.

د ځان لپاره داسې هدف وټاکه، چې روح دې ورسره والوځي، ښکاره دريځ او هدف لرونکی شه، پر دې پوه شه چې ته څه غواړې او څه بايد پرېږدې؟

د لوی والي او بري راز دا دی چې له ناهيلۍ پرته کار وکړه او له سستۍ پرته مقاومت وکړه.

داسې ښوونکی نشته چې تاته علم وښيي، لکه ځنګه چې ته يې خپل ځان ته ښښيې، ته د ځان لپاره تر ټولو غوره ښوونکی يې.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



خپلې موخې په دقیقه توګه وټاکه او د هغو دپاره په صبر او استقامت سره کار وکړه. اراده، صبر او کار د بري مهمې نقطې دي، د اوبو پرلپسې څاڅکي په کلکه تېږه کې سورې کوي.

**۱۵ـ ځان په خپله خوشحاله کړه (خوشحالي د ژوند ډیوه ده)**

ستاسو زړونه، فکرونه په ورځني ژوند کې سکون ته اړتیا لري، چې دا سکون په خوشحاله اوسېدلو کې دی، دا معلومه خبره ده چې انسان هغه وخت خوشحاله وي، کله یې چې زړه خوشحاله وي، ستاسو په شونډو موسکا ستاسو عمر اوږدوي، د ځان خوشحاله کولو لپاره د نورو خلکو نه تمه مه لره؛ بلکې خپله ځان ته خوشحالي ورکوه.

ځوانه! خپل خوشحاله ژوند ته لومړیتوب ورکړه. د نورو په خوشحالۍ پورې محدود مه اوسېږه، بلکې خپل زړه د خوښۍ نه ډک کړه. کله چې تاسو ځان خوشحاله وساتئ، نو ستاسو شاوخوا خلک هم له تاسو خوشحالیږي. خوشحالي یوه داسې ډیوه ده چې تاسو یې هر وخت بلولی شئ او هیڅوک یې د اخیستلو لپاره اړ نه دي.

په یاد ولره! خوشحالي یو هنر دی چې باید ځان ته یې ور زده کړې، خپل ژوند په خپله رڼا کړه او د زړه سکون په هره شېبه کې پیدا کړه.

**۱۶ـ په خلکو سلام واچوه**

که غواړې چې د خلکو په زړونو کې محبوبیت پیدا کړې؛ نو نبوي تحفه سلام ورته وړاندې کړه تجربه وکړه هغه څوک چې تاسو یې ډېر له پامه بد راځئ څو ورځې ور باندې مسلسل سلام اچوه، ستا لپاره به

Made with Xodo PDF Reader and Editor



يې په زړه کې مينه را پيدا شي او دښمن به مو په يو ښه دوست بدل شي.

(نشم کولی....)!

دا جمله د هغه دردوونکو او پښېمانوونکو کلمو نه جوړه ده چې رښتيا کومه ګټه نه لري؛ که د (نشم کولی) په ځای دا جمله بار بار تکرار کړې (کولی يې شم، کولی يې شم)! ژوند به دې بدلون پيدا کړي او ډيرې خوشحالۍ به تر لاسه کړې.

**۱۷- په وړو وړو خبرو پسې مه ګرځه**

ځوانه! ژوند ډېر لنډ دی او وخت قيمتي دی. که ته خپل ذهن او انرژي په وړو وړو خبرو، بې ګټې بحثونو او د نورو خلکو کوچنيو خبرو باندې ضايع کړې، نو خپل لوی هدفونه به هېڅکله تر لاسه نه کړې.

په ژوند کې تل داسې وختونه راځي چې خلک درته بېځايه نيوکه کوي، يا د نورو خبرو اثر درته جوړوي. ځينې خبرې بې معنا، بې ځايه او بې اساسه وي. د حقيقت په لور ګام پورته کړه او خپل فکرونه په مهمو کارونو بوخت کړه. وړو وړو خبرو ته پام مه کوه؛ ځکه چې د دې پسې ګرځېدل ستا ذهن له لويو هدفونو او خوشحالۍ څخه ليرې کوي.

ځوانه! خپل ژوند ته د قدر ورکولو هنر زده کړه. خپلې انرژۍ، خپل استعدادونه او خپل وخت په هغو کارونو ولګوه چې ستا راتلونکی جوړوي. زده کړه، مهارتونه، کتاب لوستل او د خپلې ټولنې خدمت.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



هر ځل چې د وړو وړو خبرو سره مخ کيږې، ځان ته ووايه "زه خپل ذهن، خپل وخت او خپله خوشحالي د وړو وړو خبرو لپاره نه ضايع کوم."

په دې ډول به ته خپل ځان قوي کړې، له ځان سره د باور ډک ژوند لرې او د نورو د بې ځايه خبرو اثر به پرېږدې.

په ياد ولره؛ ژوند ستا د لويو هدفونو لپاره جوړ شوی، نه د نورو د وړو وړو خبرو لپاره.

**۱۸ـ د خبرو هنر زده کړه**

ځوانه! خبرې کول يوازې د غږ کولو يا الفاظو کار نه دی، بلکې د شخصيت ښکلا او وقار ځرګندونه ده. لکه څنګه چې ساه اخيستل انسان ته ژوند او وقار ورکوي، خبرې کول هم ستا شخصيت ته رنګ او احترام ورکوي.

مګر خبرې کول هنر غواړي. هره خبره چې کوې بايد له فکر سره وي. مخکې له دې چې څه ووايې، ځان څخه وپوښته:

آيا دا خبره ګټوره ده؟

آيا دا خبره مثبت اثر لري؟

آيا دا خبره زما او د نورو شخصيت ته احترام ورکوي؟

که ځواب مثبت نه وي، نو غوره ده چې چوپ پاتې شې. د خبرو هنر دا دی چې نه يوازې په خبرو ځان ښکاره کړې، بلکې نورو ته هم د احترام او وقار احساس ورکړې.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



له هرې خبرې مخکې فکر وکړئ، چې ګټه لرونکې ده که نه؟ دا عادت به تاسو ته د ژوند په ټولو برخو کې بریا، عزت او اعتماد درکړي.

**۱۹ـ له بدو خلکو ځان وساته**

ځوانه! خپل ژوند د بدو خلکو له اغېزو وساته. هغه کسان چې دروغ وایي، بې ځایه مشورې کوي، یا ستا په شخصیت او اخلاقو منفي اثر کوي، کولای شي ستا راتلونکی له منځه یوسي.

په ژوند کې هوښیارانه انتخاب ډېر مهم دی. که ته د داسې خلکو سره وخت تېروې، هغوی نه یوازې ستا ذهن ګډوډوي، بلکې ستا د خوشحالۍ، زده کړې او پرمختګ لارې هم بندوي.

د منفي او بې اخلاقه کسانو سره فاصله ونیسه. مثبتو، هوښیارو او اخلاقو لرونکو خلکو سره خپل وخت تېر کړه. خپل فکر او زړه له ناوړه اغېزو پاک وساته.

ځوانه! د بدو خلکو د اغېز نه ځان ساتل؛ ستا ځواک، وقار او شخصیت ساتي. هر څوک چې خپل ځان وساتي، خپل ژوند، راتلونکی او عزت خوندي کوي.

**۲۰ـ نورو ته ارزښت ورکوه**

ځوانه! که غواړې ژوند کې لوی شې، یوازې ځان مه ګوره، نورو ته هم ارزښت ورکړه. څوک چې یوازې ځانویني، محدود پاتې کېږي، خو څوک چې نورو ته هم درناوی کوي، د خلکو زړونه ګټي او د ټولنې لپاره مثال کېږي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



نورو ته ارزښت ورکول د کمزورۍ نښه نه ده؛ دا د قوي زړه نښه ده. څوک چې نورو ته غوږ نیسي او درناوی یې کوي، هغه رښتینی ځواک لري. هر انسان خپل ژوند او ستونزې لري. که یوازې ظاهري څېره یې وګورې، حقایق به له لاسه ورکړې. له همدې امله، له خلکو اوره، درک یې کړه او درناوی ورسره وکړه.

ځوانه! که خبرې کوې، یوازې یې د ځواب لپاره مه اوره، د پوهې او درک لپاره یې واوره. ډېرې شخړې ځکه پیښېږي چې موږ د نورو خبرې نه اورو. اورېدونکی انسان د زړونو دروازې خلاصوي.

نورو ته ارزښت ورکول دا هم دي چې حق په نرمۍ وړاندې کړې. سختې خبرې هر څوک کولی شي، خو نرمه ژبه د پوهې نښه ده. که خبره دې سمه وي، خو طریقه ناسمه وي، اغېز به ونه لري.

په ټولنه کې داسې مه اوسه چې خلک له تا ووېرېږي؛ داسې اوسه چې خلک تاته ډاډه وي. هغه ځوان بریالی دی چې خلک یې ملاتړ وکړي، نه هغه چې له وېرې د ده شا ته پټ شي.

ځوانه! که پوهه لرې، غرور مه کوه. پوهه هغه وخت ارزښت لري چې عاجزي ورسره وي. ډېر خلک د پوهې له کبله نه؛ د اخلاقو له کبله خلک ګټي. ښایسته اخلاق تل ارزښت لري.

نورو ته ارزښت ورکول دا هم دي چې د خلکو له تېروتنو خوند وانخلې. د بل انسان کمزوري مه نمانځه؛ کېدای شي سبا ته هماغه ځای ته، ته لاړ شې. ښېګڼه او مهرباني تا کمزوري کوي نه، بلکې تا قوي کوي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



په کور، مدرسه، ښوونځي يا ټولنه هر ځای چې يې، د خلکو عزت ساته. شايد يوه مهربانه خبره يوڅوک جوړ کړي او يوه ناوړه خبره يې مات کړي. انتخاب ستا دی.

ځوانه! که غواړې چې خبرې دې اغېزمنې وي، نو مخکې له دې چې خبرې وکړې، زړه دې پاک کړه. نورو ته ارزښت ورکول د دين، عقل او انسانيت ګډ درس دی. څوک چې خلکو ته ګټه رسوي، الله ﷻ ته نږدې کېږي. خدمت يوازې په پيسو نه وي؛ يو ښه نظر، مهربانه مشوره، يا چوپ ملاتړ هم لوی ارزښت لري.

په پای کې ياد ولره! ته به نه په دې وپېژندل شې چې څومره خلک دې مات کړي، بلکې په دې به وپېژندل شې چې څومره انسانان دې پورته کړي دي.

ځان جوړ کړه، خو نورو ته سپکاوی مه کوه.

لوړ شه، خو د نورو لاس ونيسه. که غواړې ارزښتمن واوسې، نورو ته ارزښت ورکړه.

**۲۱- د اسلام او ټولنې خدمت وکړه**

ځوانه! ژوند يوازې ځان ته نه دی، بلکې د اسلام او ټولنې خدمت کول هم ستا د مسؤليت برخه ده. ستا پوهه، طاقت، استعدادونه او وخت ټولنې ته د ګټور کار لپاره استعمالولای شې. د اسلام خدمت د اخلاقي لارښوونو عملي کول دي او د ټولنې خدمت د انسانانو د ژوند ښه کول دي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



کله چې ته خپل عمل د خير لپاره وقف کړې، نو نه يوازې د نورو ژوند اسانه کوې، بلکې خپل شخصيت، عزت او روح هم قوي کوې. د اسلام او ټولنې خدمت کول د خوشحالۍ او سکون سرچينه ده، ځکه چې انسان د خپلو کارونو له لارې د نورو مرسته کوي.

د خپل ښو اخلاقو په ښودلو سره خلک تربيه کړه. د زده کړې او مهارتونو له لارې ټولنې ته ګټه ورسوه. د بې وزلو، ناروغانو، يتيمانو او ضعيفانو مرسته وکړه.

ځوانه! هر څوک چې د اسلام او ټولنې خدمت کوي، هغه خپل ژوند ته معنا ورکوي، د خلکو د عزت سبب ګرځي او د خپل راتلونکې لپاره غوره لارې جوړوي.

**۲۲- اخرت ته متوجه شه**

ځوانه! ژوند لنډ او د امتحانونو ډک دی، خو د دې دنيا هره شېبه اخرت ته د تياري لپاره مهمه ده. که ته يوازې د دنيا په چارو بوخت اوسې، نو د تل پاتې ژوند لپاره به تيار نه وې. اخرت ستا د عملونو او انتخابونو پايله ده، نو هره ورځ هڅه وکړه چې ستا کړنې د الله ﷻ رضا لپاره وي. اخرت ته متوجه کېدل ستا فکر، زړه او عملونه پاکوي. دا د سکون، خوشحالۍ او بريا سرچينه ده. هر ښه عمل چې وکړې، هر نيکه خبره چې ترسره کړې، ستا د تل پاتې ژوند خزانه جوړېږي.

د خپلو کړنو په اړه فکر وکړه او د الله ﷻ رضا لپاره ښه کړه. نيکو اعمالو ته لومړيتوب ورکړه لکه لمونځ، صدقه، د اسلام خدمت او د

Made with Xodo PDF Reader and Editor



خلکو سره ښه چلند. دنیا ته د تېر وخت په توګه وګوره او تل د آخرت لپاره تیاری وکړه.

ځوانه! اخرت ته متوجه کېدل ستا د ژوند حقیقي معنا پیدا کوي، ستا روح خوشحالوي او ستا راتلونکی د الله ﷻ په رحمت کې خوندي کوي.

[إِنْ أُرِيدُ إِلَّا الْإِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا بِاللَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ] هود (88)

اختتام 1447/8/11/ شعبان 11/ ورځ جمعه 10:30 بجې

بتوفیق الله تعالی

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## مأخذونه


١ـ الـقـرآن الـكـريـم

٢ـ معالم التنزيل في تفسير القرآن = تفسير البغوي
المؤلف: محيي السنة، أبو محمد الحسين بن مسعود البغوي
(المتوفى: 510هـ)

٣ـ روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني

المؤلف : محمود الألوسي أبو الفضل :الناشر دار إحياء التراث العربي - بيروت

٤ـ روح البيان المؤلف: إسماعيل حقي بن مصطفى الإستانبولي الحنفي الخلوتي , المولى أبو الفداء (المتوفى: 1127هـ) الناشر: دار الفكر – بيروت

٥ـ تفسير السعدي تأليف:عبد الرحمن بن ناصر بن عبد الله المعروف بابن سعدي

٦ـ تفسيرالسراج المنير المؤلف : محمد الشربيني الخطيب

٧ـ معارف القران المؤلف مفتي اعظم پاکستان مولانا محمد شفيع

٨ـ عزيزالتفاسير مؤلف ابوحذيفه سلطان عـزيـز:الناشردارالكنوز العلمية

٩ـ الصحيح البخاري: لمؤلف : محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة البخاري، أبو عبد الله (المتوفى : 256هـ)

١٠ـ الصحيح المسلم:تاليف للامام ابي الحسين مسلم ين حجاج بن مسلم القشيرى النيسابوري (المتوفى 261 هـ )

١١ـ سنن الترمذي المؤلف : محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، الترمذي، أبو عيسى (المتوفى : 279هـ)

Made with Xodo PDF Reader and Editor



١٢ـ : سنن ابن ماجه المؤلف : محمد بن يزيد أبو عبدالله القزويني الناشر : دار الفكر – بيروت

١٣ـ السنن الكبرى المؤلف : أبو عبد الرحمن أحمد بن شعيب بن علي النسائي

(المتوفى : 303هـ)

١٤ـ عمدة القاري شرح صحيح البخاري المؤلف: أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الغيتابى الحنفى بدر الدين العينى (المتوفى: 855هـ) الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت

١٥ـ مسند الصحابة في الكتب التسعة

١٦ـ المعجم الكبير المؤلف: سليمان بن أحمد بن أيوب بن مطير اللخمي الشامي، أبو القاسم الطبراني (المتوفى: 360هـ)

١٧ـ معجم ابن عساكر معجم الشيوخ تأليف الإمام الحافظ أبي القاسم علي بن الحسن بن هبة الله الشافعي المعروف بابن عساكر496- 571 هـ

١٨ـ : مسند الإمام أحمد بن حنبل المؤلف : أحمد بن حنبل أبو عبدالله الشيباني

الناشر : مؤسسة قرطبة – القاهرة

١٩ـ سبل السلام المؤلف : محمد بن إسماعيل الأمير الكحلاني الصنعاني (المتوفى : 1182هـ) الناشر : مكتبة مصطفى البابي الحلبي

٢٠ـ جامع بيان العلم وفضله المؤلف: أبو عمر يوسف بن عبد الله بن محمد بن عبد البر بن عاصم النمري القرطبي (المتوفى: 463هـ)

٢١ـ جامع الأحاديث) المؤلف: عبد الرحمن بن أبي بكر، جلال الدين السيوطي (المتوفى: 911هـ)

٢٢ـ شرح الأربعين النووية للشيخ العلامة : محمد بن صالح العثيمين رحمه الله

Made with Xodo PDF Reader and Editor



٢٣ـ فتح الباري المؤلف : أبو الفضل أحمد بن علي بن محمد بن أحمد بن حجر العسقلاني (المتوفى : 852هـ)

٢٤ـ اللؤلؤ والمرجان فيما اتفق عليه الشيخان المؤلف: محمد فؤاد بن عبد الباقي بن صالح بن محمد (المتوفى: 1388هـ)

٢٥ـ المسند المستخرج على صحيح الإمام مسلم المؤلف: أبو نعيم أحمد بن عبد الله بن أحمد بن إسحاق بن موسى بن مهران الأصبهاني (المتوفى: 430هـ)

٢٦ـ مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح المؤلف: علي بن (سلطان) محمد، أبو الحسن نور الدين الملا الهروي القاري (المتوفى: 1014هـ)

٢٧ـ رياض الصالحين المؤلف : أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي (المتوفى : 676هـ)

٢٨ـ شرح صحيح البخاري المؤلف : شمس الدين السفيري

٢٩ـ الإبانة الكبرى لابن بطة المؤلف : ابن بطة العكبري

٣٠ـ : غاية المنة في إتمام تمام المنة

٣١ـ لإبهاج في شرح المنهاج تأليف: تقي الدين علي بن عبد الكافي السبكي و ولده تاج الدين عبد الوهاب بن علي السبكي 756هـ الناشر: دار الكتب العلمية – بيروت

٣٢ـ لإحكام في أصول الأحكام المؤلف: أبو الحسن سيد الدين علي بن أبي علي بن محمد بن سالم الثعلبي الآمدي (المتوفى: 631هـ)

٣٣ـ التقرير والتحبير المؤلف : ابن أمير الحاج ، محمد بن محمد (المتوفى : 879هـ)

٣٤ـ الفوائد : الإمام شمس الدين أبي عبد الله بن قيم الجوزية

٣٥ـ قيمة الزمن عند العلماء المؤلف: عبد الفتاح أبو غدة الحلبي الحنفي (المتوفى: 1417هـ)

Made with Xodo PDF Reader and Editor




۳۶ـ الأمر بالمعروف والنهي عن المنكر المؤلف : شيخ الإسلام تقي الدين أحمد بن عبد الحليم ابن تيمية

۳۷ـ رفع المنارة لتخريج أحاديث التوسل والزيارة بقلم محمود سعيد ممدوح عفا الله تعالي عنه دار الامام النووي

۳۸ـ فتح العزيز شرح الوجيز وهو الشرح الكبير للامام ابي القاسم عبد الكريم بن محمد الرافعي المتوفى سنة 623 هـ..

۳۹ـ سير أعلام النبلاء المؤلف: شمس الدين أبو عبد الله محمد بن أحمد بن عثمان بن قَايْماز الذهبي (المتوفى: 748هـ)

۴۰ـ قصه هاى اسلامى و تكه هاى تاريخى

۴۱ـ نشوة الطرب في تاريخ جاهلية العرب المؤلف: ابن سعيد الأندلسي

۴۲ـ معجم الشعراء العرب المؤلف: تم جمعه من موقع الموسوعة الشعرية

۴۳ـ فتوح البلدان المؤلف: أحمد بن يحيى بن جابر بن داود البَلَاذُري (المتوفى: 279هـ) الناشر: دار ومكتبة الهلال- بيروت

۴۴ـ البدء والتأريخ للقدسي

۴۵ـ البداية والنهاية :للامام الحافظ ابي الفداء اسماعيل بن كثيرالدمشقي المتوفى سنة 774 هـ.

۴۶ـ مرآة الجنان وعبرة اليقظان في معرفة ما يعتبر من حوادث الزمان المؤلف: أبو محمد عفيف الدين عبد الله بن أسعد بن علي بن سليمان اليافعي (المتوفى: 768هـ)

۴۷ـ صلاح الدين الأيوبي وجهوده في القضاء على الدولة الفاطمية وتحرير بيت المقدس د. علي محمد محمد الصَّلاَّبي

۴۸ـ الوفيات والأحداث المؤلف: عضو ملتقى أهل الحديث / الباحث - غفر الله له

Made with Xodo PDF Reader and Editor




۴۹ـ سرزمين اسلام

۵۰ـ تاريخ الإسلام ووفيات المشاهير والأعلام المؤلف: شمس الدين أبو عبد الله محمد بن أحمد بن عثمان بن قَايْماز الذهبي (المتوفى: 748هـ)

۵۱ـ أسد الغابة في معرفة الصحابة المؤلف: أبو الحسن علي بن أبي الكرم محمد بن محمد بن عبد الكريم بن عبد الواحد الشيباني الجزري، عز الدين ابن الأثير (المتوفى: 630هـ)

۵۲ـ الإصابة في تمييز الصحابة المؤلف: أبو الفضل أحمد بن علي بن محمد بن أحمد بن حجر العسقلاني (المتوفى: 852هـ)

۵۳ـ معرفة الصحابة المؤلف: أبو نعيم أحمد بن عبد الله بن أحمد بن إسحاق بن موسى بن مهران الأصبهاني (المتوفى: 430هـ)

۵۴ـ اليواقيت العشرية من كلام خير البرية المؤلف : أبو يوسف محمد زايد

۵۵ـ الأندلس من الفتح إلى السقوط المؤلف: راغب الحنفي راغب السرجاني

۵۶ـ نن ټکی اسيا

۵۷ـ واسع ويب

۵۸ـ شريعت ورځپاڼه

۵۹ لاتحزن : مه خپه کيږه

Made with Xodo PDF Reader and Editor

**ضروري خبرتیا:** لوستونکي که ته هم نوي کتابونه لرې او تراوسه
نوي PDF شوې ، نو سکن يې کړئ د ثواب په نیت او موږ ته يې را
واستوه چې موږ يې ترزر هاوو مسلمانانو ورسوو ، او سکن کول
دومره سخت کارنده . یا هم لیکوال یاست که مو ناول یا هم هر
قسم کتابونه لیکلي وي ، په خپرولو کې موږ مرسته درسره کوو ،
ان شاء الله چې تاسو اجازه راکړئ موږ به يې نشر کړو که په هره
ژبه او هره برخه کې وي ، تر څو موږ يې له نورو مسلمانانو سره
شریک کړو او په ثواب کې سره شریک شو ، او ما سره په دغه
لاندې نمبر په ټلیګرام کې رابطه کولای شئ : +93789212634 📱

**یادونه :** ورورڼو / خویندو که تراوسه هم زموږ سره نه یاست
یو ځای شوي نو په فیسبوک او ټلیګرام کې مو په سرچ سره
پیدا کولای شئ یواځې په پښتو یا هم انګلیسي رحماني کتابتون
ولیکئ پیدا به مو کړئ او په ټلیګرام کې مو د لاندې بټني او
یوزرنیم یا سرچ سره پیدا کړئ او که په واټساپ کې له موږ
سره یوځای کیږي په هغه پورته نمبر رابطه وکړئ چې لینک
درکړم او بل خپل ملګري مو هم درسره راولئ ، زموږ د کتابتون
کورنۍ تاسو ته سترګي په لاره ده نو ژر له دغي خوږي کورنۍ
سره یوځای شئ.!

Join

@RahmaniLibrary1
@PaktekawalAfghan